تعلیم الاسلام

تعليم الاسلام طلائي لړۍ
پنځمه شماره

# د چا مرید سم؟

مؤلف
مولوي محمد عمر خطابي

Download from:aghalibrary

خپرونکی
تعليم الاسلام اداره
کندهار-افغانستان

www.taleemulislam.net

# فهرست

مقدمه........................................................................................١
لومړی فصل ............................................................................................٨
د بيعت ډولونه .......................................................................................٨
د ايمان بيعت .........................................................................................٨
اجمالي ايمان:..........................................................................................٩
تفصيلي ايمان:.........................................................................................١٠
لومړی رکن توحيد : يعني امنت بالله- پر الله جل جلاله ايمان لرم -...........١١
دوهم رکن: و ملائکته - او د الله جل جلاله پر ملايکو ايمان لرم -.............١٣
دريم رکن: و کتبه - او د الله جل جلاله پر کتابونو ايمان لرم -..................١٤
څلورم رکن: و رسله - او د الله جل جلاله پر رسولانو ايمان لرم -...............١٧
پنځم رکن: و اليوم الاخر- او د آخرت پر ورځ ايمان لرم-..........................١٨
شپږم رکن تقدير:......................................................................................١٨
دوهم فصل ...............................................................................................٢٠
د خلافت بيعت .........................................................................................٢٠
دريم فصل..................................................................................................٣٢
د جهاد بيعت..............................................................................................٣٢
د حديبيې د صلحې درې مادې:.....................................................................٤٥
څلورم فصل ...............................................................................................٤٨
د إرشاد بيعت ............................................................................................٤٨
فقه څه ته وايي؟.........................................................................................٥٠
شريعت څه ته وايي؟...................................................................................٥١

طريقت څه ته وايي؟ ........................................................................ ٥٢
د طريقت مقصد:........................................................................ ٥٥
الله تعالی په څه شي راضي کيږي؟ ........................................................................ ٥٥
د صحابه کرامو بيعت:........................................................................ ٥٦
د بيعت د اول جزء تشريح: ........................................................................ ٥٧
د مخکني مطلب لنډيز : ........................................................................ ٨٠
پنځم فصل ........................................................................ ٨٣
د کامل شيخ صفات ........................................................................ ٨٣
د کامل شيخ اول صفت- علم الکتاب و السنة: ........................................................................ ٨٣
د کامل شيخ دوهم صفت- اتباع السنة:........................................................................ ٨٥
بدعت ........................................................................ ٨٧
د بدعت تعريف: ........................................................................ ٨٧
د بدعتي پېژند نښې: ........................................................................ ٩٧
د کامل شيخ دريم لازمي صفت-الامر بالمعروف و النهي عن المنکر:........... ٩٩
د کامل شيخ څلورم لازمي صفت- الزهد فی الدنيا:................................ ١٠٣
د کامل شيخ پنځم لازمي صفت- تقوا:........................................................................ ١٠٦
د تقوا مرتبې:........................................................................ ١٠٦
باطل وهمونه ........................................................................ ١٠٧
شپږم فصل ........................................................................ ١١٢
د ولي تعريف........................................................................ ١١٢
د ولايت غلط معيارونه:........................................................................ ١١٦
نسبي ولايت:........................................................................ ١٢٣
خارق العادة کارونه:........................................................................ ١٢٧

اووم فصل............................................................................................١٣٢
د داعي په وړاندي ننګوني...........................................................................١٣٢
اول - تهمت:..........................................................................................١٣٥
زيارة القبور:...........................................................................................١٣٧
دوهم - خلک د دعوت د اورېدلو څخه منع کول: .................................١٤٢
دريم - پارول: .........................................................................................١٤٣
څلورم – تهديد: ......................................................................................١٤٣
پنځم - مناظره اخلالول:...........................................................................١٤٤
شپږم - منل سوو اشخاصو ته ځان منسوبول: ......................................١٤٦
خورده:..................................................................................................١٤٩
مقابله کوونکي ډلي:...............................................................................١٥٦
خاتمه ...................................................................................................١٥٩
د تبليغي جماعت د کار طريقه: ...............................................................١٦٦
متوارده اذکار:........................................................................................١٧٤
عام ذکرونه :.........................................................................................١٧٥

## مقدمه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين و الصلاة و السلام على نبينا محمد سيد المرسلين و على آله و صحبه و من تبعهم باحسان الي يوم الدين اما بعد: فقد قال الله تعالى: **إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ (القصص – ۵۶)**.

هدايت او ضلالت د الله تعالى لخوا دى ( ) الله تعالى، چي د چا لپاره د هدايت فيصله کړې وي، هغه هيڅوک نسي گمراه کولاى او د چا لپاره چي يې د ضلالت فيصله کړې وي، هيڅوک هغه پر سمه لاره نسي روانولاى.[۱]

خو د دې سره به بنده گان د هدايت اسباب پلټي او د الله تعالى څخه به د هدايت غوښتنه کوي؛ ځکه دنيا د اسبابو ځاى دى، په اسبابو د تقدير خلاف شى نه واقع کيږي، بلکي په اسبابو هماغه شى واقع کيږي کوم چي په تقدير کي راغلى وي.

د هدايت او اصلاح د اسبابو څخه يو هم د نيکانو او صالحانو صحبت او ملگرتيا ده ، د صحيح مرشد سره بيعت کول د همدغه اصل پر بنياد ښه گڼل کيږي؛ ځکه د صالحانو د صحبت او ملتيا څخه څوک داسي ښه تاثر اخلي،

[۱] مَنْ يَهْدِ اللَّهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَنْ تَجِدَ لَهُ وَلِيًّا مُرْشِدًا. (الكهف– ۱۷)

لکه د عطر خرڅوونکي په دوکان کي چي څوک عطر يا  خوشبويي لاس ته راوړي (١).

لکه څه ډول چي د طبيب او ډاکټر په لباس کي غير مسلکي او بې باوره کسان ليدل کيږي ، هغوی له يوه اړخه د مريضانو مالونه لوټوي او له  بله اړخه په ناسمه دوا د ناروغ صحت نور هم ور تباه کوي.

دغه ډول د پيرانو په لباس کي هم يو شمېر نااهل کسان خانقاوي پرانيزي ، د پيرۍ جنډۍ  پر دربار دروي ، ځان د مرشد په صفت معرفي کوي ، د درواغو په تبليغاتو او په شيطاني تلبيساتو عوام تېر باسي ، د مريدۍ په نامه يې د غلامۍ پړی غاړي ته اچوي ، د دروږ په نامه ججه ځني اخلي ، د الله تعالی د بنده ګۍ پر ځای يې د ځان بنده جوړوي ، بالآخره ئې دنيا او آخرت دواړه ورتباه کوي.

نو لکه څه ډول چي پر ناروغ لازمه ده، چي په پوه ډاکټر خپل علاج وکړي؛ ځکه په ناپوه طبيب علاج کول يوازي د پيسو تاوان نه دی، بلکي ډېر ځله ناروغ قبر ته هم ليږي، دغه ډول پر هغو کسانو هم لازمه ده کوم چي د ځانونو د اصلاح او تزکيې لپاره د پير او مرشد په تلاښ کي دي ، چي په پټو سترګو د چا سره بيعت ونه کړي، لومړی دغي پوښتني - د چا مريد سم ؟ - ته صحيح جواب ومومي.

---

١ عَنْ أَبِي مُوسَى ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ : مَثَلُ الْجَلِيسِ الصَّالِحِ وَالسَّوْءِ كَحَامِلِ الْمِسْكِ وَنَافِخِ الْكِيرِ فَحَامِلُ الْمِسْكِ إِمَّا أَنْ يُحْذِيَكَ وَإِمَّا أَنْ تَبْتَاعَ مِنْهُ وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيحًا طَيِّبَةً وَنَافِخُ الْكِيرِ إِمَّا أَنْ يُحْرِقَ ثِيَابَكَ وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ رِيحًا خَبِيثَةً.( البخاري )

ځکه د تش په نامه پیر په صحبت او بیعت کي اصلاح نه راځي بلکي ډېر ځله د بدعتي او نا اهل پیر مریدي ایمان ته گوابن او خطر گرځي او مرید گمراه کوي .

د طلایي لړۍ په پنځمه شماره کي چي - د چا مرید سم؟ - په عنوان ده ان شاء الله تعالی د بیعت ډولونه او مقاصد ، د رښتیني پیر صفات ، د اولیاؤ تعریف او یو شمېر نور مسایل ذکر کوو، تر څو دغي پوښتني – د چا مرید سم ؟ - ته مرید خپله صحیح جواب ورکولای سي.

یوازي ددې کتاب لوستل نه بلکي د هر علمي کتاب لوستل غور او انصاف غواړي ، حتی قران عظیم الشان چي د هدایت کتاب دی( ) که ئې څوک په غور او انصاف و نه لولي، هغوی هدایت نسي ځني حاصلولای. ١

سعید او نیکبخته انسان ته چي خپله اشتباه څرگنده سي، نو سمدستي د هغه تدارک او اصلاح کوي ، د نصیحت کوونکي څخه مننه کوي او د احسان په بدل کي دعاء ورته کوي.

شقي او بدبخته انسان بیا د دې بر عکس پر خپل غلط دریځ پاتیږي او د نصیحت کوونکي سره عداوت او دښمني پیلوي .

وما توفیقي الا بالله و هو حسبي و نعم الوکیل.

---

١ إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا. (٩ الاسراء)

# لومړی فصل

## د بيعت ډولونه

بيعت څلور ډوله دی : اول د ايمان بيعت، دوهم د خلافت بيعت، دريم د جهاد بيعت او څلورم د إرشاد بيعت.

## د ايمان بيعت

د رسول الله صلى الله عليه و سلم په زمانه کي چي به چا ايمان راوړی، نو هغه به خپل ښی لاس د رسول الله صلى الله عليه و سلم په لاس کي ورکړی او د شهادت کلمه به يې وويل، دغه ته د ايمان بيعت وايي.

د ايمان د بيعت ډېر مثالونه په احاديثو کي ذکر سوي دي، د مثال په ډول : عمرو بن العاص رضي الله عنه وايي: الله تعالى چي څه مهال زما په زړه کي د اسلام حقانيت راواچاوه، زه نبي عليه السلام ته ورغلم ورته ومي ويل: اې د الله رسوله! ښی لاس را اوږد کړه چي بيعت در سره وکړم، هغه لاس را اوږد کړ ما لاس ځني ټول کړ، هغه راته وويل: اې عَمره! څه درپېښه سوه؟ ما ورته وويل: شرط ږدم، هغه راته وويل: څه شرط ږدې؟ ما ورته وويل: پدې شرط ايمان راوړم، چي الله جل جلاله بخښنه را ته وکړي، هغه را ته وويل:

اې عَمره! ته پدې نه يې خبر، چي اسلام مخکني ګناهونه له منځه وړي؟( )

---

[1] عن ابن شماسة قال: حضرنا عمرو بن العاص و هو في سياقة الموت فبكى طويلا و قال: فلما جعل الله الإسلام في قلبي أتيت النبي صلى الله عليه و سلم فقلت: يا رسول الله أبسط يمينك لأبايعك فبسط يده فقبضت يدي فقال: مالك يا عمرو؟ قال: أردت أن أشترط قال: تشترط

اوس هم چي کافر اسلام راوړي که د مسلمان په لاس کي لاس ورکړي د شهادت کلمه ووايي، دغه ته البيعة على الايمان وايي.

**اجمالي ايمان:**

د شهادت كلمه يعني : أشهد أن لا إله إلا الله و أشهد أن محمدا عبده و رسوله ، دغه ډول طيبه کلمه يعني لا إله إلا الله محمد رسول الله، چي کافر ووايي او په زړه باور په وکړي، پدې سره د کافر ټول مخکني گناهونه له منځه ځي، د اسلام په سپېڅلي دين کي داخليږي او د ايمان شرف ورته حاصليږي.

د کلمې ويل او په زړه يې منل، په اجمالي ډول د ټولو ايمانياتو او اسلامي عقايدو منل او پر هغو اعتراف او إقرار کول دي؛ ځکه د کلمې اوله برخه يعني لا إله إلا الله ، ويل او منل د الله تعالى د وحدانيت منل او پر هغه اعتراف کول دي او د کلمې دوهمه برخه يعني محمد رسول الله ، ويل او منل د محمد صلى الله عليه و سلم د رسالت منل او پر هغه اعتراف کول دي. څوک چي د محمد صلى الله عليه و سلم رسالت ومني، نو هغه پر محمد صلى الله عليه و سلم باندي نازل سوى کتاب قرانکريم او په هغه کي بيان سوي ټول عقايد او اسلامي احکام مني.

---

ماذا ؟ قال : أن يغفر لي قال : أما علمت يا عمرو أن الإسلام يهدم ما كان قبله و أن الهجرة تهدم ما كان قبلها و أن الحج يهدم ما كان قبله. (صحيح ابن الخزيمة).

**تفصيلي ايمان:**

په صحيح مسلم کي د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت را نقل سوی دی وايي: موږ يو ورځ د رسول الله صلی الله عليه و سلم سره ناست وو ، يو کس رابنکاره سو ، تکي سپيني جامې يې اغوستي وې ، تک تور وربښتان يې وه ، د سفر اثر نه پر ښکاريده، او په موږ کي هم چا نه پيژانده ، رسول الله صلی الله عليه و سلم ته کښېنستی ، زنګونه يې د هغه زنګونو ته تکيه کړل او لاسونه يې پر خپلو ورنونو کښېښوول.

دغه کس جبرئيل عليه السلام وو د انسان په شکل کي راغلی وو، د رسول الله صلی الله عليه و سلم څخه يې لومړی د اسلام بيا د ايمان بيا د احسان بيا د قيامت د ورځي پوښتني وکړې، رسول الله صلی الله عليه و سلم يې هري پوښتني ته په تفصيلي ډول جواب ورکړ ، څو د سوال او جواب په شکل امت ته د دين دا مهم شيان وښيي؛ ځکه د مسلمان لپاره تر هر شي زيات دا مهمه ده چي ايمان ، اسلام او اخلاص وپيژني او د قيامت د ورځي په اړه معلومات ورته حاصل سي.

د ايمان په اړه يې پوښتنه داسي وه : قَالَ فَأَخْبِرْنِي عَنِ الإِيمَانِ. ما په ايمان خبر کړه.

رسول الله صلی الله عليه و سلم په جواب کي ورته وويل:

**أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ وَمَلاَئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ.**

ايمان دا دی چي ته د الله تعالی وحدانيت ، د الله تعالی ملايکي ، کتابونه ، رسولان او د آخرت ورځ ومنې او د خير او د شر پر تقدير باور ولرې.

پدغه حديث کي شپږ شيان ذکر سوي دي همدا شپږ شيان د اسلامي عقيدې عمده شيان دي ، که څوک يې ومني هغه مومن دی.

په قران كريم كي د اسلامي عقيدې همدا شپږ اركان هم په اجمالي ډول او هم په تفصيلي ډول ذكر سوي دي [1]

كه څوک د اهل السنة و الجماعة د عقيدې هر كتاب ولولي، دغه شپږ شيان به حتما پكښې ومومي، البته په اثبات كي به يې چا په تفصيلي ډول دلايل ذكر كړي وي چا به په اجمالي ډول ذكر كړي وي ، چا به نقلي او عقلي دواړه دلائل ذكر كړي وي، چا به پر نقلي دلايلو يا پر عقلي دلايلو بسنه كړې وي، چا به د دغو شپږو شيانو ډېر جزئيات ذكر كړي وي، چا به يې لږ جزئيات ذكر كړي وي.

خو په څونه تفصيل او دلائلو چي دغه شپږ شيان په قران كريم كي ذكر سوي دي په بل هيڅ كتاب كي پداسي اندازه نه دي ذكر سوي دا ځكه چي قران عظيم الشان د مؤمنانو لپاره تر ټولو ستر او په دلائلو ثابت د الله تعالى د معرفت او د اسلامي عقيدې كتاب دی.

**لومړی ركن توحيد : يعني امنت بالله – پر الله جل جلاله ايمان لرم –**

په قران عظيم الشان كي د الله تعالى د وحدانيت د اثبات لپاره د مخكنيو رسولانو ويناوي رانقلي سوي دي چي هغوی خپلو امتونو ته د الله تعالى د وحدانيت د منلو دعوت وركاوه ، دغه ډول په قرانكريم كي را[2]نقل سوي دي چي په مخكنيو كتابونو كي هم د الله تعالى وحدانيت بيان سوی دی ، دغه د

---

[1] آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ (٢٨٥ البقرة )

[2] وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ. (٢٥ الانبياء )

مخکنيو کتابونو او نبيانو ويناوي چي په قران پاک کي رانقلي سوي دي دا د توحيد د اثبات لپاره نقلي دلايل او ثبوتونه دي .

په قران پاک کي په ډېر تفصيل د انسانانو او د نورو مخلوقاتو د پيدايښت يادونه سوې ده ، دغه ټول مخلوقات او کائنات د الله تعالی د وحدانيت، علم ، قدرت او نورو سپېڅلو صفاتو لپاره عقلي دلائل دي.[1]

قران عظيم الشان د الله تعالی د نومونو او صفاتو د معرفت کتاب دی ، پدې سپېڅلي کتاب کي د الله تعالی نومونه او صفات ذکر سوي دي، د الله تعالی په صفاتو کي يو شمېر هغه ځانګړې او خاص صفات هم ذکر سوي دي، کوم چي بيله الله تعالی څخه يې بل چا ته ثابتول کفر او شرک بلل کيږي لکه د غيبو علم چي د الله تعالی څخه ماسيوا بل چا ته ثابت ندي.[2]

---

[1] وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَكُمْ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ إِذَا أَنْتُمْ بَشَرٌ تَنْتَشِرُونَ (٢٠) وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ (٢١) وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَانِكُمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِلْعَالِمِينَ (٢٢) وَمِنْ آيَاتِهِ مَنَامُكُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَابْتِغَاؤُكُمْ مِنْ فَضْلِهِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَسْمَعُونَ (٢٣) وَمِنْ آيَاتِهِ يُرِيكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَيُحْيِي بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ. (٢٤ الروم )

[2] قُلْ لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ. (٦٥ النمل )

**دوهم ركن: و ملائكته – او د الله جل جلاله پر ملايكو ايمان لرم –**

دغه ډول په قرانكريم كي ملايكي معرفي سوي دي، چي هغوى د الله تعالى د امر څخه مخالفت نه كوي بس هغه كوي كوم چي امر يې ورته كيږي[1] ځيني ملايكي په نامه يادي سوي دي او د ځينو ملايكو دندي ذكر سوي دي.

په ملايكو كي نر او ښځه نسته او نه هم يو د بل څخه زيږيدلي دي او نه هم خوراک او څيښاک كوي ، تل د الله تعالى تسبيح او تقديس بيانوي؛ خو د عبادت تر څنگ يو شمېر تكويني كارونه هم ورسپارل سوي دي ، د مثال په ډول غرونه ځان ته ملايكي لري ، د رحم لپاره ځان ته ملايكي گمارلي سوي دي، د جهنم ساتونكي ځان ته ملايكي دي ، د اسمانونو په دروازو كي ځان ته ملايكي دي او داسي نوري دندي مختلفو ملايكو ته سپارل سوي دي، لكه څنگه چي ئې په قرانكريم او نبوي احاديثو كي يادونه سوې ده، هري ملايكي ته چي كومه دنده سپارل سوې ده د خپل واک په دائره كي په هغو كارونو كي د الهي حكم مطابق تصرف كولاى سي.

الله تعالى ملايكو ته د شهوت او غضب قوه نه ده وركړې، له همدې امله په هغو كي د كفر او نافرمانۍ ماده نسته، خو انسانانو او پيريانو ته ئې د عقلاني قوت تر څنگ د شهوت او غضب قوت هم وركړى دى ، له همدې امله په پيريانو او انسانانو كي كافران هم سته؛ ځكه كله چي د عقل قوت د شهواني او غضبي قوت په وړاندي مغلوب سي نو د الله تعالى د حكم څخه نافرماني

---

[1] عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ. (۶ التحريم )

[2] وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ (۱۰) كِرَامًا كَاتِبِينَ (۱۱) يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ. ( ۱۲ الانفطار )

او ګناه کوي ، همداسي په انسانانو او پيريانو کي نارينه او ښځينه سته او يو له بل څخه زيږي ، خوراک او څيښاک کوي، چي دا د ملايکو سره د انسانانو او پيريانو بل توپير دی.

الله تعالی پيريان او انسانان د خپل عبادت لپاره پيدا کړي دي [1] ، کوم اسباب او وسايل چي الله تعالی د دوی په اختيار کي ورکړي دي د هغو څخه د خپل ژوندانه د اړتياوو د پوره کولو لپاره کار اخيستلای سي؛ خو تر دغه علاوه د الله تعالی په چارو کي هيڅ ډول تصرف نسي کولای.

په انسانانو کي هيڅا ته هم د يوې سيمي او هيواد دا ډول تصرف نه دی ورکول سوی چي د دنياوي اسبابو پرته څه ډول چي يې زړه وغواړي هغسي تصرف پکښي وکړي ، يوازي الله تعالی هغه قادر ذات دی، چي د يو شي د کولو او پيدا کولو اراده وکړي، نو فقط د - کُن - په ويلو هغه شی پيدا کوي [2] .

**دريم رکن: وکتبه – او د الله جل جلاله پر کتابونو ايمان لرم –**

دغه ډول په قرانکريم کي د مخکنيو کتابونو او د قران عظيم الشان د ربښتينتوب او حقانيت دلايل( [3] ) په تفصيل سره بيان سوي دي، همدا ډول

---

[1] وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ. (٥٦ الذاريات )

[2] إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ (٨٢) فَسُبْحَانَ الَّذِي بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ (٨٣ يس )

[3] أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا. (٨٢ النساء)

تورات، انجيل او زبور چي پر کومو رسولانو نازل سوي دي د هغو يادونه هم په قران کريم کي سوې ده.

موږ پر مخکنيو کتابونو په اجمالي ايمان مکلف يو يعني داسي عقيده بايد ولرو: الله تعالی چي کوم کتابونه او صحيفې پر مخکنيو رسولانو نازلي کړي دي، هغه ټول حق او رښتيني دي او موږ ايمان پر لرو.

په ځينو حديثونو کي د صحيفو شمېر سل ذکر سوی دی؛ خو دغه احاديث د متواترو او قوي حديثونو د جملې څخه ندي، نو د صحيفو شمېر يقيني معلوم او ټاکلی نه دی؛ خو دا چي پر ټولو نازلو سوو کتابونو ايمان راوړل په قطعي دلايلو ثابت دی او شمېر يې په قطعي دلايلو ثابت نه دی، لهذا مؤمنان مخکني کتابونه په عدد کي نه منحصروي، بلکي دغسي اجمالي ايمان پر راوړي لکه پدغه ايت کي: **وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَبِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ (البقرة – ٤ )** چي ذکر سوی دی.

او(اې محمده صلى الله عليه وسلم!) هغه کسان، چي پر هغه څه ايمان لري، چي پر تا نازل سوي دي او پر هغه څه ايمان لري، چي ستا څخه مخکي نازل سوي دي، او د آخرت پر ورځ يقين لرونکي وي.

دغه ډول مؤمنان د مخکنيو کتابونو پر محتوا هم په اجمالي ايمان مکلف دي، يعني په هغو کتابونو کي چي کوم څه بيان سوي دي هغه ټول د الله تعالی وينا او کلام دی.

ځکه مؤمنانو ته د مخکنيو کتابونو څخه داسي يو کتاب په معتمد سند نه دی را رسېدلی، چي هغه دي پر خپل اصلي حالت پاته وي.

همدا وجه ده څه مهال چي یهودانو تورات په عبراني لوستی په عربي ژبه يې مسلمانانو ته تشریح کاوه ، رسول الله صلی الله علیه و سلم صحابه کرامو ته وفرمایل : تاسو د اهل کتابو مه[1]تصدیق کوئ او مه يې تکذیب کوئ، بلکي داسي وایاست موږ ایمان پر هغه کتاب لرو، چي پر موږ نازل سوی دی او هم پر هغو کتابونو ایمان لرو، چي د قرانکریم څخه مخکي نازل سوي دي.

ځکه یهودانو په تورات کي تحریف او لاسوهنه کړې وه، نو دوی چي به تورات ژباړی هغه ممکن د دوی تحریف سوې وینا وای یا ممکن د تورات اصلي وینا وای، مؤمنانو ته نه معلومیدل چي کوم يې حق او کوم يې باطله وینا ده، نو مؤمنان د یهودانو او نصرانیانو د تورات او انجیل په استناد خبري نه ردولای سي او نه يې هم منلای سي.

البته اهل الکتاب که د تورات او انجیل داسي خبره ذکر کړي چي هغه په قرانکریم کي هم د تورات او انجیل خبره بلل سوې وي، د هغه بیا تصدیق کوو البته د قرانکریم په اساس يې منو لکه د آل عمران په څلور شپېتم ایت کي چي ذکر سوې ده[2] او که اهل الکتاب موسی علیه السلام یا عیسی علیه السلام ته، یا تورات او انجیل ته د داسي وینا نسبت وکړي چي قران هغه رد

---

[1] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ كَانَ أَهْلُ الْكِتَابِ يَقْرَؤُونَ التَّوْرَاةَ بِالْعِبْرَانِيَّةِ وَيُفَسِّرُونَهَا بِالْعَرَبِيَّةِ لأَهْلِ الإِسْلاَمِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: لاَ تُصَدِّقُوا أَهْلَ الْكِتَابِ، وَلاَ تُكَذِّبُوهُمْ وَقُولُوا {آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنْزِلَ} الآيَةَ.(البخاري)

[2] قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ. (٦٤ ال عمران)

کړې وي نو د هغه بيا رد کوو ، لکه نصرانيان پدې عقيده دي چي عيسى عليه السلام وژل سوی او په دار سوی دی ځکه نو دوی صليب په غاړه ځړوي او د خپلي دغي باطلې عقيدې د اظهار لپاره يې ديني شعار ګرځولی دی خو مؤمنان دا عقيده ردوي ځکه الله تعالی په قرانکريم کي وايي : نه يې وژلی دی او نه يې په دار کړی دی بلکي الله تعالی اسمانونو ته پورته کړی دی .[1]

**څلورم رکن: و رسله – او د الله جل جلاله پر رسولانو ايمان لرم –**

په قران کريم کي يو شمېر رسولان او نبيان په نومونو معرفي سوي دي ، د هغوی معجزې او واقعات ذکر سوي دي، د نورو نومونه او واقعات ندي ذکر سوي، خو پر ټولو نبيانو او رسولانو ايمان لرل فرض دي ، خو دا چي د هغوی شمېر په قطعي دلايلو ثابت نه دی، نو مؤمنان بايد داسي عقيده ولري: هر څونه نبيان او رسولان چي الله تعالی را ليږلي دي هغوی ټول حق او رښتيني دي.

په ځينو حديثونو کي د نبيانو شمېر يو لک او څليرويشت زره بيان سوی دی؛ خو د دغو حديثونو ثبوت قطعي ندی، نو موږ مکلف يو، چي پر ټولو نبيانو او رسولانو باندي په اجمالي ډول ايمان ولرو؛ ځکه د اجمالي ايمان راوړل په قطعي دلايلو ثابت دی.

که څوک د نبيانو شمېر د همدغو حديثونو په استناد بيانوي، نو داسي به وايي: يو لک څليرويشت زره زيات يا کم؛ البته کوم رسولان چي په قرانکريم

[1] ... وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ....( ١٥٧ النساء)

کي په خپلو نومونو معرفي سوي دي، مؤمنان به هغوی هر يو د رسول په صفت مني.

**پنځم رکن: و اليوم الاخر – او د آخرت پر ورځ ايمان لرم–**

د قيامت د ورځي جزئيات چي څونه په قران کريم کي ذکر سوي دي، په بل هيڅ کتاب کي په دغه اندازه ندي ذکر سوي، ابوبکر رضي الله عنه رسول اکرم صلى الله عليه و سلم ته وويل: اې د الله رسوله! وربېښتان دي سپين سوه. د الله رسول ورته وويل: د هود، واقعې ، مرسلات ، عم يتسائلون او اذا الشمس كورت سورتونو مي وربېښتان را سپين کړي دي؛ يعني پدغو سورتونو کي د قيامت د بيروونکي ورځي داسي انځور او تصوير ورکول سوی دی، لکه څوک چي يې په سترګوويني او مشاهده کوي يې( [1] ).

**شپږم رکن تقدير:**

پر دې ايمان لرل، هر څه چي کيږي ټول د الله تعالى د ازلي پريکړي او علم مطابق کيږي [2] .

[1] عن ابن عباس قال : قال أبو بكر رضي الله عنه يا رسول الله قد شبت قال شيبتني هود والواقعة والمرسلات و { عم يتساءلون } و { إذا الشمس كورت } ( الترمذي )

[2]{ إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ (٤٩) أي: ما خلقناه فمقدور ومكتوب في اللوح المحفوظ، قال الحسن: قدر الله لكل شيء من خلقه قدره الذي ينبغي له. البغوي .

والقَدْر والقَدَر : التقديرُ ، وقُرِىء بهما ، أي : خَلَقْنا كلَّ شيء مُقَدَّراً مُحْكَماً مُرَتَّباً على حَسَبِ ما اقْتَضَتْه الحكمةُ أو مُقَدَّراً مكتوباً في اللوح ، معلوماً قبل كونِه قد عَلِمْنا حاله وزمانَه. ( الدر المصنون )

انسانان كه ښه كوي او كه بد كوي ، كه د ښو حالاتو سره مخ كيږي او كه د بدو حالاتو سره مخ كيږي، ټول د الهي تقدير او پريكړي په اساس دي، او پر دې ايمان لرل فرض دي، په ټولو مخلوقاتو كي، چي هر څه را منځ ته كيږي پدغو ټولو الله تعالى د ازل څخه علم لري او د الله تعالى د ازلي ارادې او حكم مطابق دا هر څه كيږي ، كوم شيان چي انسانان[1]ئې نه غواړي؛ خو الله تعالى يې اراده كړې وي هغه به هرومرو پر خپل ټاكلي وخت په خپل ټاكلي مقدار كيږي ، كوم شيان چي انسانان يا نور[2] مخلوقات يې غواړي؛ خو الله تعالى يې واقع كېدل نه غواړي هغه هيڅكله هم نسي واقع كېدلای( ).

---

[1] وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ (٥٩ الانعام)

[2] قُلْ لَنْ يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَانَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ (٥١ التوبة)

[3] إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ (٤٩ القمر) ... وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ (٥٩ الانعام ) وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ. (٢٩ التكوير)

# دوهم فصل

## د خلافت بيعت

مسلمانان بايد په هر عصر او زمانه كي خليفه او امير ولري، دا كه د نړۍ په سطحه امام او امير وي لكه د ابوبكر الصديق , عمر الفاروق، عثمان ذو النورين رضي الله عنهم و ارضاهم د خلافت په دوران كي، چي ټول مسلمانان د خلافت تر يوه چتر لاندي اوسېدل يا د څو هيوادونو په سطحه امير وي لكه د امويانو( ) د خلافت په دور كي[1] يا د يوه هيواد په سطحه امير او حاكم وي لكه په اوسني وخت كي، چي په ډيرو اسلامي هيوادونو كي ليدل كيږي؛ ځكه د امير او حاكم په نه شتون كي ګډوډي را منځ ته كيږي، پر انساني ټولنه ځنګلي قانون مسلط كيږي بيا به د همدې انساني ټولني خلک په خپل منځ كي د ځنګله د درنده ګانو غوندي پياوړی كس ضعيف كس خوري ، مالونه به يې لوټېږي او بې حرمتي به يې كوي ، افغانستان په ١٣٧١ كال كي د كمونستي نظام تر سقوط وروسته د مجاهدينو د خپل منځي اختلاف په نتيجه كي د همدا ډول حالت ژوندی شاهد دی.

---

[1] الدولة الأموية أو الخِلافَةُ الأُمَوِيَّةُ أو دولة بني أمية هي اكبر دولة في تاريخ الاسلام و واحدةٌ من أكبر الدُّوَلِ الحاكِمة في التاريخ .كان بنو أمية أُولى الاسر المسلمة الحاكمة ، إذ حكموا من سنة ٤١ الى ١٣٢ هـ (٦٦٢ الى ٧٥٠ م) وكانت عاصمة الدولة في مدينة دمشق .بلغت الدولة الأموية ذروة اتساعها في عهد الخليفة العاشر هشام بن عبد الملك، إذ امتدت حدودها من أطراف الصين شرقاً حتى جنوب فرنسا غرباً، وتمكنت من فتح افريقية و المغرب و الاندلس و جنوب الغال و السند و ما وراء النهر.

افغانانو د الله تعالی په نصرت د جهادي تنظيمونو په قيادت د شوروي اتحاد امپراطوري دړې وړې کړه ، د کمونستانو - ۷ثور ۱۳۵۷– ۸ثور ۱۳۷۱- خوارلس کلن اشغال يې ختم او ګوډاګی نظام يې ور ړنګ کړ، د پلرونو د غيرت تاريخ يې يو ځل بيا د تاريخ په پاڼو کې وځلاوه.

خو مجاهدين چې پر ټول افغانستان واکمن سول، د مال او واک محبت د زياتو جهادي مشرانو سترګې او غوږونه ړانده او کاڼه کړل، د ارګ يا مرګ شعار او د سيمې د حاکميت شوق د جهاد اهداف ځني هېر کړل ، د شهيدانو د وينو بې حرمتي يې وکړه ، د افغانانو هيلې يې تر خاورو لاندې کړې ، په خپلو منځونو کې په جنګونو اخته سول ، يوه مجاهد د بل مجاهد ورور په مقابل کې د ارګ يا مرګ په شعار جهاد اعلان کړ.

همدا خپل منځي جنګونه په ټول افغانستان کې د ګډوډۍ لامل وګرځېدل ، په عامه اصطلاح ترخَه او پاچهي سوله ، د همدغو بدمرغيو او ګډوډيو د له منځه وړلو په غرض، د افغانانو د سر او مال د تامين په هدف د طالبانو اسلامي تحريک - په ۱۳۷۳هجري شمسي/ ۱۹۹۴ ميلادي کې- را منځ ته سو، څو د يوه امير په قيادت کې د سيمې پاټک سالاري ختمه کړي.

د الله تعالی په نصرت او د ټوپک سالارانو څخه د ځورول سوي ولس په ملتيا د طالبانو واکمني ورځ تر بلې پراخېده ، حتی د ۱۳۷۵کال د ميزان پر ٦ مه نيټه د افغانستان پلازمېنه کابل هم د طالبانو لخوا ونيول سو.

تقريبا په ټول افغانستان کې د پاټک سالاري او ګډوډۍ حالت پر ختمېدو سو، خو يو ځل بيا د اسيا زړه زموږ ګران هيواد افغانستان د وخت د فرعونيانو د تهاجم او اشغال ښکار وګرځيد ، په- ۱۳۸۰- شمسي کال کې - د

۲۰۰۱ میلادي کال د اکتوبر پر ۷مه نیټه - امریکایانو په بې اساسه پلمه پر افغانستان یرغل وکړ ، د ۴۲ملکونو له نظامي عسکرو څخه تشکیل سوی ائتلاف يې هم د ځان سره په یرغل کي ملګری کړی وو ، څو په نظامي لحاظ ځان غښتلی او خپل اشغال ته مشروعیت ورکړي.

الحمد لله اوس غربي ائتلاف هم د شوروي اتحاد په شان دړي وړي او د تزلزل په حالت کي قرار لري، هغه د غرور ککری چي مخکي يې د مځکي پر مخ د طالبانو وجود نسوای زغملای هغوی تر دې دمه - عقرب ۱۳۹۸- د طالبانو سره نهه ځلي د قطر په دوحه کي د صلحي په پار مجلسونه کړي دي، تر څو د افغانستان څخه پدا ډول ووځي، چي د ماتي او تېښتي نسبت ورته ونسي او هم په راتلونکي کي د خپلو کړو ظلمونو د انتقام څخه ځانونه خوندي احساس کړي.

که څه هم همدا د مصالحې خبري د امریکا لخوا لغوه سوي یا دریدلي دي؛ خو ان شاء الله تعالی ډېر ژر به امریکایان مصالحې ته حاضریږي؛ ځکه دا د امریکا په تاریخ کي د دوی اوږده او دوی ته د سخت مالي او ځاني تلفاتو اړوونکې جګړه ده، نو غربي اشغال به حتما پای ته رسیږي ان شاء الله تعالی.

خو افغانان باید د شوروي اتحاد تر اشغال وروسته تجربه تکرار نه کړي، د کلاشنکوف او انانیت – ځان تر هرچا لوړ او مستحق بللو- پر ځای د تفاهم ، انصاف او عقلمندۍ څخه کار واخلي، د اشغالګرو سره تر مصالحې وروسته د صلحي طلائي فرصت غنیمت وګڼي، د تفاهم د لاري داسي نظام را منځ ته کړي، چي ځلوېښت کلن ناورین ته د پای ټکی کښېږدي.

ټول افغانان د داسي واحد، پياوړي مرکزي اسلامي نظام تر چتر لاندي ژوند وکړي، چي تر هري وينا کلمة الله پکښي لوړه او اسلامي ارزښتونه پکښي خوندي وي ، د افغانستان د ټولو قومونو او وګړو سرونه ، مالونه او عزت پکښي تامين وي ، همدا ډول د افغانستان د مځکني بشپړتيا او استقلال کفيل او په نړيواله ټولنه کي افغانستان د انزواء څخه وساتي، افغانستان په امنيت ، تعليم ، اقتصاد، زراعت، صنعت او نورو ډګرونو کي د سيالانو سره سيال کړي.

الله تعالى دي وکړي چي د واک او نفوذ لرونکو کسانو او په عمومي ډول ټولو افغانانو د ۱۳۷۱ کال د ټوپک سالارۍ او د ترخي او پاچهي د نه هيرېدونکي فاجعې څخه عبرت اخيستی وي ، تر څو د هغو بد بختيو عوامل بيا را ايجاد نه سي، د صلحي فرصت تر خپل واک ، شخصي ګټو، قوميت او د خپلي سيمي يا تنظيم د نااهلو مشرانو د واک لپاره اخلال نکړي، ملي ګټو ته تر خپل واک او شخصي ګټي ترجيح ورکړي څو په افغانستان کي د اسلامي اصولو او معيارونو په چوکاټ کي دننه، ټولو ته منل سوی اسلامي نظام حاکم سي او د ځلوينښت کلن ناورين کمبله ټوله سي.

د افغانستان د روان ځلوينښت کلن ناورين شاليد ته په کتلو د هيواد په سطحه د شرعي امير او حاکم سره د بيعت ضرورت را ته ثابت سو، چي په شريعت کي هم د همدغه ضرورت په اساس د خلافت بيعت کول کيږي.

د هجرت په يولسم كال د ربيع الاول په مياشت كې د دوشنبې په ورځ د څاښت پر مهال رسول الله صلى الله عليه و سلم وفات سو( [1] )، د ابوبكر رضي الله عنه خلافت كه څه هم په ډېرو شواهدو او دلائلو ثابت وو؛ خو دا چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په صريح ډول حضرت ابوبكر رضي الله عنه په نامه د خليفه په حيث نه وو ټاكلی او د خليفه په نه شتون كې ګډوډي را منځ ته كېدله، نو صحابه كرامو د رسول الله صلى الله عليه و سلم د تكفين او ښخولو كار وځنډاوه او د خليفه د ټاكلو كار ته يې لومړيتوب وركړی.

[1] لا خلاف أنه عليه السلام توفي يوم الاثنين.قال ابن عباس: ولد نبيكم صلى الله عليه وسلم يوم الاثنين، ونبئ يوم الاثنين، وخرج من مكة مهاجرا يوم الاثنين.ودخل المدينة يوم الاثنين، ومات يوم الاثنين ... وقال محمد بن إسحاق: توفي رسول الله صلى الله عليه وسلم لاثنتي عشرة ليلة خلت من شهر ربيع الاول، في اليوم الذي قدم فيه المدينة مهاجرا، واستكمل رسول الله صلى الله عليه وسلم في هجرته عشر سنين كوامل.قال الواقدي وهو المثبت عندنا وجزم به محمد بن سعد كاتبه، وقال يعقوب... عن الليث.إنه قال: توفي رسول الله صلى الله عليه وسلم يوم الاثنين لليلة خلت من ربيع الاول وفيه قدم المدينة على رأس عشر سنين من مقدمه.وقال سعد بن إبراهيم الزهري: توفي رسول الله صلى الله عليه وسلم يوم الاثنين لليلتين خلتا من ربيع الاول لتمام عشر سنين من مقدمه المدينة... وقال أبو نعيم الفضل بن دكين: توفي رسول الله يوم الاثنين مستهل ربيع الاول سنة إحدى عشرة من مقدمه المدينة، ورواه ابن عساكر أيضا.وقد تقدم قريبا عن عروة وموسى بن عقبة والزهري مثله فيما نقلناه عن مغازيهما. فالله أعلم.والمشهور قول ابن إسحاق والواقدي. ( البداية و النهاية )

ابوبکر الصدیق او عمر الفاروق او ابو عبیدة بن الجراح رضي الله عنهم انصارو ته ورغلل( ) د هغوی مشران د بنو [1]ساعده په مَنا کي را ټول سوي وه، تر خبرو اترو وروسته ابوبکر رضي الله عنه، حضرت عمر رضي الله عنه او ابوعبیدة رضي الله عنه تر لاس ونیول او انصارو ته یې وویل : په دغو دوو کي د یوه سره بیعت وکړی خو تر څه بحث وروسته حضرت عمر رضي الله عنه د ابو بکر رضي الله عنه په لاس کي لاس ورکړ هغه یې د خلیفه په حیث ومانه ، بیعت یې ورسره وکړی. د حضرت عمر رضي الله عنه څخه وروسته مهاجرو او انصارو یو په بل پسې د ابوبکر رضي الله عنه سره بیعت وکړی ، د خلیفه د ټاکل کېدو وروسته یې د چهار شنبې په شپه رسول الله صلی الله علیه و سلم د عایشي رضي الله عنها په حجره کي ښخ کړ . [2]

---

[1] وَاجْتَمَعَتِ الأَنْصَارُ إِلَى سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ فِي سَقِيفَةِ بَنِي سَاعِدَةَ فَقَالُوا مِنَّا أَمِيرٌ وَمِنْكُمْ أَمِيرٌ فَذَهَبَ إِلَيْهِمْ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ، وَأَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ فَذَهَبَ عُمَرُ يَتَكَلَّمُ فَأَسْكَتَهُ أَبُو بَكْرٍ ، وَكَانَ عُمَرُ يَقُولُ وَاللَّهِ مَا أَرَدْتُ بِذَلِكَ إِلاَّ أَنِّي قَدْ هَيَّأْتُ كَلاَمًا قَدْ أَعْجَبَنِي خَشِيتُ أَنْ لاَ يَبْلُغَهُ أَبُو بَكْرٍ ثُمَّ تَكَلَّمَ أَبُو بَكْرٍ فَتَكَلَّمَ أَبْلَغَ النَّاسِ فَقَالَ فِي كَلاَمِهِ نَحْنُ الأُمَرَاءُ وَأَنْتُمُ الْوُزَرَاءُ فَقَالَ حُبَابُ بْنُ الْمُنْذِرِ لاَ وَاللَّهِ لاَ نَفْعَلُ مِنَّا أَمِيرٌ وَمِنْكُمْ أَمِيرٌ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ لاَ وَلَكِنَّا الأُمَرَاءُ وَأَنْتُمُ الْوُزَرَاءُ هُمْ أَوْسَطُ الْعَرَبِ دَارًا وَأَعْرَبُهُمْ أَحْسَابًا فَبَايِعُوا عُمَرَ ، أَوْ أَبَا عُبَيْدَةَ فَقَالَ عُمَرُ بَلْ نُبَايِعُكَ أَنْتَ فَأَنْتَ سَيِّدُنَا وَخَيْرُنَا وَأَحَبُّنَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَأَخَذَ عُمَرُ بِيَدِهِ فَبَايَعَهُ وَبَايَعَهُ النَّاسُ فَقَالَ قَائِلٌ قَتَلْتُمْ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ فَقَالَ عُمَرُ قَتَلَهُ اللَّهُ.(البخاري)

[2] وقد روى الامام أحمد: من حديث محمد بن إسحاق، عن عبد الرحمن بن القاسم، عن أبيه عن عائشة: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم توفي يوم الاثنين ودفن ليلة الاربعاء وقد تقدم مثله في غير ما حديث. ( البداية و النهاية )

ابوبکر رضي الله عنه پخپل ژوند کي عمر رضي الله عنه خپل ولي العهد وټاکی، کېدلای سي دا کار يې د دې ويري لکبله کړی وي چي د ده تر مړيني وروسته د بل خليفه د ټاکني تر مهاله د خليفه د نه شتون په وخت کي کومه ګډوډي را منځ ته نسي يا د دې دندي لپاره د اشخاصو پر انتخاب اختلاف را منځ ته نسي.

عمر رضي الله عنه چي د سهار په لمانځه کي د مغيره رضي الله عنه د مجوسي غلام پيروز(ابو لؤلؤ) لخوا زخمي سو، حضرت عمر رضي الله عنه په زخمي حالت کي د خليفه د ټاکني لپاره شپږ کسيزه شورا وټاکله، چي په اصطلاح کي اهل الحل و العقد ورته وايي . د دې شورا دنده دا وه چي د عمر رضي الله عنه تر وفات وروسته به د درو ورځو په موده کي دننه د خپل منځ څخه يو کس خليفه ټاکي.

د دې شپږ کسيزي شورا غړي دغه کسان وه : عثمان بن عفان، علي[1]بن ابي طالب، الزبير بن العوام، عبد الرحمن بن عوف، طلحه بن عبيد الله او سعد بن ابي وقاص رضي الله عنهم دا شپږ واړه د عشره مبشره د جملې څخه دي او تر بل هر چا يې د خلافت وړتيا او اهليت لرل.

د عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه په وړانديز د شورا درو کسانو هر يوه خپل واک د شورا بل غړي ته وسپاری، نو پدې اساس د خليفه د ټاکني واک

---

[1] قال عمر رضي الله عنه: إِنّي لاَ أَعْلَمُ أَحَدًا أَحَقَّ بِهَذَا الأَمْرِ مِنْ هَؤُلاَءِ النَّفَرِ الَّذِينَ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَهُوَ عَنْهُمْ رَاضٍ فَمَنِ اسْتَخْلَفُوا بَعْدِي فَهُوَ الْخَلِيفَةُ فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا فَسَمَّى عُثْمَانَ وَعَلِيًّا وَطَلْحَةَ وَالزُّبَيْرَ وَعَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ وَسَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ. (البخاري).

عبد الرحمن بن عوف ، عثمان بن عفان او علي بن ابي طالب ته انتقال سو، عبد الرحمن بن عوف و عثمان بن عفان او علي بن ابي طالب ته وويل : زه تاسو دوو ته تر خلافت تېر يم ، په تاسو دوو کي يو هغه بل ته تر خلافت ور تېر سي، يا ما ته اختيار راکړئ ستاسو دوو څخه به زه يو د خلافت لپاره انتخاب کړم ، هغوی دواړو عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ته اختيار ورکړ ، تر ډېرو صلاحوو او مشورو وروسته يې عامه مجمع جوړه کړه، عثمان رضي الله عنه ته يې لاس په لاس کي ورکړ او د خلافت بيعت يې ورسره وکړی ، وروسته نورو کسانو يو په بل پسې بيعت ورسره وکړی .[1]

د خليفه ټاکلو په اړه د ابوبکر الصديق ، عمر الفارق او د اهل الحل و العقد د شورا او په عموم کي د صحابه کرامو رضي الله عنهم دونه زيات اهتمام او معقول تدابير د هر اسلامي هيواد لپاره د يوه داسي امير او حاکم ضرورت ثابتوي، چي هغه د دې ستري دندي وړتيا او اهليت ولري.

---

[1] فَلَمَّا فُرِغَ مِنْ دَفْنِهِ اجْتَمَعَ هَؤُلَاءِ الرَّهْطُ فَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ اجْعَلُوا أَمْرَكُمْ إِلَى ثَلَاثَةٍ مِنْكُمْ فَقَالَ الزُّبَيْرُ قَدْ جَعَلْتُ أَمْرِي إِلَى عَلِيٍّ فَقَالَ طَلْحَةُ قَدْ جَعَلْتُ أَمْرِي إِلَى عُثْمَانَ وَقَالَ سَعْدٌ قَدْ جَعَلْتُ أَمْرِي إِلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ فَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ أَيُّكُمَا تَبَرَّأَ مِنْ هَذَا الْأَمْرِ فَنَجْعَلُهُ إِلَيْهِ وَاللَّهُ عَلَيْهِ وَالْإِسْلَامُ لَيَنْظُرَنَّ أَفْضَلَهُمْ فِي نَفْسِهِ فَأُسْكِتَ الشَّيْخَانِ فَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ أَفَتَجْعَلُونَهُ إِلَيَّ وَاللَّهُ عَلَيَّ أَنْ لَا آلُوَ عَنْ أَفْضَلِكُمْ قَالَا نَعَمْ فَأَخَذَ بِيَدِ أَحَدِهِمَا فَقَالَ لَكَ قَرَابَةٌ مِنْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَالْقَدَمُ فِي الْإِسْلَامِ مَا قَدْ عَلِمْتَ فَاللَّهُ عَلَيْكَ لَئِنْ أَمَّرْتُكَ لَتَعْدِلَنَّ وَلَئِنْ أَمَّرْتُ عُثْمَانَ لَتَسْمَعَنَّ وَلَتُطِيعَنَّ ثُمَّ خَلَا بِالْآخَرِ فَقَالَ لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ فَلَمَّا أَخَذَ الْمِيثَاقَ قَالَ ارْفَعْ يَدَكَ يَا عُثْمَانُ فَبَايَعَهُ فَبَايَعَ لَهُ عَلِيٌّ وَوَلَجَ أَهْلُ الدَّارِ فَبَايَعُوهُ.(البخارى)

د حاکميت او امارت د دندي لپاره لکه څنګه چي د يوې خوا د امير او حاکم اهليت او وړتيا ضروري ده، د بل اړخ څخه پر ولس باندي د امير او حاکم خبره اورېدل او اطاعت هم ضروري دي؛ ځکه که ولس د خپل امير اطاعت و نه کړي ، د ولس په خپلسري کي ګډوډي را منځ ته کيږي.

د تش په نامه امير په اميرتوب د ملک چاري نسي تنظيم کېدلای ، څونه چي د امير د امر مخالفت کيږي په هغه اندازه د ملک عام نظم ګډوډيږي او ضرر ئې هيواد او ولس ته رسيږي.

د دغه ګډوډي او عام ضرر د مخنيوي لپاره پر ولس د خپل حاکم او امير اطاعت لازم دی ، په قراني ايت[1] او ډېرو نبوي احاديثو کي د امير د اطاعت امر او تاکيد سوی دی .[2]

کافران بيا د دې خلاف په اسلامي ملکونو کي ګډوډي رامنځ ته کوي څو اوبه خړي کړي او ماهيان ونيسي يا د نظامي يرغل لپاره پلمه جوړه کړي ، اوسنی عصر او تېر تاريخ پر دې ربنتيني شاهد دی، چي کفري امپراطوريو د تل څخه د اسلامي ملکونو د استعمار هڅي کړي او کوي يې، ولس د خپلو اميرانو په مقابل کي په غولوونکو تبليغاتو او غير واقعي شعارونو راپاروي ،

---

[1] يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ...(٥٩ النساء)

[2] قالت أُمّ الْحُصَيْنِ: حَجَجْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– حَجَّةَ الْوَدَاعِ – قَالَتْ – فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– قَوْلاً كَثِيرًا ثُمَّ سَمِعْتُهُ يَقُولُ «إِنْ أُمِّرَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ مُجَدَّعٌ – حَسِبْتُهَا قَالَتْ – أَسْوَدُ يَقُودُكُمْ بِكِتَابِ اللَّهِ فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا». (مسلم).

خپل اجيران او نفوذي کسان په ډېر مهارت په ولسي پاځونونو کي ننباسي، تر ځو د مشرۍ جلو او د تصميم نيولو واک يې په لاس کي واخلي.

که د ټاکنو په پروسه کي بهرنيو ته ژمن کسان او غلامان واک ته ورسېدل، نو د ګوډاګي حکومت په پوښ کي هيواد استعماروي. خو که د انتخاباتو نتيجه د اسلامي فکر او وطن پاله اشخاصو او تنظيمونو په ګټه تمامه سوه، نو د هغوی په وړاندي مشکلات ايجادوي، تر څو د سياسي بې ثباتۍ څخه په استفاده، د مشروع نظام په مقابل کي کودتا ته مشروعيت ورکړي او د خپلو اجيرو همفکرانو په ذريعه ديکتاتور نظام را منځ ته کړي.

مونږ وينو همدا طاغوتي قوتونه په ښکاره ډول د دغه ډول ديکتاتوري نظامونو مخالفت کوي؛ خو د پردې تر شا يې مالي او نظامي مرسته کوي ، پر هر ډول ظلم او د نړيوال قانون او د بشري حقونو څخه پر سرغړونو يې سترګي پټوي ، د همدغه ډول ديکتاتوري نظام ښکاره بېلګه د مصر اوسنی واکمن نظام دی.

هر اسلامي هيواد، چي فرعوني هيوادونه يې استعمار ته لار نسي موندلای، نه هم د ديموکراسۍ له لاري خپل همفکران پر مسلطولای سي او نه هم د کودتا له لاري خپل همفکر ديکتاتوران پر مسلطولای سي، نو هلته بيا د ملک حاکم نظام په بزدلانه نظامي يرغل يا د مسلمانانو په خپلمنځي اختلاف نسکوروي او په ډېر مهارت د اسلامي ملک نظامي قوتونه او تنظيمونه يو د بل په مقابل کي پاروي، حتی په غير مستقيم ډول يې يو د بل په مقابل کي مسلح کوي، تر څو د شرعي امير په نه شتون کي د فوضی او ګډوډۍ حالت را منځ ته سي، مسلمانان د اختلاف په اور کي وسوځي او دوی يې د اصحاب الاخدود په شان پر کړاوونو خوند واخلي.

په عربي ممالکو کي د عربو پسرلي ( الربيع العربي ) په نامه ولسي نامنظم پاڅونونه د دې مدعا ربښتيني او ژوندی شاهد دی، الربيع العربي لکه د دجال جنت په حقيقت کي الجهيم العربي وو، موږ وينو کوم ملکونه چي د دغه دول بې رهبره پاڅونونو ښکار وګرځيدل، د هغو ملکونو اکثريت تر نن ورځي پوري د اختلاف په اور کي سوځي، تر زياتو کلونو وروسته يې لا هم داسي امير نه دی موندلی، چي پر ټول ملک باندي دي بشپړ واک ولري، څو د مسلمانانو د ځان ، مال عزت څخه دفاع وکړای سي او د ملک مځکنۍ بشپړتيا تامين او د ترقۍ جوګه واوسي.

په شريعت کي چي د امير شتون او د هغه پر اطاعت څونه زيات تاکيد سوی دی، وجه ئې دا ده چي د امير په نه شتون کي د مسلمانانو سر ، مال او عزت پايماله کيږي ، ملک ورځ تر بلي شا ته پاتيږي او بالاخره د کافرانو په لاس کي ګرو پاتيږي؛ لهذا مسلمانان بايد په هر اسلامي هيواد کي د قرآني او نبوي إرشاداتو په رڼا کي د خپلو شرعي اميرانو اطاعت وکړي ، تر څو د کافرانو د دسيسو ښکار و نه ګرځي.

يوه مهمه نکته بايد تل ياد وساتو هغه داچي د ګناه په کار کي نه د ملک په سطحه د امير اطاعت کيږي ، نه د جهادي امير اطاعت کيږي او نه هم د پير او مرشد اطاعت کيږي( )؛ ځکه د ګناه په کار کښي د مخلوق اطاعت کول د

[1] عن نافع عن ابن عمر قال : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم السمع والطاعة على المرء المسلم فيما أحب وكره ما لم يؤمر بمعصية فإن أمر بمعصية فلا سمع عليه ولا طاعة.( الترمذي)

خالق نافرماني ده ، ګناهونه الله تعالى حرام کړي دي ، د مخلوق په حکم ګناه نسي جايز کېدلای!

# دريم فصل

## د جهاد بيعت

د دې لپاره چي د جهاد د بيعت ضرورت او اهميت ښه را ته څرګند سي لومړۍ څو مقدماتي خبري بيانوو:

په نړيواله ټولنه کي د ډېر پخوا څخه د هر هيواد لپاره د مسلح پوځ لرل عام معمول او مشروع حق بلل کيږي، څو د ملک استقلال ، ديني او وطني هويت په وساتي او د ولس امنيت په تامين کړي ، دغه ډول دا هم د هر هيواد مشروع حق بلل کيږي چي د اشغالګرو په مقابله کي نظامي قوت استعمال او د خپل هيواد څخه دفاع وکړي.

نظامي ارګانونه لکه څه ډول چي د بهرنۍ يرغل مخه نيسي، دغه ډول د ولس د خپلمنځي ظلم او تجاوز مخه هم نيسي، همدا راز د ملک د حاکم نظام څخه د بغاوت او د قانون څخه د سرغړوني او تخلف مخنيوۍ هم د نظامي ارګانونو په مهمو دندو کي شمېرل کيږي.

هر هيواد په ښکاره ډول کوښښ کوي، چي غښتلی پوځ ولري ، ولسونه غښتلي پوځيان د ځان او هيواد لپاره وياړ او افتخار بولي ، د پوځ شمېر چي څونه زيات ، مورال او روحيات يې قوي وي ، په دفاعي او تعرضي وسلو سنبال، نظامي تربيت، نظم او ډسپلين ولري، خپلو وعدو ته ژمن او وفاداره وي، په هماغه اندازه غښتلی او قوي پوځ ګڼل کيږي.

نو په همدې اساس هر ملک د پوځيانو تربيت ځايونه او اکاډمۍ تاسيسوي، د پوځيانو د جلب او مورال لوړولو لپاره د تبليغاتي او د تشويقي لارو څخه کار

اخلي، د نظامي وسلو د توليد لپاره ستري فابريکې فعاله کوي ، د ملک زياته بوديجه پر پوځ مصرفوي.

مځکه الله سبحانه و تعالی د انسانانو لپاره پيدا کړې ده ، د مځکې خالق، خښتن او پاچا الله تعالی دی ، د انسانانو خالق، خښتن او پاچا هم الله تعالی دی ، الله تعالی د خپلو بنده ګانو د دنياوي او اخروي سعادت او سوکالۍ لپاره الهي قانون نازل کړی دی ، همدا قانون د اسلام سپېڅلی دين دی او د همدغه سپېڅلي قانون د بغاوت کوونکو او انکار کوونکو په مقابل کې د غښتلي پوځ د تشکيل او په لازمو وسلو يې د سنبالولو حکم کړی دی ، تر څو د الله تعالی پر مځکه د همدغه الهي قانون څخه د سرغړوني مخه ونيسي او هر څوک چې د رب العامين څخه بغاوت کوي، هغوی نسکور او مجازات کړي، همدا الهي پوځ په شرعي اصطلاح کې في سبيل الله مجاهدين بلل کيږي.

لکه څه ډول چې د مځکې پر مخ د يو هيواد پاچا د خپل ولس د تامين او انتظام او د ملک د قوانينو د تنفيذ لپاره غښتلی پوځ تشکيلوي او په نړيوالو اصولو کې هم دا د هر ملک د پاچا مشروع حق بلل کيږي، چې د قانون څخه

---

[1] إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ......(١٩ ال عمران)

[2] وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِنْ دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ (٦٠ الانفال)

بغاوت کوونکي سرکوبه کوي، دغه ډول الله تعالى مالک الملک پر خپله مځکه دخپل قانون د پلي کولو لپاره د في سبيل الله مجاهدينو نظامي قوت تر قيامته را پيدا کوي ، هيڅوک هم پر دغه الهي[1] پوځ د اعتراض حق نه لري.

دا عجيبه قضاوت دی د دنيا پاچاهان چي په خپل ملک کي د بغاوت د مخنيوي لپاره پوځونه او ځواکونه استخداموي دا يې مشروع حق بلل کيږي؛ خو رب العالمين جل جلاله چي د انسانانو حقيقي څښتن او پاچا دی هغه چي د الهي قانون څخه د بغاوت کوونکو مخه په في سبيل الله مجاهدينو نيسي دا بيا إرهاب يا دهشت گردي او تروريزم بلل کيږي!

په دعوت، جهاد او تعليم سره د اسلام بقا او د مسلمانانو اسلامي هويت او استقلال تضمين کيږي، په نړۍ کي ډېر داسي اسلامي ملکونه سته، چي يو وخت د اسلام ستر مراکز بلل کېدله؛ خو د تعليم د سلسلې د قطع کېدو په نتيجه کي هغه ملکونه اوس تش په نامه اسلامي ملکونه بلل کيږي. ولسونه يې د اسلام څخه دونه ناخبره پاته سوي دي چي مسلماني فقط د قومي نسب په شان پېژني ، د هغوی زيات شمېر کسان چي وايي زه مسلمان يم د دي

---

[1] عن أنس بن مالك : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : ... و الجهاد ماض منذ بعثني الله إلى أن يقاتل آخر أمتي الدجال لا يبطله جور جائر و لا عدل عادل...(مسند ابي يعلي) يوكده قول البخاري: باب الْجِهَادُ مَاضٍ مَعَ الْبَرِّ وَالْفَاجِرِ.لِقَوْلِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم الْخَيْلُ مَعْقُودٌ فِي نَوَاصِيهَا الْخَيْرُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ.

مطلب يې دا وي لکه يو څوک چي ووايي : زه فلانکی زی يم ، په دا وينا د فکر او عقيدې څرګندونه نه کوي بلکي فقط د نسب د سلسلې اظهار کوي.

دغه ډول که مسلمانان د في سبيل الله جهاد فريضه پرېږدي، نو حتما خپل حريت او استقلال له لاسه ورکوي ، د ملک او شتمنيو اختيار به يې له لاسه وځي ، په خپل هيواد کي به د مريانو په شان د ذلت شپې سبا کوي ، آن داچي د اسلام شعاير به لا هم په ښکاره ډول نسي پر ځای کولای.

که موږ کفري هيوادونو ته وګورو هغوی دفاع وزارت، داخله وزارت، د تعليم او تربيې او د لوړو زده کړو وزارتونو ته نهايي زياته بوديجه اختصاصوي؛ ځکه پوهيږي چي خپل ديني او وطني هويت بيله تعليم او نظامي قوت څخه نسي خوندي کولای، نو مسلمانان هم بايد پدې پوه سي، چي خپل اسلامي او وطني هويت د دعوتي، جهادي او تعليمي فريضې څخه پرته نسي خوندي کولای!

د سورة التوبة په ۱۲۲ ايت[۱] کي الله تعالی مؤمنانو ته هدايت کړی دی، چي يو شمېر کسان په جهادي تشکيل کي ووځي او يو شمېر نور بيا مدينه منوره کي د رسول الله صلی الله عليه و سلم سره د ديني زده کړي لپاره پاته سي.

---

۱ وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا كَافَّةً فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِنْهُمْ طَائِفَةٌ لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنْذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ. (۱۲۲التوبة)

رسول الله صلى الله عليه و سلم جهاد د اسلام ذروة السنام يعني د اوښ د بوک څوکه بللى دى، يعني لکه څه ډول چي[1] د اوښ پر بوک څوک نسي کښېنستلاى، دغه ډول که مسلمانان د جهاد فريضه ادا کوي څوک نسي پر غالبه کېدلاى.

خو هر جهادي تشکيل چي به رسول الله صلى الله عليه و سلم يو خوا ته ليږى، د هغه لپاره يې امير ټاکى ، ټول افراد يې د امير په اطاعت امر کول؛ ځکه د امير په نه شتون کي جهاد نسي تنظيم کېدلاى.

په غزوة الموتة کي رسول الله صلي الله عليه و سلم زيد بن حارثه د امير په حيث وټاکى، ورته وئې ويل: که زيد رضي الله عنه شهيد سو بيا جعفر رضي الله عنه امير دى، که هغه شهيد سو، بيا عبد الله بن رواحة رضي الله عنه امير دى، همدا درې واړه اميران يو په بل پسې شهيدان سول، جهادي لښکر بې اميره پاته سو. داچي د امير په نه شتون کي پوځ پاشل کيږي، نو په دغه اضطراري حالت کي خالد بن وليد رضي الله عنه پر خپل سر د پوځ د قيادت بيرغ پورته کړى ، د ده په قيادت کي د مسلمانانو فتح په برخه سول ( ).

---

[1] : ثُمَّ قَالَ : أَلاَ أُخْبِرُكَ بِرَأْسِ الأَمْرِ ، وَعَمُودِهِ ، وَذُرْوَةِ سَنَامِهِ ؟ الْجِهَادُ (ابن ماجة)

[2] : عَنْ أَنَسٍ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم نَعَى زَيْدًا وَجَعْفَرًا وَابْنَ رَوَاحَةَ لِلنَّاسِ قَبْلَ أَنْ يَأْتِيَهُمْ خَبَرُهُمْ فَقَالَ أَخَذَ الرَّايَةَ زَيْدٌ فَأُصِيبَ ثُمَّ أَخَذَ جَعْفَرٌ فَأُصِيبَ ثُمَّ أَخَذَ ابْنُ رَوَاحَةَ فَأُصِيبَ – وَعَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ – حَتَّى أَخَذَ سَيْفٌ مِنْ سُيُوفِ اللهِ حَتَّى فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ.(البخاري)

د هجرت په شپږم کال رسول الله صلى الله عليه و سلم د پنځلسو سوو صحابه کرامو په ملتيا د عمرې په نيت د مکې مکرمې  په لور حرکت وکړی ، مشرکانو يې مکې مکرمې ته څېرمه په حديبيه کې مزاحمت وکړ او د عمرې اداء کولو ته يې نه پرېښوول.

اخير د جنګ غالب احتمال پيدا سو، داچې جهاد يو اړخ ته اسانه کار نه دی؛ په جهاد کې مجاهد د لوږو ، تندو ، ستړياوو ، بې خوبيو، زخمونو ، اسير کېدلو ، وژل کېدلو او مالي لګښتونو سره مخ کيږي او بل اړخ ته جهاد د اسلام د بقا لپاره يوه مضبوطه کلا ده، نو همهلته په حديبيه کې تر يوې ونې لاندې صحابه کرامو رضي الله عنهم پر جهاد باندې د رسول الله سره بيعت وکړ، صحابه کرامو  يو په بل پسې خپل ښی لاس د رسول الله صلى الله عليه و سلم په لاس کې ورکاوه او دا عهد يې ورسره کاوه، چې د ژوند تر اخرې سلګۍ به د ده په څنګ کې د ده په امر د کافرانو سره جنګيږي او جهاد به کوي.

دغه د جهاد د بيعت لپاره اصل او دليل دی او همدغه بيعت ته بيعة الرضوان وايي؛ ځکه د سورة الفتح په اتلسم ايت کې الله تعالى د دغو بيعت کوونکو په اړه فرمايلي دي [1] : واقعا الله تعالى د هغو مؤمنانو څخه راضي دی کوم چې ستا سره يې تر هغه ونې لاندې بيعت کاوه.

---

[1] لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنْزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا (١٨ الفتح)

پر مجاهدينو د خپلو اميرانو اطاعت په مشروع او جائزو کارونو کي واجب دی، د ګناه په کار کي د امر اطاعت نه کول کيږي، که امير په معصيت او ګناه امر کول، مثلاً د کافرانو ښځي او ماشومان يې په وژل، پدغسي حالاتو کي د امير اطاعت نه کيږي.

رسول الله صلی الله عليه و سلم يو تشکيل ( سرية ) وليږی، د امير په اطاعت يې امر کړل. د سفر په جريان کي يې امير ته درد او غصه ورغله، په ملګرو ئې لرګي را ټول کړل، اور يې په بل کړ ، وروسته ئې حکم ورته وکړ، چي ځانونه پکښي وسوځئ، ځينو اور ته د ور ګډېدلو هڅه وکړه؛ ځکه ويل يې رسول الله صلی الله عليه و سلم موږ د امير په اطاعت امر کړي يو ، ځينو نورو بيا ويل موږ پدې خاطر ايمان راوړی دی، چي د اور څخه ځانونه وساتو نو په اور ولي ځانونه سوځو؟ دوی همداسي زړه نا زړه وه چي اور مړ سو، د امير غصه هم سړه سوه، کله چي رسول الله صلی الله عليه و سلم پدې واقعه خبر سو، نو د هغو کسانو ستاينه يې وکړه چي د امير امر يې رد کړی وو، د هغو نورو کسانو په اړه يې وويل : که ئې ځانونه اور ته اچولي وای، نو د قيامت تر ورځي به په اور کي وای او سوځل کېدلای.

تر هغه وروسته يې عام قانون او قاعده بيان کړه: د امير اطاعت په معروف (مشروعو) کارونو کي واجب دی ، يعني د گناه په کار کي د هيچا اطاعت جواز نلري.[1]

د جهادي جبهاتو يا په پوځي اصطلاح د اسلامي پوځ د مختلفو قطعاتو قوماندانان او اميران که څه هم د لوړو اميرانو لخوا ټاکل کيږي، خو کله- کله داسي حالات را منځ ته کيږي، چي د ما فوق مقاماتو سره رابطه قطع کيږي يا اميران او پوځيان يو د بل سره په ليري واټن کي وي، نو د اضطرار لکبله د مجاهدينو له منځ څخه که شجاع ، جنگ پوه ، باتجربه ، متقي کس د پوځ قيادت او قومنده په لاس کي واخلي، نو بيا د هغه اطاعت بايد وسي؛ ځکه بې اميره پوځ سره پاشل کيږي او ممکن دښمن پر غالب سي.

که د کافرانو لخوا پر اسلامي هيواد يرغل وسي، د ملک حاکم نظام يې له منځه يوسي ، پوځي تاسيسات يې ويجاړ کړي ، اسلامي هيواد بې اميره پاته سي، د کافرانو نظامي يرغل هم ادامه ولري او د اشغال هڅه يې کوي، نو

---

[1] عَنْ عَلِيٍّ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم سَرِيَّةً وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ رَجُلاً مِنَ الأَنْصَارِ وَأَمَرَهُمْ أَنْ يُطِيعُوهُ فَغَضِبَ عَلَيْهِمْ وَقَالَ أَلَيْسَ قَدْ أَمَرَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم أَنْ تُطِيعُونِي قَالُوا بَلَى قَالَ عَزَمْتُ عَلَيْكُمْ لَمَا جَمَعْتُمْ حَطَبًا وَأَوْقَدْتُمْ نَارًا ثُمَّ دَخَلْتُمْ فِيهَا فَجَمَعُوا حَطَبًا فَأَوْقَدُوا فَلَمَّا هَمُّوا بِالدُّخُولِ فَقَامَ يَنْظُرُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ قَالَ بَعْضُهُمْ إِنَّمَا تَبِعْنَا النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم فِرَارًا مِنَ النَّارِ أَفَنَدْخُلُهَا فَبَيْنَمَا هُمْ كَذَلِكَ إِذْ خَمَدَتِ النَّارُ وَسَكَنَ غَضَبُهُ فَذُكِرَ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ لَوْ دَخَلُوهَا مَا خَرَجُوا مِنْهَا أَبَدًا إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوفِ.(البخاري)

پدغسي حالاتو کي که د قيادت وړ کس د يرغل په مقابله کي پر اسلامي اساساتو ولاړ جهادي تنظيم ايجاد کړي ، په منظمو جهادي جبهاتو د اشغالګرو کافرانو په مقابل کي جهاد پيل کړي د اسلامي ملک ټول جنګيالي بايد د همدغه جهادي تنظيم د امير تر قيادت لاندي د کفري يرغل په مقابل کي جهاد ته ادامه ورکړي.

که يو بل نوی تنظيم يا هم د دغه تنظيم څخه يو شمېر بيلو سوو کسانو ځان ته بل تنظيم ايجاد کړ، د هغه ملتيا بايد ونسي بلکي په لومړني تنظيم کي يې بايد د شموليت هڅه وسي؛ ځکه د جهادي تنظيمونو د شمېر زياتوالی که څه هم په پيل کي د مجاهدينو په ليکو کي زياتوب او قوت راوړي خو تجربې ثابته کړې ده، چي اخير به يې وحدت او قوت له منځه ځي، د واک پر وېش يا د سياسي اختلافاتو لکبله به په خپل منځ کي په لفظي يا نظامي شخړو اخته کيږي ،او دا خو معلومه ده، چي پر نظامي شخړو غټ فساد مرتب کيږي، د تجربې څخه علاوه قرانکريم هم دغي موضوع ته اشاره کړې ده، که يو ملک د پاچهانو يا د نظامي قوتونو جنګي محاذ وګرځي هغه به ورانيږي( ).

که افغانانو په افغانستان کي د شوروي اتحاد د يرغل په دوران کي د يوه جهادي تنظيم تر قيادت لاندي د جهاد سپېڅلې وجيبه انجام کړې وای، نو حتما به يې د جهاد ټول ثمرات تر لاسه کړي وای؛ خو دا چي په شعوري يا

---

١ قَالَتْ إِنَّ الْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا وَجَعَلُوا أَعِزَّةَ أَهْلِهَا أَذِلَّةً وَكَذَلِكَ يَفْعَلُونَ(٣٤ النمل)

غير شعوري ډول اووه جهادي تنظيمونه ايجاد سول، د شوريانو د يرغل په مقابل کي يې جهادي جبهې پرانيستلې، د جهاد د نتيجې په صورت کي شورويان له افغانستانه ووتل او نړيوال شوروي اتحاد دړي وړي سو، خو افغان مجاهدينو د شوروي اتحاد تر ماتي وروسته د واک پر وېش يا د سياسي اختلافاتو لکبله په خپل منځي جنگ او جگړو اخته سول، ولس او هيواد د تباهۍ سره مخ سو، حتی تر نن ورځي پوري افغانان په اور کي سوځل کيږي.

سوريه هم د دې موضوع يو بل ژوندی شاهد دی ، د رافضي نظام په مقابل کي چي ولسي پاڅونونه پيل سول ، په ورو- ورو ولسي پاڅونونه په نظامي جبهاتو بدل سول. که ټول جبهات او پاڅونوال د يوه صالح او اهل کس د قيادت او مشري تر چتر لاندي را جمع سوي وای، نو په لږ زيان او لنډه مده کي به يې د رافضي نظام غټ ظلم او لوی فساد ختم کړی وای؛ خو لکه مخته چي مو وويل : الربيع العربي په اصل کي الجهيم العربي وو ، غربي ميډيا چي د سوريې پاڅونوال سهار او ماښام د شام په ټولو سيمو کي تر پوښښ لاندي راوستي وه، او په ډېر مهارت يې د سوريې ولس پاڅون ته هڅاوه، دا يې د سوريې د ولس سره د خواخوږۍ پر بنسټ نه کاوه، چي د رافضيانو ظالم نظام نسکور سي او پر ځای يې عام شموله عادل نظام را منځ ته سي، بلکي اصلي مقصد يې چي وروسته څرګند هم سو، د عربي پسرلي په نامه په دې مهم عربي هيواد کي خزان او ګډوډي را منځ ته کول وه، تر څو پوځي مداخلې ته يې پلمه پيدا کړي ، د ملک واک او شتمنۍ يې ځني غصب

کړي ، هلته دايمي نظامي هډې جوړې کړي، تر څو له يوه اړخه د اسرائيلو امنيت تامين کړي او د غصب کړو سيمو د استملاک حق ورته ورکړي او هم يې د نورو اسلامي ملکونو د امنيت لپاره د تهديد او ګواښ وسيله وګرځوي.

غربيانو چې د شام کرديان د رافضي ديکتاتور نظام په مقابل کې مسلح کړل، د شام د ولس او د سُني هيوادونو لخوا دا يو مثبت قدم بلل کيږي؛ خو که دقيق متوجه سو په دغو مسلحو کردي جبهاتو يې رافضي نظام دونه، نه دی تهديد کړی په څونه چې يې د باثباته غښتلي اسلامي ملک ترکيې مځکنۍ بشپړتيا تهديد کړی ده.

دا صحيح خبره ده چې د شام، ترکيې او عراق کُردان ټول سُني مسلمانان دي، په نوموړو هيوادونو کې چې نور اتباع څونه حقوق او امتيازات لري، دوی ته هم بايد په خپلو هيوادونو کې هغونه حقوق او امتيازات ورکول سي ، په دغو هيوادونو کې بايد په مشروع او معقوله طريقه د داسي نظامونو د را منځ ته کولو هڅي وسي، چې د نورو ولسونو په شان د کردانو د حقونو د ساتني تضمينوونکی هم وي ، البته د شام ، ترکيې او عراق څخه د کردانو سيمي د يو خلورم هيواد په شکل را جلا کول د کردانو حقوق نسي تضمينولای ، د کردستان په نامه که هيواد جوړ هم سي، خو که د واک جلو د نااهل او ظالم نظام په لاس کي کنبېوځي، بيا به د خپل کردي حاکم نظام لخوا تر دې لا هم د سختو کړاوونو سره مخ کيږي؛ ځکه دا سي نه ده چې هر کردی دې د کردانو ، هر پښتون دې د پښتنو او هره ښځه دې د ښځو د حقوقو څخه دفاع کوي!

کوم کسان چي د اسلامي هيوادونو د وېش لپاره قوم اساس ګرځوي هغوی په حقيقت کي د خپل واک او شخصي ګټو لپاره يو اسلامي هيواد نور هم ورځ تر بلي په نظامي ، اقتصادي او سياسي لحاظ کمزوری کوي.

که نن ورځ د اسلامي هيوادونو تر منځ يووالی يا د فدرالي نظام غوندي اتحاد نسي را منځ ته کېدلای، نو موجوده جغرافيايي جوړښت يا قلمروونه يا مځکنۍ بشپړتيا يې بايد په هر قيمت چي وي خوندي وساتل سي؛ ځکه څونه چي د ملک نفوس او جفرافيايي مساحت زيات وي په هماغه اندازه هغه ملک په نظامي ، اقتصادي او سياسي لحاظ قوي او پر ځان بسيا وي.

د پورته مدعا لپاره ښکاره حجت او ژوندی مثال د امريکا متحده ايالات يادولای سو. د امريکا هيواد چي نن پر نړۍ واکمني کوي، وجه يې د څه دپاسه پنځوسو ايالتونو اتحاد دی ، امريکا په حقيقت کي يو ملک نه دی بلکي څو پنځوس کوچني او غټ هيوادونه دي، چي د يوه فدرالي نظام تر چتر لاندي اتحاد لري.

بيرته اصلي مقصد ته ځو هغه داچي د هر اسلامي هيواد حاکم نظام که کافران رنګ کړي او د اشغال او استعمار هڅه يې وکړي، نو مسلمانان حق لري چي د خپل هيواد د استقلال لپاره د اشغالګرو سره وجنګيږي ، که د اشغال په مقابل کي متعدد جهادي تنظيمونه جوړ سول په نظامي ډګر کي ممکن کامیابه سي، اشغال به ختم کړي؛ خو تر اشغال وروسته به د متعددو نظامي تنظيمونو تر منځ سياسي جوړ جاړی او توافق ډېر ګران وي؛ خو بر عکس که د اشغال مقابله د يوه جهادي تنظيم تر قيادت لاندي وسي، نو بيا تر اشغال وروسته د

نورو سیاسي تنظیمونو سره په تفاهم د یو باثباته سیاسي نظام تر چتر لاندي د ملک استقلال ، امنیت ، سوکالي او ترقي تضمین کېدلای سي.

ان شاء الله تعالی په مخکنیو پاڼو کي چي د جهاد او د جهاد د بیعت اړوند ځخه معلومات وړاندي سول، د هغه ځخه به د جهاد د بیعت ضرورت او اهمیت څرګند سوی وي.

الله تعالی دي د افغانستان پر مسلمان ولس رحم وکړي ، الله تعالی دي ژر تر ژره د کافرانو اشغال او واکمني پر افغانستان ختمه کړي، الله عزوجل دي افغانانو ته توفیق ورکړي، چي په خپل منځ کي په تفاهم او توافق یو ښه اسلامي نظام را منځ ته کړي، تر څو د ټولو افغانانو ځانونه، مالونه او عزتونه پکښي خوندي سي، هیواد د امن ، سوکالۍ او ترقی ټاټوبی وګرځي، د اسلام د سپېڅلي قانون په رڼا کي د وروړګلوۍ ژوند سره وکړي. آمین ثم آمین

د یادوني وړ ده لکه څه ډول چي په جهاد د کافرانو د شر مخنیوی کیږي، دغه ډول کله بیا په مصالحه او جوړه هم د کافرانو د شر مخه نیول کیږي.

رسول الله صلی الله علیه و سلم د هجرت ځخه وروسته ، کلونه- کلونه د مکي مکرمي د مشرکانو سره وجنګېدی، د مکي د مشرکانو سره د بدر ، احد او خندق ستري غزاګاني سوي دي.

رسول الله صلی الله علیه و سلم په حدیبیه کي، د هجرت پر شپږم کال د مکي د مشرکانو سره د اسلام او مسلمانانو د مصلحت او ګټي پر اساس د لسو کلونو لپاره صلح لاسلیک کړله.

په صلح کي ځيني داسي مادې لا هم وې چي صحابه کرامو ته د هغو منل ډېر گران کار وو؛ خو بيا هم هغوی د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اتباع کي هغه په سر او سترگو ومنله.

**د حديبيې د صلحي درې مادې:**

يو: د مسلمانانو لخوا که يو کس د مکې د مشرکانو سره يو ځای سي هغه به بيرته مسلمانانو ته نه سپارل کيږي ، خو د مشرکانو لخوا که يو کس مسلمانانو ته ورسي هغه به بيرته مشرکانو ته سپارل کيږي که څه هم دا کس مسلمان وي ، ابو البصير او ابو جندل رضي الله عنهما د همدغي مادې له مخي مشرکانو ته وسپارل سول( [1] ).

دوه: رسول الله صلى الله عليه و سلم او ورسره تقريبا څوارلس سوه کسان سږ کال عمره نسي ادا کولای بلکي په راتلونکي کال کي فقط د درو ورځو لپاره مکې مکرمې ته د عمرې د ادايني لپاره تللای سي ، د همدغي مادې په اساس احصار را منځ ته سو، رسول الله صلى الله عليه و سلم او ورسره ملگرو يې د احصار لکبله د قرباني څخه وروسته ځانونه د احرام څخه حلال کړل ، په راتلونکي کال يې د عمرې قضاء راوړله.

---

[1] عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا ، قَالَ : صَالَحَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم الْمُشْرِكِينَ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ عَلَى ثَلاَثَةِ أَشْيَاءَ عَلَى أَنَّ مَنْ أَتَاهُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ رَدَّهُ إِلَيْهِمْ ، وَمَنْ أَتَاهُمْ مِنَ الْمُسْلِمِينَ لَمْ يَرُدُّوهُ ، وَعَلَى أَنْ يَدْخُلَهَا مِنْ قَابِلٍ وَيُقِيمَ بِهَا ثَلاَثَةَ أَيَّامٍ ، وَلاَ يَدْخُلَهَا إِلاَّ بِجُلُبَّانِ السِّلاَحِ السَّيْفِ وَالْقَوْسِ وَنَحْوِهِ فَجَاءَ أَبُو جَنْدَلٍ يَحْجُلُ فِي قُيُودِهِ فَرَدَّهُ إِلَيْهِمْ.(البخارى)

درېږ: د عمرې د اداینې په مهال به د جنګي حالت په شکل په اسلحو سنبال مکې مکرمې ته نه ورځي بلکې په بغل ځولۍ کې د تورې او کماني سره ور تللای سي.

همدا صلح الله تعالی فتح وبلله، د سورة الفتح لومړني اياتونه - إنا فتحنا لک فتحا مبينا - نازل سول؛ ځکه پخوا د ټولو کافرانو سره جنګېدی ، مشرکانو يې په مقابل کي ايتلافونه هم جوړول خو د صلح وروسته د مکې د مشرکانو شر د موقت وخت لپاره دفع سو، يوازې د يهودو او نورو کافرانو مقابلې ته مسلمانان فارغ سول ، په خيبر کي يهود اوسېدل ، د حديبې څخه وروسته خيبر فتح سول ، د حديبې صلحي د خيبر د فتح لپاره دروازه پرانستله ځکه نو الله تعالی د حديبې صلح فتحا مبينا يعني ښکاره فتح بللې ده .

د حديبې صلح لس کاله وه ، د مکې مشرکانو په غدارۍ سره صلح ماته کړه نو بيا د هجرت په اتم کال د روژې په مياشت کي رسول الله صلى الله عليه و سلم د الله تعالی په نصرت مکه مکرمه فتح کړه.

د کافرانو سره صلح يا اوربند هم تر ټاکلي ميعاد او هم تر غير ټاکلي ميعاد جايز دی؛ خو پدې شرط چي د مسلمانانو ګټې او مصلحتونه پکښې نغښتې وي( [1] ).

---

[1] وقال الحنفية والمالكية والزيدية: ليس للهدنة مدة معينة، إنما تقدير المدة راجع إلى اجتهاد الإمام قدر الحاجة؛ لأن المهادنة عقد جاز لمدة عشر سنين،فتجوز الزيادة عليها كعقد الإجارة (الفقه الاسلامي و ادلته)

لهذا په افغانستان کي د اشغالگرو کافرانو سره تر نامحدوده ميعاد صلح او اوربند جايز دی؛ خو پدې شرط چي د افغانانو د استقلال او امنيت او د روان خلوېښت کلن ناورين او د کفري اشغال د اختتام مصلحت پکښي نغښتی وي.

په افغانستان کي د اشغالگرو کافرانو سره د مخکنيو شرايطو مطابق تر نامحدوده ميعاد صلح کول د الجهاد ماض الى يوم القيامة سره ټکر نه لري؛ ځکه د حديث مراد دا نه دی چي د کافرانو سره جهاد به د قيامت تر ورځي په افغانستان کي ادامه لري، په افغانستان کي په مصالحه فقط د جهاد خلوېښت کلن محاذ – افغانستان - بدليږي ، د جهاد فريضه د نړۍ په نورو هيوادونو کي هم انجام کېدلای سي.

---

مُدَّةُ الْهُدْنَةِ: يَرَى الْحَنَفِيَّةُ وَالْمَالِكِيَّةُ وَهُوَ ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ عَنِ الإِمَامِ أَحْمَدَ أَنَّهُ يَجُوزُ مُوَادَعَةُ أَهْل الْحَرْبِ عَشْرَ سِنِينَ ، كَمَا وَادَعَ رَسُول اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْل مَكَّةَ . وَيَجُوزُ أَنْ تَكُونَ الْمُدَّةُ أَقَل مِنْ ذَلِكَ أَوْ أَكْثَرَ أَوْ دُونَ تَحْدِيدٍ ، مَا دَامَتْ مَصْلَحَةُ الْمُسْلِمِينَ فِي ذَلِكَ . أَمَّا إِذَا لَمْ تَكُنْ مَصْلَحَةُ الْمُسْلِمِينَ فِي ذَلِكَ فَلاَ يَجُوزُ ، لِقَوْلِهِ تَعَالَى : { فَلاَ تَهِنُوا وَتَدْعُوا إِلَى السَّلْمِ وَأَنْتُمُ الأَعْلَوْنَ } . (الموسوعة الفقهية الكويتية )

# څلورم فصل

## د إرشاد بيعت

د بيعت څلورم قسم د إرشاد بيعت دی، دا هغه بيعت دی چي مريد يې د پير سره کوي.

په قرانکريم کي، چي د بيعة النساء - د ښځو د بيعت - يادونه سوې ده، دغه
١ بيعت د بيعة الإرشاد په جمله کي هم شمېرل کېدلای سي ( )، خو د بيعت
لپاره هيڅ وخت هم رسول الله صلى الله عليه و سلم ښځو ته لاس په لاس
٢ کي نه دی ورکړی، بلکي شفاهي بيعت يې ور سره کاوه( ).

د يادوني وړ ده د رسول الله صلى الله عليه و سلم په ژوند کي ښځو په مساجدو کي په جماعت لمونځونه کوله که څه هم په کورنو کي يې لمونځونه کول ورته غوره وه خو وروسته زمانو کي د فساد د ويري لکبله ښځي د مسجدونو څخه منع سولې نو دغه ډول د ښځو لپاره[3] د پير سره بيعت کول

---

[1] يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَى أَنْ لَا يُشْرِكْنَ بِاللَّهِ شَيْئًا وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِينَ وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَانٍ يَفْتَرِينَهُ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ (١٢)الممتحنة

[2] عَنْ عَائِشَةَ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ، قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يُبَايِعُ النِّسَاءَ بِالْكَلاَمِ بِهَذِهِ الآيَةِ {لاَ يُشْرِكْنَ بِاللَّهِ شَيْئًا} قَالَتْ وَمَا مَسَّتْ يَدُ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَدَ امْرَأَةٍ إِلاَّ امْرَأَةً يَمْلِكُهَا.البخاري

[3] عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ لَوْ أَدْرَكَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَا أَحْدَثَ النِّسَاءُ لَمَنَعَهُنَّ كَمَا مُنِعَتْ نِسَاءُ بَنِي إِسْرَائِيلَ قُلْتُ لِعَمْرَةَ أَوَ مُنِعْنَ قَالَتْ نَعَمْ ( البخاري)

جواز نه لري؛ ځکه غټ فساد او فتنه پر مرتب کيږي ، د اصلاح او تزکيې په نامه د ښځي عفت او عزت پايماله کيږي.

عبادة بن صامت رضي الله عنه وايي: موږ په يو مجلس کي وو، چي رسول الله را ته وويل: ايا د شرک، غلا، زنا، اولاد وژني او بهتان پر نه کولو او دغه ډول په معروفو کارونو کي د سر نه غړولو بيعت را سره کوئ؟ عباده بن صامت رضي الله عنه وايي موږ د دغو گناهونو پر نه کولو بيعت ور سره وکړې ( [1] ).

دغه او دې ته ورته نور احاديث که له يوه اړخه د مريد او پير تر منځ د بيعت جواز ثابتوي، له بله اړخه د بيعة الإرشاد مقصد او د پيرۍ وړ کس هم را ته ښيي. د دې لپاره چي د بيعت مقصد ښه را ته واضح سي پر يو شمېر مسايلو څه تمهيدي بحث وړاندي کوو:

---

[1] عُبَادَةَ بْنَ الصَّامِتِ يَقُولُ : قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَنَحْنُ فِي مَجْلِسٍ تُبَايِعُونِي عَلَى أَنْ لاَ تُشْرِكُوا بِاللَّهِ شَيْئًا ، وَلاَ تَسْرِقُوا ، وَلاَ تَزْنُوا ، وَلاَ تَقْتُلُوا أَوْلاَدَكُمْ ، وَلاَ تَأْتُوا بِبُهْتَانٍ تَفْتَرُونَهُ بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَأَرْجُلِكُمْ ، وَلاَ تَعْصُوا فِي مَعْرُوفٍ فَمَنْ وَفَى مِنْكُمْ فَأَجْرُهُ عَلَى اللهِ ، وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا فَعُوقِبَ فِي الدُّنْيَا فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهُ ، وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا فَسَتَرَهُ اللَّهُ فَأَمْرُهُ إِلَى اللهِ إِنْ شَاءَ عَاقَبَهُ وَإِنْ شَاءَ عَفَا عَنْهُ فَبَايَعْنَاهُ عَلَى ذَلِكَ. ( البخارى )

**فقه څه ته وايي؟**

فقه په عربي ژبه کي په يو شي پوهېدلو ته وايي ، د قرآني او نبوي احاديثو په اصطلاح کي بيا فقه ديني پوهي ته وايي ( )البته د مطلق پوهي په معنى يې هم[1] استعمال راغلی دی.

متقدمينو هم فقه د ديني پوهي په معنى استعمال کړې ده، ابوحنيفه رحمه الله چي د فقهي تعريف په معرفة النفس ما لها و عليها کړی دی( ) د دغه تعريف څخه يې ديني پوهه يعني د عقايدو، احکامو او اخلاقو پوهه مراد ده.

د متاخرينو په اصطلاح کي ديني پوهه پر درو برخو وېشل کيږي، هغه علم چي په هغه کي د عقايدو بحث کيږي هغه ته علم الکلام وايي. هغه علم چي په هغه کي د ظاهري اعمالو لکه د لمانځه او زکات د صحت او فساد احکام بيانيږي هغه ته علم الفقه وايي، هغه علم چي په هغه کي د باطني صفاتو لکه

---

[1] وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا كَافَّةً فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِنْهُمْ طَائِفَةٌ لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنْذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ (١٢٢)التوبة

ايضا عن مُعَاوِيَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : مَنْ يُرِدِ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ (البخاري)

[2] والفقه معرفة النفس ما لها وما عليها ويزاد عملا ليخرج الاعتقاديات والوجدانيات فيخرج الكلام والتصوف ومن لم يزد أراد الشمول" هذا التعريف منقول عن أبي حنيفة. (شرح التلويح على التوضيح)

اخلاص ، شکر ، توکل ، ریا او حسد بحث کیږي هغه ته علم التصوف یا علم السلوک وایي.

**شریعت څه ته وایي؟**

د الله تعالی لخوا ځخه چي بندګانو ته په قران پاک کي او هم د محمد علیه السلام په ژبه کوم حکمونه بیان سوي دي هغه که د عقیدې اړوند دي او که د ظاهري عملونو او باطني صفاتو سره تعلق لري، ټول د شریعت په نامه یادیږي.

د جبریل علیه السلام په حدیث کي لومړی پوښتنه فاخبرني عن الایمان علم الکلام ته راجع کیږي، دوهمه پوښتنه فاخبرني عن الاسلام یې علم الفقه ته راجع کیږي، دریمه پوښتنه فاخبرني عن الاحسان یې علم التصوف ته راجع کیږي. ځکه د عقایدو بحث په علم الکلام کي کیږي ، د لمانځه ، زکات ، روژې او د حج بحث په علم الفقه کي کیږي او د احسان یعني اخلاص بحث په علم التصوف کي کیږي.

جبریل علیه السلام د انسان په شکل کي راغلی وو پورته پوښتني یې وکړې ولاړی ، رسول الله صلی الله علیه و سلم صحابه کرامو ته وویل( ): دا کس جبریل علیه السلام وو د دي لپاره راغلی وو چي تاسو ته دین وښیي. پدې حدیث کي د سوال او جواب په طریقه ایمان، اسلام او احسان ښوول سوی

---

[1] عَلَيَّ بِهِ فَنُظِرَ فَلَمْ يُوجَدْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : هَذَا جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ جَاءَ لِيُعَلِّمَكُمْ دِينَكُمْ. (مسند البزار)

دی او دا درې واړه رسول الله دین بللی دی، د دغه دین ټولو احکامو ته شريعت هم وايي.

خو پدې بايد پوه سو چي د دغو درو واړو علومو يعني د علم الكلام ، علم الفقه او علم السلوک اصلي ماخذ قران او نبوي احاديث دي ، په قران کريم او نبوي احاديثو کي عقايد، احکام او باطني ښه او بد ټول صفات ذکر سوي دي.

لهذا که څوک د قران کريم تفسير او ترجمه او نبوي احاديث پر جيد عالم چي په مسلکي ډول تدريس کوي ولولي، نو هغه ته به ان شاء الله تعالى د عقيدې ، احکامو او باطني صفاتو دلايل يعني د درو واړو علومو پوره علم حاصل سي.

**طريقت څه ته وايي؟**

لکه څه ډول چي ظاهري اعمال دوه قسمه دي:

امرونه: يو قسم ئې امرونه دي چي بنده يې په کولو امر سوی دی، لکه لمونځ ، زکات روژه ، حج او داسي نور.

منهيات: بل قسم يې منهيات دي، چي بنده ئې له کولو څخه منع سوی دی، لکه زنا ، غلا، ناحقه قتل او داسي نور.

دغه ډول باطني صفات هم دوه ډولونه لري:

يو قسم يې هغه دي چي بنده يې بايد په ځان کي را پيدا کړي لکه اخلاص، خوف، توکل او داسي نور.

بل قسم يې هغه دي چي د هغو څخه بايد بنده باطن صفا وساتي لکه ريا ، بخل ، حسد او داسي نور ( [1] ).

د باطني او ظاهري اصلاح او تزکيې چي کومي طريقې دي، هغو ته په اصطلاح کي طريقت وايي، مثلا د اخلاص د راپيدا کولو او د بخل د له منځه وړلو لپاره، چي کومي طريقې پر کار اچول کيږي، دغه ډول يو کس څرنگه د پنځو لمونځو په جماعت د اداء کولو او د روژو د نيولو او د نورو عباداتو د کولو سره يې عادت جوړ سي همدغو طريقو ته طريقت ويل کيږي.

د اشتباه له منځه وړل: ځيني عوام تصوف او طريقت د شريعت څخه بيل گڼي؛ ځکه دوی فکر کوي، چي يوازي د ظاهري اعمالو احکامو ته شريعت ويل کيږي؛ خو دا يوه اشتباه ده ځکه شريعت د ټولو هغو الهي احکامو مجموعې ته ويل کيږي، کوم چي الله تعالی انسانان په مکلف کړي دي، پدې کي ځيني احکام د عقيدې سره تعلق لري په علم الکلام کي بحث پر کيږي. ځيني د ظاهري اعمالو سره تعلق لري، چي د متاخرينو په اصطلاح فقهي احکام بلل کيږي او ځيني د باطني اعمالو سره تعلق لري، چي د علم التصوف په نامه يادېږي لهذا تصوف د شريعت څخه بېل نه دی بلکي د شريعت يوه برخه ده.

[1] راجع لمزيد من المعلومات ربع المنجيات و ربع المهلكات من احياء علوم الدين!

د يادوني وړ ده، چي د متاخرينو د اصطلاح له مخي علم الفقه او علم التصوف سره بېل دي؛ ځکه فقه د ظاهري اعمالو د حکمونو پيژندني ته ويل کيږي او تصوف د باطني اعمالو د حکمونو پيژندني ته ويل کيږي.

ځيني کسان طريقت او تصوف په اصطلاح کي د يوې معنی لرونکي يا مترادف الفاظ ګڼي؛ خو صحيح دا ده چي مترادف الفاظ ندي، لکه مخته چي مو وويل تصوف هغه علم دی، چي د باطني اعمالو حکمونه په پيژندل کيږي او طريقت بيا د ظاهري او باطني اعمالو په ځان کي د را پيدا کولو کړنلاري يا عملي مشق او تربيت ته ويل کيږي ، د مثال په ډول: اخلاص څه ته وايي؟ حکم يې څه دی؟ کبر څه ته وايي؟ حکم يې څه دی؟ د دغه ډول احکامو پېژندلو ته علم التصوف ويل کيږي، لکه څه ډول چي د لمانځه او نورو ظاهري اعمالو پيژندني ته علم الفقه ويل کيږي، د تصوفو د کتابونو څخه يو هم د امام غزالي رحمه الله تعالی احياء علوم الدين کتاب دی د دغه کتاب ربع المنجيات او ربع المهلکات که مطالعه کړی موضوع به ښه در ته واضح سي.

خو داچي يو کس د ريا علاج په کومه طريقه وکړي؟ څنګه اخلاص په ځان کي را پيدا کړي؟ څنګه د پنځو لمونځونو په جماعت د اداء کولو عادت جوړ کړي يعني د اصلاح او يوه ښه متدين مومن د جوړېدلو لپاره چي کومي طريقې دي دغو طريقو او عملي مشق ته طريقت ويل کيږي.

په بل عبارت د باطني کمالاتو او د باطني امراضو پيژندني ته علم التصوف يا علم السلوک وايي.

د باطني او ظاهري امراضو د تخليې يعني باطن او ظاهر د بدو صفاتو څخه د صفا کولو او د ظاهري او باطني کمالاتو د تحليې يعني په ځان کي د ښو صفاتو د را پيدا کولو او د ښو اعمالو سره عادت جوړېدلو ( ) طريقو ته طريقت وايي. ١

**د طریقت مقصد:**

حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په تربية السالک کي د طريقت د حقيقت په اړه ښکلی معلومات ليکلي دي، د هغه د ليکني يو لږ مقاصد پدې ډول دي:

د طريقت اصلي مقصد کشف، کرامات، وړاند ويني ، په دم او تعويذ ناروغۍ جوړول، دنيوي کاروبار سمبدل او دي ته ورته نور شيان نه دي، بلکي د طريقت اصلي مقصد د الله تعالی راضي کول دي ( ). ٢

**الله تعالی په څه شي راضي کيږي؟**

الله تعالی د اسلام سپيڅلی دين د مسلمانانو لپاره خوښ کړی دی ، څوک چي اسلامي عقيده خپله کړي، په څونه زياته اندازه چي خپل ظاهر او باطن

---

١ رنګمال چي دروازه رنګوي اول يې په ريګمال زنګونه ليري کوي دې ته په اصطلاح تخليه وايي بيا ښکلی رنګ ورکوي دې ته تحليه وايي.

٢ تربية السالک حقيقت طريقت: خلاصه سلوک....٧ صفحه بلکه اصل مقصود حق تعالی کا راضی کرنا هی....

٣ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا...(٣ المائدة)

په اسلامي احکامو او اخلاقو مزين او ښايسته کړي او د منهياتو او ناوړه صفاتو څخه ځان وساتي په هغه اندازه به د قدر وړ او الله تعالى ځني راضي وي .[1]

**د صحابه کرامو بيعت:**

د بيعة الإرشاد لپاره يو دليل هم د عبادة بن صامت رضي الله عنه حديث دى د حديث متن په لاندي حاشية کي لوستلاى سى .[2]

د عباده بن صامت رضي الله عنه په روايت کي صحابه کرامو رضي الله عنهم د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره پر شپږو شيانو بيعت کړى دى، لومړى شى يې عقيدې ته راجع کيږي، هغه داچي دوى به پر خپل ايمان ثابت پاتيږي او د شرک څخه به ځانونه ساتي.

وروسته بيا د غټو گناهونو پر نه کولو بيعت ځني اخيستل سوى دى، البته په بيعت کي فقط هغه څلور غټې گناهونه ذکر سوي دي کوم چي پر کوونکي يې حد جاري کيږي لکه غلا، زنا، قتل، پر پاک لمني سړي او ښځي د زنا تور لگول.

---

[1] ...إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ (١٣الحجرات)

[2] أَنَّ عُبَادَةَ بْنَ الصَّامِتِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وَكَانَ شَهِدَ بَدْرًا وَهُوَ أَحَدُ النُّقَبَاءِ لَيْلَةَ العَقَبَةِ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ، وَحَوْلَهُ عِصَابَةٌ مِنْ أَصْحَابِهِ: " بَايِعُونِي عَلَى أَنْ لاَ تُشْرِكُوا بِاللَّهِ شَيْئًا، وَلاَ تَسْرِقُوا، وَلاَ تَزْنُوا، وَلاَ تَقْتُلُوا أَوْلاَدَكُمْ، وَلاَ تَأْتُوا بِبُهْتَانٍ تَفْتَرُونَهُ بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَأَرْجُلِكُمْ، وَلاَ تَعْصُوا فِي مَعْرُوفٍ...( البخاري)

شپږم شی د اوامرو پر امتثال بيعت ځني اخيستل سوی دی، يعني د الله تعالى امرونه به پر ځای کوي، البته په يوه جمله کي يې داسي ورته فرمايلي دي: په معروفو کارونو کي به زما نافرماني نه کوئ، يعني هر نيک کار چي زه مو په امر کوم هغه به کوئ.

**د بيعت د اول جزء تشريح:**

د صحابه کرامو د بيعت لومړی شی د شرک نه کول وو: (**أَنْ لاَ تُشْرِكُوا بِاللَّهِ شَيْئًا** ) د الله تعالى سره به هيڅ شی نه شريک کوئ.

دلته د مؤمنانو د پوهاوي لپاره يو شمېر هغه ناوړه عقيدې او کارونه ذکر کوو، چي يو شمېر نا اهله پيران يا هم د هغوی مريدان په اخته دي.

اول : پير ته د تحيې يا اکرام په نيت سجده کول د اسلام په مقدس دين کي حرامه ده البته په مخکنيو ځينو دينونو[1] کي د تحيې يعني د سلامۍ سجده جايز وه [2].

---

[1] عَنْ قَيْسِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ أَتَيْتُ الْحِيرَةَ فَرَأَيْتُهُمْ يَسْجُدُونَ لِمَرْزُبَانٍ لَهُمْ فَقُلْتُ رَسُولُ اللَّهِ أَحَقُّ أَنْ يُسْجَدَ لَهُ قَالَ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ –صلى الله عليه وسلم– فَقُلْتُ إِنِّى أَتَيْتُ الْحِيرَةَ فَرَأَيْتُهُمْ يَسْجُدُونَ لِمَرْزُبَانٍ لَهُمْ فَأَنْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَحَقُّ أَنْ نَسْجُدَ لَكَ. قَالَ « أَرَأَيْتَ لَوْ مَرَرْتَ بِقَبْرِى أَكُنْتَ تَسْجُدُ لَهُ ». قَالَ قُلْتُ لاَ. قَالَ « فَلاَ تَفْعَلُوا لَوْ كُنْتُ آمِرًا أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لأَحَدٍ لأَمَرْتُ النِّسَاءَ أَنْ يَسْجُدْنَ لأَزْوَاجِهِنَّ لِمَا جَعَلَ اللَّهُ لَهُمْ عَلَيْهِنَّ مِنَ الْحَقِّ (ابو داود)

[2] وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ وَخَرُّوا لَهُ سُجَّدًا وَقَالَ يَا أَبَتِ هَذَا تَأْوِيلُ رُؤْيَايَ مِنْ قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّي حَقًّا...(١٠٠ يوسف) { وَخَرُّواْ لَهُ } أي أبواه وإخوته { سُجَّدًا } تحية له فإنه كان السجودُ عندهم جارياً مجرى التحيةِ والتكرمةِ كالقيام والمصافحةِ وتقبيلِ اليد ونحوِها من عادات الناس

د مؤمنانو خپلمنځي تحيه او سلامي په جنت كي لا هم يو و بل ته السلام عليكم و رحمة الله ويل دي ، په سلام كي ملا خمول يا كړول لا هم كراهيت لري او منع ده .[1]

دوهم: پير يا قبر ته د عبادت په اراده سجده كول د ټولو علماو په اتفاق شرك دى او مسلمان په كافر كيږي.

دريم : پير ته د غيبو د علم نسبت كول: كه پير د غيبو د علم دعوه كوله، يا يې مريد پدې عقيده وو، چي پير زما د زړه په حال خبر دى، دا د شرك عقيده ده ځكه د سورة النمل په پنځه شپيتم ايت كي الله تعالى په واضح ډول فرمايلي دي ، چي د الله تعالى څخه ماسيوا[2] بل هيڅوک په غيبو علم نه لري.

---

الفاشية في التعظيم والتوقير ، وقيل : ما كان ذلك إلا انحناءً دون تعفيرِ الجباه ، ويأباه الخُرُورُ ( تفسير ابي السعود )

[1] عن أنس بن مالك قال قال رجل : يا رسول الله الرجل منا يلقي أخاه أو صديقه أينحني له ؟ قال لا قال أفيلتزمه ويقبله ؟ قال لا قال أفيأخذ بيده ويصافحه ؟ قال نعم قال أبو عيسى هذا حديث حسن قال الشيخ الألباني : حسن . ( الترمذي)

وَأَخْرَجَ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْأَوْسَطِ مِنْ حَدِيثِ أَنَسٍ : كَانُوا إِذَا تَلَاقَوْا تَصَافَحُوا وَإِذَا قَدِمُوا مِنْ سَفَرٍ تَعَانَقُوا .... فَإِنْ قُلْت : مَا وَجْهُ التَّوْفِيقِ بَيْنَ حَدِيثِ عَائِشَةَ هَذَا وَبَيْنَ حَدِيثِ أَنَسٍ الْمُتَقَدِّمِ الَّذِي يَدُلُّ عَلَى عَدَمِ مَشْرُوعِيَّةِ الْمُعَانَقَةِ ، قُلْت : حَدِيثُ أَنَسٍ لِغَيْرِ الْقَادِمِ مِنْ السَّفَرِ ، وَحَدِيثُ عَائِشَةَ لِلْقَادِمِ وَاللَّهُ أَعْلَمُ ( تحفة الاحوذي )

[2] قُلْ لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ (٦٥ النمل)

د غيبو علم د الله تعالی د ځانګړو صفاتو څخه دی ، د الله تعالی په ځانګړو صفاتو کي مخلوق ور سره شريکول شرک دی.

ملا علي القاري رحمه الله د امام ابوحنيفه رحمه الله تعالی د عقايدو د مشهور کتاب الفقه الاکبر په شرح کي وايي: د حنفي مذهب علماء کرامو صراحتا هغه کس کافر ګڼلی دی، چي نبي صلی الله عليه و سلم ته د غيبو علم ثابتوي، ځکه مخلوق ته د غيبو علم ثابتول د قرآن کريم خلاف عقيده ده[١].

البته د غيبو ځيني داسي شيان سته چي الله تعالی د وحيو په ذريعه رسولان او نبيان په خبر کړي دي، د وحيو په ذريعه د ځينو غيبي کارونو څخه خبرېدل علم غيب نه بلل کيږي بلکي دې ته د غيبو اطلاع او اخبار ويل کيږي، چي دا د رسولانو د رسالت دليل ګڼل کيږي.

دغه ډول د يو ولي يا عادي مسلمان په زړه کي د الهام په ډول د يو کار د کېدو فکر پيدا کېدل، د غيبو علم نه ګڼل کيږي، مثلا د احد د غزا په ماښام کي د جابر پلار خپل زوی جابر رضي الله عنه ته د خپلو پوروونو او لونو په اړه

---

١ قَالَ عَلِي الْقَارِي فِي شَرْح الْفِقْه الْأَكْبَر: إِنَّ الْأَنْبِيَاء لَمْ يَعْلَمُوا الْمُغَيَّبَات مِنْ الْأَشْيَاء إِلَّا مَا أَعْلَمَهُمْ اللَّه أَحْيَانًا ، وَذَكَرَ الْحَنَفِيَّة تَصْرِيحًا بِالتَّكْفِيرِ بِاعْتِقَادِ أَنَّ النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْلَم الْغَيْب لِمُعَارَضَةِ قَوْله تَعَالَى { قُلْ لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ } كَذَا فِي الْمُسَايَرَةِ .(عون المعبود شرح سنن ابي داود)

وصيت وکړ او ورته وئې ويل: داسي راته ښکاري چي سبا ورځ به تر ټولو مخکي زه شهيد کيږم همداسي وسوه ( )[1].

د قرآني ايت له مخي هيچا ته د ځان او بل د مرگ ځای او نيټه نه معلوميږي( )، البته په الهامي ډول لکه د[2]جابر رضي الله عنه د پلار په زړه کي چي د خپل شهادت په اړه څه ور وگرځېدل، دا علم غيب نه گڼل کيږي بلکي يو کراماتي او ملکي الهام دی، چي الله تعالی ئې کله - کله د خپلو نيکو بند گانو په زړونو کي وراچوي.

په الهام نه يقين حاصليږي ، او نه الهام ته علم ويل کيږي ، او نه هم د چا په اختيار کي دي. کله ناکله چي زموږ پر ارواح يو شی واوري او هغسي وسي دغه هم د الهام يو ډول دی، لکه د احد د غزا په ماښام چي د جابر بن عبدالله د پلار پر ارواح اوريدل، چي سبا به شهيد کيږي دغه ته د غيبو علم نه وايي بلکي د کرامت په ډول يې د شهادت الهام دی.

---

[1] عَنْ جَابِرٍ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، قَالَ : لَمَّا حَضَرَ أُحُدٌ دَعَانِي أَبِي مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَ مَا أُرَانِي إِلاَّ مَقْتُولاً فِي أَوَّلِ مَنْ يُقْتَلُ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم وَإِنِّي لاَ أَتْرُكُ بَعْدِي أَعَزَّ عَلَيَّ مِنْكَ غَيْرَ نَفْسِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَإِنَّ عَلَيَّ دَيْنًا فَاقْضِ وَاسْتَوْصِ بِأَخَوَاتِكَ خَيْرًا فَأَصْبَحْنَا فَكَانَ أَوَّلَ قَتِيلٍ (البخاري)

[2] إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ (٣٤ لقمان)

د اولياوو الهاماتو ته په اصطلاح کي کرامت وايي د عادي کسانو الهاماتو ته معونت وايي([1]).

ځلورم: د پير په حکم د شريعت حرام شی حلال بلل مثلاً: د پير په حکم ږيره خريل ، شراب چښل ، روژه خوړل ، لمونځ نه کول حلال بلل ، يا د شريعت حلال شی حرام بلل دا هم په شرک کي شمېرل کيږي، ځکه تحليل او تحريم ( يو کار بندګانو ته حلالول يا يې ورته حرامول) د رب العالمين کار دی.

رسول الله صلی الله عليه و سلم چي کوم شيان حرام يا حلال بللي دي هغه يې د ځان څخه نه دي کړي، بلکي د الله تعالی په حکم يې کړي دي؛ ځکه د رسول دنده تحريم او تحليل نه دی، بلکي امت ته د الهي تحريم او تحليل او نورو حکمونو ابلاغ او رسول دي.

په دغه ايت کي (**اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ** ...(**٣١ التوبة**) کي راغلي دي: يهودانو او نصرانيانو خپل علماء او عابدان بېله الله تعالی څخه ارباب يعني خدايان ګرځولي وه([2]).

عدي بن حاتم رضي الله عنه وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: يهودانو د خپلو علماؤ او نصرانيانو د خپلو عابدانو عبادت نه کاوه، بلکي د

---

[1] (وقال) الجمهور : إن الخارق للعادة ينقسم إلى إرهاص ومعجزة وكرامة ومعونة واستدراج (جلاء العينين)

[2] { أرباباً من دون الله } : أي آلهة يشرعون لهم فيعملون بشرائعهم من حلال وحرام .(ايسر التفاسير).

شريعت حلال کار چي به يې ورته حرام کړ هغه دوى حرام باله ، د شريعت حرام کار چي به يې ورته حلال کړ هغه دوى حلال باله ، همدا د دوى عبادت سو( [١] ).

د شبهې له منځه وړل: په اهل الحديث يا غير مقلدينو کي، چي په اصطلاح کي وهابيان ورته وايي، ځيني داسي کسان هم سته چي هغوى مقلدين( د څلورو مذهبونو پيروان) د پورته ايت مصداق ګڼي.

دوى وايي: مقلدين يعني په څلورو مذهبونو کي د يو مذهب پيروي کوونکي د يهودانو او نصرانيانو په شان دي ، دوى ته چي د مذهب امام يو شى حلال کړى وي دوى هغه حلال بولي او چي يو شى يې ورته حرام کړى وي، هغه حرام بولي.

دا د دغو غير مقلدينو جاهلانه اعتراض او د بې علمۍ نښه ده ، که لږ څه علم او انصاف ور سره واى ، د اجتهاد په معني پوهېدلاى، د څلورو مذهبونو په اړه يې معلومات درلودلاى نو کله به يې هم مقلدين د دې ايت مصداق نه بللاى.

---

[١] عن عدي بن حاتم قال : أتيت النبي صلى الله عليه و سلم وفي عنقي صليب من ذهب فقال يا عدي اطرح عنك هذا الوثن وسمعته يقرأ في سورة براءة { اتخذوا أحبارهم ورهبانهم أربابا من دون الله } قال أما إنهم لم يكونوا يعبدونهم ولكنهم كانوا إذا أحلوا لهم شيئا استحلوه وإذا حرموا عليهم شيئا حرموه (الترمذي)

د دې لپاره چي عوام د دوی پدغه جاهلانه استدلال د تقليد په اړه شکمن نه سي، د اجتهاد په اړه لنډ معلومات وړاندي کوو:

د مجتهدينو، حتی د صحابه کرامو رضي الله عنهم او تابعينو د إفتاء منهج او طريقه دا وه:

د دوی څخه چي به د يو کار د جواز او حرمت په اړه پوښتنه وسوه ، دوی به لومړی په قران کريم کي د هغه د حکم تلاښ کاوه ، که به ئې په قران کريم کي د هغي پوښتني اړوند صريح حکم پيدا کړ، نو د قراني ايت په اساس يې هغه حرام يا حلال باله.

مثلا: د لمانځه ، زکات روژې او حج د فرضيت حکم په واضح ډول په قران کريم کي بيان سوی دی، همدا ټول کارونه د همدغو صريحو ايتونو په اساس ټول مجتهدين فرض بولي، د فرضيت د ثابتولو لپاره يې اجتهاد نه کوي؛ ځکه اجتهادي مسايل نه دي، بلکي حکم يې واضح او ښکاره دی، د فرضيت څخه ماسيوا د بل حکم احتمال پکښې نسته.

همدا راز که د شرابو ، زنا ، خُمار او سود په اړه پوښتل سوي دي، دلته يې هم په اجتهاد حکم نه ثابتاوه؛ ځکه د دغو شيانو حکم په واضح ډول په قران کريم کي بيان سوی دی ، د همدغو قراني ايتونو په اساس دا ټول کارونه حرام بولي.

که به ئې په قران کريم کي د يو کار صريح حکم پيدا نه کړ، بيا نبوي احاديثو ته مراجعه کوي، که په نبوي احاديثو کي يې صريح حکم و موندل سي، د هغو احاديثو مطابق يې حکم بياناوه ، پدې صورت کي هم پخپل اجتهاد حکم نه

ثابتوي مثلا : كه وپوښتل سي ، ايا په يوه وخت كي څوک عمه او د هغې وريره په نكاح كولاى سي؟

د دغي مسئلې جواب په قران كريم كي په څرگند ډول نسته، كه څه هم په قران كريم كي په يو وخت كي د دوو خوندو د نكاح حرمت په واضح ډول ذكر سوى دى.

مجتهد عمه او وريره پر دوو خويندو نه قياس كوي، بلكې په حديثو كي يې د حكم تلاښ كوي، په حديثو كي د عمه او وريرې د يو ځاى نكاح د حرمت صريح حكم موجود دى، د هغه حديث په اساس يې د حرمت حكم كوي، چي يو كس ته دا حرامه ده، چي په يو وخت كي يوه ښځه او د هغې وريره دده په نكاح كي وي.

همداسي نور مسائل او موضوعات دي، كه ئي د مسئلې حكم په واضح ډول په قران او حديثو كي پيدا نه كړي، نو بيا د امت اجماع ته مراجعه كوي.

كه د هغې مسئلې د حكم په اړه د امت اجماع نه وه، نو مجتهد اجتهاد كوي.

د اجتهاد مطلب دا نه دى چي مجتهد په پټو سترگو د ځان څخه د يو كار حكم بيان كړى دى؛ ځكه مخكي مو وويل: د يو شي حرامول يا يې حلالول دا د رسول اختيار لا هم ندى ، بلكي رسول الله صلى الله عليه و سلم حلال او حرام په وحيو بيان كړي دي [1] .

[1] وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى (٣) إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى (٤ النجم)

نو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به وحيو ته انتظار كاوه او د وحيو په ذريعه ئې د حلال او حرام حكم كاوه، د مجتهد په قول خو هيڅ وخت هم يو شى حرام يا حلال نسي كېدلاى.

د اجتهاد مقصد دا دى، كه د قراني اياتونو او نبوي احاديثو مراد واضح او ځرگند نه وو، بلكي څو احتمالات يې لرل، نو مجتهد په اجتهاد سره د همدغو احتمالاتو څخه يو احتمال تعيينوي. يا د يو شي حكم په قران كريم ، نبوي احاديثو او اجماع كي په صريح او واضح ډول و نه موندل سي، نو مجتهد يې د قراني ايتونو ، نبوي احاديثو او اجماع پر احكامو قياسوي ، په قياس يې د جواز يا د حرمت حكم ثابتوي.

ټول انسانان تر قيامته پوري د اسلام په دين مكلف دي او دا ښكاره خبره ده، چي د قيامت تر ورځي پوري به پرمختگونه رامنځ ته كيږي، نوي معاملات به را منځ ته كيږي، دا ټول جزئيات او د هغو حكمونه په قران كريم او نبوي احاديثو كي صراحتا ندي ذكر سوي خو عمومي قاعدې او د علتونو حكم يې ذكر سوى دى، چي د همدغو عمومي قاعدو او اصولو او د علتونو پر اساس يو شى حلال يا حرام گڼل كيږي، دغه قياس دى، نو د قياس څخه چاره نسته، بلكي د الله تعالى امر دى .[1]

[1] يُخْرِبُونَ بُيُوتَهُمْ بِأَيْدِيهِمْ وَأَيْدِي الْمُؤْمِنِينَ فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الْأَبْصَارِ (٢ الحشر)

دا چي ځيني اهل الحديث( په اصطلاح وهابيان) چي مقلدين د يهودانو او نصرانيانو په شان ددغه (اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ ...(٣١ التوبة) ايت مصداق بولي دا د هغوی جهالت او تعصب دی.

البته که پير مريد ته داسي کار حلال او جايز کاوه، چي هغه په قطعي دلايلو حرام وو دا بيا د الوهيت دعوه او ښکاره کفر دی، مريد يې هم په منلو ور سره کافر کيږي – نعوذ بالله- .

پنځم: د مړه يا ژوندي پير ننګول: د پير په اړه داسي عقيده درلودل چي د هر ځای څخه يې اواز اوري او مشکل يې ور حل کولای سي، دا هم د اسلامي عقيدې خلاف عقيده ده ، مؤمنان بايد ځان ځني وساتي( )[1]؛ ځکه دغه ډول عقيده پر دوو باطلو عقيدو بناء ده:

---

[1] وَمَا بِكُمْ مِنْ نِعْمَةٍ فَمِنَ اللَّهِ ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فَإِلَيْهِ تَجْأَرُونَ (٥٣) ثُمَّ إِذَا كَشَفَ الضُّرَّ عَنْكُمْ إِذَا فَرِيقٌ مِنْكُمْ بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ (٥٤) أي رفع ما مسكم من الضر إذا فَرِيقٌ مِنْكُمْ بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ أي يتجدد إشراكهم به تعالى بعبادة غيره سبحانه ، والخطاب في الآية إن كان عاما – فمن – للتبعيض والفريق الكفرة ، وإن كان خاصا بالمشركين كما استظهره في الكشف – فمن – للبيان على سبيل التجريد ليحسن وإلا فليس من مواقعه كما قيل ، والمعنى إذا فريق هم أنتم يشركون وجوز على هذا الاحتمال في الخطاب كون – من – تبعيضية أيضا لأن من المشركين من يرجع عن شركه إذا شاهد ضرا شديدا كما يدل عليه قوله تعالى : فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ فَمِنْهُمْ مُقْتَصِدٌ [لقمان : ٣٢] على تقدير أن يفسر الاقتصاد بالتوحيد لا بعدم الغلو في الكفر ،... وفي الآية ما يدل على أن صنيع أكثر العوام اليوم من الجؤار إلى غيره تعالى ممن لا يملك لهم بل ولا لنفسه نفعا ولا ضرا عند إصابة الضر لهم وإعراضهم عن دعائه تعالى عند ذلك بالكلية سفه عظيم

لومړی: مړي او پير ته د غيبو علم ثابتول،

دوهم : مړي او پير ته فوق الاسباب قدرت ثابتول.

الله تعالی سميع او قدير دی ، بنده چي په هر ځای کي په لوړ او ټيټ اواز ږغ وکړي الله تعالی يې اوري ، همدا راز بنده چي هر ځای په هر شي کي د الله تعالی څخه کومک وغواړي الله جل جلاله کومک ورسره کولای سي؛ ځکه الله تعالی اورېدونکی دی هر څه اوري او قادر مطلق دی، اسبابو ته اړتيا نه لري، د يو شي د پيدا کولو اراده چي وکړي هغه يو دم را پيدا کوي. انسانان د اورېدو لپاره غوږونو ته اړتيا لري ، خو په غوږونو د ليري واټن څخه بيله وسايلو( ) اواز نسي اورېدلای، [1]دغه ډول انسانان د انساني توان په اندازه په وسايلو او اسبابو يو د بل سره کومک هم کولای سي!

---

وضلال جديد لكنه أشد من الضلال القديم ، ومما تقشعر منه الجلود وتصعر له الخدود الكفرة أصحاب الأخدود فضلا عن المؤمنين باليوم الموعود إن بعض المتشيخين قال لي وأنا صغير : إياك ثم إياك أن تستغيث بالله تعالى إذا خطب دهاك فإن الله تعالى لا يعجل في إغاثتك ولا يهمه سوء حالتك وعليك بالاستغاثة بالأولياء السالفين فإنهم يعجلون في تفريج كربك ويهمهم سوء ما حل بك فمج ذلك سمعي وهمي دمعي وسألت الله أن يعصمني والمسلمين من أمثال هذا الضلّال المبين ، ولكثير من المتشيخين اليوم كلمات مثل ذلك لِيَكْفُرُوا بِمَا آتَيْنَاهُمْ من نعمة الكشف عنهم ( روح المعاني )

[1] : (موبايل، راډيو او نور وسائل.

که مريد د پير په باره کي داسي عقيده ولري، چي بېله اسبابو څخه يې کومک کولای سي، نو دا بنده ته د الله تعالی د قدرت په شان قدرت ثابتول دي، چي دا هم باطله عقيده ده.

ځکه يوازی الله تعالی قادر مطلق ذات دی، اسبابو ته هيڅ اړتيا نه لري، مځکي، اسمانونه او په مځکو او اسمانونو کي چي کوم شيان دي دا يو شی لا هم نه وو؛ خو الله تعالی په خپل قدرت را پيدا کړل ، نو بنده ته فوق الاسباب يعني د بنده ګي د اسبابو څخه لوړ قدرت ثابتول د اسلامي عقيدې خلاف عقيده ده.

تر رسول الله صلی الله عليه و سلم لوړ صالح شخصيت نسته؛ خو هيڅکله صحابه کرامو ندی را ننګولی؛ ځکه هغوی پدې عقيده وه، چي رسول الله صلی الله عليه و سلم انسان او بشر دی، د غيبو علم نه لري ، د ليري واټن څخه شی نه اوري او بېله اسبابو څخه د چا سره کومک نسي کولای.

رسول الله صلی الله عليه و سلم عاصم بن ثابت او د هغه نهه ملګري رضي الله عنهم د تجسس لپاره وليږل، مشرکان په خبر سول محاصره يې کړل ، اته تنه يې شهيدان کړل او دوه يې ځني بنديان کړل.

دوی چي محاصره سول ، عاصم رضي الله عنه وويل : **اللَّهُمَّ أَخْبِرْ عَنَّا نَبِيَّكَ!** يا الله ! زموږ په حال خپل نبي را خبر کړه( [١] ).

[١] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَشَرَةً عَيْنًا وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ عَاصِمَ بْنَ ثَابِتٍ الأَنْصَارِيَّ جَدَّ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ حَتَّى إِذَا كَانُوا بِالْهَدَةِ بَيْنَ

همدا د صحابه کرامو عقيده وه، رسول الله يې نه دی ننګولی؛ ځکه دوی پوهېدل چي که اواز ور وکړي، هغه يې اواز نه اوري او نه هم کومک ور سره کولای سي، بلکي داسي يې وويل: يا الله ! ته زموږ په حال خپل نبي را خبر کړه.

الله تعالی په وحيو رسول الله د دوی په حال خبر کړ ، رسول الله صلی الله عليه و سلم صحابه کرام د عاصم او ور سره ملګرو په شهادت خبر کړل.

د احد په غزا کي اويا تنه صحابه کرام شهيدان سول، د مشرکانو د پوځ مشري ابو سفيان کوله، د جنګ څخه وروسته ابو سفيان د کاميابۍ نسبت هبل بت ته کاوه ، په ډېر افتخار يې ونګاوه وئې ويل : **أُعْلُ هُبَلْ، أُعْلُ هُبَلْ!** [1]

---

عُسْفَانَ وَمَكَّةَ ذُكِرُوا لِحَيٍّ مِنْ هُذَيْلٍ يُقَالُ لَهُمْ بَنُو لِحْيَانَ فَنَفَرُوا لَهُمْ بِقَرِيبٍ مِنْ مِئَةِ رَجُلٍ رَامٍ فَاقْتَصُّوا آثَارَهُمْ حَتَّى وَجَدُوا مَأْكَلَهُمُ التَّمْرَ فِي مَنْزِلٍ نَزَلُوهُ فَقَالُوا تَمْرُ يَثْرِبَ فَاتَّبَعُوا آثَارَهُمْ فَلَمَّا حَسَّ بِهِمْ عَاصِمٌ وَأَصْحَابُهُ لَجَؤُوا إِلَى مَوْضِعٍ فَأَحَاطَ بِهِمُ الْقَوْمُ فَقَالُوا لَهُمُ انْزِلُوا فَأَعْطُوا بِأَيْدِيكُمْ وَلَكُمُ الْعَهْدُ وَالْمِيثَاقُ أَنْ لاَ نَقْتُلَ مِنْكُمْ أَحَدًا فَقَالَ عَاصِمُ بْنُ ثَابِتٍ أَيُّهَا الْقَوْمُ أَمَّا أَنَا فَلاَ أَنْزِلُ فِي ذِمَّةِ كَافِرٍ ثُمَّ قَالَ اللَّهُمَّ أَخْبِرْ عَنَّا نَبِيَّكَ ، فَرَمَوْهُمْ بِالنَّبْلِ فَقَتَلُوا عَاصِمًا وَنَزَلَ إِلَيْهِمْ ثَلاَثَةُ نَفَرٍ عَلَى الْعَهْدِ وَالْمِيثَاقِ مِنْهُمْ. (صحيح البخاري، كتاب الجهاد والسير، باب هل يستأسر الرجل ومن لم يستأسر)

[1] قَالَ اى ابو سفيان يَوْمٌ بِيَوْمِ بَدْرٍ وَالْحَرْبُ سِجَالٌ إِنَّكُمْ سَتَجِدُونَ فِي الْقَوْمِ مُثْلَةً لَمْ آمُرْ بِهَا وَلَمْ تَسُؤْنِي ثُمَّ أَخَذَ يَرْتَجِزُ أُعْلُ هُبَلْ أُعْلُ هُبَلْ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم أَلاَ تُجِيبُوا لَهُ قَالُوا : يَا رَسُولَ اللهِ مَا نَقُولُ قَالَ قُولُوا اللَّهُ أَعْلَى وَأَجَلُّ قَالَ إِنَّ لَنَا الْعُزَّى ، وَلاَ عُزَّى لَكُمْ فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم أَلاَ تُجِيبُوا لَهُ قَالَ ، قَالُوا : يَا رَسُولَ اللهِ مَا نَقُولُ قَالَ قُولُوا اللَّهُ مَوْلاَنَا ، وَلاَ مَوْلَى

اې هبل ! دين دې غالب کړه ، اې هبل! دين دې غالب کړه

رسول الله صلى الله عليه و سلم مؤمنانو ته وويل: ولې جواب نه ورکوئ؟

هغوی ور ته وويل : څنګه جواب ورکړو ؟ رسول الله ورته وويل : داسې ووایاست : **اللَّهُ أَعْلَى وَأَجَلُّ!** الله تعالی تر ټولو لوړ او لوی ذات دی.

ابو سفيان وويل : **إِنَّ لَنَا الْعُزَّى، وَلاَ عُزَّى لَكُمْ** ، موږ خو عزی بت لرو تاسو عزی بت نه لرئ.

رسول الله صحابه کرامو ته وويل : ولې جواب نه ورکوئ؟ هغوی وويل : څه ورته ووايو؟

رسول الله ورته وويل : داسې ورته ووایاست : **اللَّهُ مَوْلاَنَا** ، **وَلاَ مَوْلَى لَكُمْ!** الله تعالی زموږ کومکي دی ، تاسو هیڅ کومکي نه لرئ.

ابو سفيان خپل هبل بت ننګاوه ، په عزی بت يې فخر کاوه ، پدې عقيده وو، چې د دوی بتانو پدې جنګ کې د دوی نصرت او کومک وکړ، رسول الله صلى الله عليه و سلم د دوی دغه عقيده ور رد کړه ، ورته وئې ويل: تر هر شي لوړ او لوی ذات الله تعالی دی، دا هر څه د هغه لخوا کيږي، الله تعالی زموږ ناصر او مولی دی ، ستاسو بتان ستاسو سره هیڅ کومک نسي کولای.

---

**لَكُمْ.( البخاری) فقال: أبو سفيان يفتخر بآلهته اعل هبل ... قال بن إسحاق معنى قوله اعل هبل أي ظهر دينك وقال السهيلي معناه زاد علوا وقال الكرماني فان قلت ما معنى اعل ولا علو في هبل فالجواب هو بمعنى العلي أو المراد أعلى من كل شيء( فتح الباري )**

**أعل هبل: اسم صنم، أي أظهر دينك.( الفجر الساطع )**

١
مؤمنان بايد په هر شي کي د رب العالمين څخه مدد وغواړي( ) د انبياؤ عليهم السلام په شان په هر شي کي الله تعالى ته په يا رب يا رب آواز وکړي( ).

په ما فوق الاسباب شيانو کي بيله الله تعالى څخه د بل چا څخه مدد او مرسته و نه غواړي( )، البته هغه کارونه چي وسايل او اسباب يي د انسانانو سره وي او په اسبابو سره کيږي، په هغو کي د بنده ګانو څخه هم کومک غوښتلای سي.

د بنده ګۍ حقيقت دا دی چي بنده خپل رب ته د بنده ګۍ سر ټيټ کړي، په هر شي کي ځان الله ته اړ او محتاج وګڼي او د الله تعالى څخه يې وغواړي له همدې کبله رسول الله صلى الله عليه و سلم دعا د عبادت مغز بللى
٤
دی( ).

بنده ګان که يو شي ته اړ وي، يا د يو شي غوښتنه ولري د هغه طلب بايد د رب العالمين څخه په دعاء وکړي او هم يې په اسبابو تلاښ وکړي.

---

١ : إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ﴿الفاتحة: ٥﴾

وعن ابن عباس قال قال رسول الله وإذا استعنت فاستعن بالله...الترمذي

[٢] وَنُوحًا إِذْ نَادَى مِنْ قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ (٧٦)الانبياء

[٣] إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ (٥ الفاتحة)

[٤] عن أنس بن مالك : عن النبي صلى الله عليه و سلم قال الدعاء مخ العبادة. (الترمذي)

د نبيانو هم همدا طريقه وه د حاجتونو لپاره يې هم دعاګاني کولې او هم يې عادي اسباب په کار اچول، په قران کريم کې د انبياؤ د **اللهم** ! **اللهم** ! او **ربنا** ! **ربنا** ! ډيرې دعاګاني را نقل سوي دي ( [1] )

که څوک اولاد غواړي، نو عادي اسباب يې دا دي چې سالم کس به د لنګون وړتيا لرونکې ښځه په نکاح کوي، الله تعالی دغه کس ته د هغې ښځې سره د جماع په نتيجه کې کېدلای سي زامن او لوڼې ورکړي، يا فقط زامن يا فقط لوڼې ورکړي يا يې وچ وګرځوي ( [2] )؛ ځکه د اسبابو په استعمال د شي وجود

---

[1] وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَى رَبَّهُ أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ (٨٣– الانبياء)
قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا أَنزِلْ عَلَيْنَا مَائِدَةً مِّنَ السَّمَاءِ تَكُونُ لَنَا عِيدًا لِّأَوَّلِنَا وَآخِرِنَا وَآيَةً مِّنكَ وَارْزُقْنَا وَأَنتَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿المائدة: ١١٤﴾
فَسَقَى لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّى إِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَا أَنْزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ (٢٤ القصص)
وَذَا النُّونِ إِذْ ذَهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ أَنْ لَنْ نَقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادَى فِي الظُّلُمَاتِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ (٨٧) فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَنَجَّيْنَاهُ مِنَ الْغَمِّ وَكَذَلِكَ نُنْجِي الْمُؤْمِنِينَ (٨٨)
وَزَكَرِيَّا إِذْ نَادَى رَبَّهُ رَبِّ لَا تَذَرْنِي فَرْدًا وَأَنْتَ خَيْرُ الْوَارِثِينَ (٨٩) فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَوَهَبْنَا لَهُ يَحْيَى وَأَصْلَحْنَا لَهُ زَوْجَهُ إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ (٩٠ الانبياء)

[2] ....يَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ الذُّكُورَ (٤٩) أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا وَيَجْعَلُ مَنْ يَشَاءُ عَقِيمًا...(٥١ الشورى)

حتمي نه دی؛ خو كله - كله بيا الله تعالى د مسلمان د دعاء په ذريعه په خارق العاده ډول يو شي ته وجود وركوي.

زكريا عليه السلام خپله هم بوډا وو، ښځه يې هم بوډۍ وه. الهي عادت دا دی چي په بوډاتوب كي د چا اولاد نه پيدا كيږي؛ خو الله تعالى زكريا عليه السلام ته د هغه په دعاء سره په خارق العادة ډول د يحيى عليه السلام په نامه زوی وركړی ( [1] ).

د الله تعالى سپېڅلو بندګانو، نبيانو او رسولانو په هر شي كي ځانونه الله ته اړ بلل، د مشكلاتو په حل كي يې د الله تعالى څخه مدد غوښتی؛ خو د دې تر څنګ يې اسباب هم په كار اچول، البته پر اسبابو يې اعتماد نه كاوه بلكي اعتماد يې صرف پر الله تعالى وو.

په قرآن كريم او د حديثو په ذخيره كي د هيڅ يو نبي څخه دا نه دي رانقل سوي، چي هغوی دي خپلو امتيانو ته ويلي وي، چي تاسو په مشكلاتو كي ما ننګوی، زه ستاسو مدد او مرسته كوم؛ ځكه بيله اسبابو يو شي ته وجود وركول د رب العالمين شان او خصوصيت دی.

شپږم : پير يا بل انسان ته د الله تعالى په چارو كي فوق الاسباب د تصرف واك او قدرت ثابتول هم د اسلامي عقيدې خلاف عقيده ده مؤمنان بايد ځان څني وساتي.

---

[1] وَزَكَرِيَّا إِذْ نَادَى رَبَّهُ رَبِّ لَا تَذَرْنِي فَرْدًا وَأَنْتَ خَيْرُ الْوَارِثِينَ (٨٩) فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَوَهَبْنَا لَهُ يَحْيَى وَأَصْلَحْنَا لَهُ زَوْجَهُ... (٩٠- الانبياء)

الله تعالی مالک الملک دی ، د سلطنت او واک کامل څښتن دی ، يوه ته پاچهي ورکوي ، د بل څخه پاچهي اخلي، يوه ته عزت ورکوي ، بل بيا خواروي، ورځ په شپه بدلوي، شپه په ورځ بدلوي ، د جماداتو(نطفه، هگۍ او نورو موادو) څخه ژوندي شيان را پيدا کوي، لکه انسانان او مرغان.

د ژونديو شيانو څخه بيا جمادات پيدا کوي ، پر چا د رزق تنگي راولي ، چا ته پراخه رزق ورکوي ، چا ته نارينه اولاد ورکوي ، چا ته ښځينه اولاد او چا ته بيا زامن او لوڼې دواړه ورکوي څوک بيا وچ گرځوي ، دا هر څه د الله تعالی په واک دي او پر کولو يې قدرت لري.

البته الله تعالی پر ځينو تکويني او انتظامي کارونو ملايکي گمارلي دي. دوی هغه چاري د الله تعالی د امر مطابق انجاموي.

ملايکي د انسانانو څخه بېل مخلوق دی ، هغوی ته الله تعالی تر انسانانو زيات واک او قدرت ورکړی دی، چي په قرآني اياتونو او صحيحو احاديثو کي ئې يو شمېر دندي ذکر سوي دي:

---

[1] قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (٢٦) تُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَتُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَتَرْزُقُ مَنْ تَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ (٢٧- آل عمران )

الله تعالی د غرو ملایکه و محمد صلی الله علیه و سلم ته د کومک لپاره راولیږله ، ملایکي ورته وویل : اې محمده ! که ته غواړي اخشبين غرونه به پر مشرکانو را واړوم او په هلاک به يې کړم ، [1]

د لوط علیه السلام قوم چي يې هلاک کاوه ، ملايکي يې ورولیږلې ، د الله تعالی د حکم مطابق يې کلي او وطنونه سرچپه پر واړول ، هلاک يې کړل .

الله جل جلاله حملة العرش ملايكو ته دونه زيات قوت ورکړی دی، چي په اتو تنو يې عرش عظیم تکیه کړی دی( [2] ).

الله تعالی پیریان او انسانان د خپل عبادت لپاره پیدا کړي دي [3] ، همدا مځکه او په مځکه کي موجود شیان بیا الله تعالی د انسانانو د خدمت او چارو د

---

[1] أَنَّ عَائِشَةَ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ، زَوْجَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم حَدَّثَتْهُ أَنَّهَا قَالَتْ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم هَلْ أَتَى عَلَيْكَ يَوْمٌ كَانَ أَشَدَّ مِنْ يَوْمِ أُحُدٍ قَالَ لَقَدْ لَقِيتُ مِنْ قَوْمِكِ مَا لَقِيتُ ، وَكَانَ أَشَدُّ مَا لَقِيتُ مِنْهُمْ يَوْمَ الْعَقَبَةِ إِذْ عَرَضْتُ نَفْسِي عَلَى ابْنِ عَبْدِ يَالِيلَ بْنِ عَبْدِ كُلاَلٍ فَلَمْ يُجِبْنِي إِلَى مَا أَرَدْتُ فَانْطَلَقْتُ وَأَنَا مَهْمُومٌ عَلَى وَجْهِي فَلَمْ أَسْتَفِقْ إِلاَّ وَأَنَا بِقَرْنِ الثَّعَالِبِ فَرَفَعْتُ رَأْسِي فَإِذَا أَنَا بِسَحَابَةٍ قَدْ أَظَلَّتْنِي فَنَظَرْتُ فَإِذَا فِيهَا جِبْرِيلُ فَنَادَانِي فَقَالَ إِنَّ اللَّهَ قَدْ سَمِعَ قَوْلَ قَوْمِكَ لَكَ وَمَا رَدُّوا عَلَيْكَ وَقَدْ بَعَثَ إِلَيْكَ مَلَكَ الْجِبَالِ لِتَأْمُرَهُ بِمَا شِئْتَ فِيهِمْ فَنَادَانِي مَلَكُ الْجِبَالِ فَسَلَّمَ عَلَيَّ ثُمَّ قَالَ يَا مُحَمَّدُ فَقَالَ ذَلِكَ فِيمَا شِئْتَ إِنْ شِئْتَ أَنْ أُطْبِقَ عَلَيْهِمِ الأَخْشَبَيْنِ فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم بَلْ أَرْجُو أَنْ يُخْرِجَ اللَّهُ مِنْ أَصْلاَبِهِمْ مَنْ يَعْبُدُ اللَّهَ وَحْدَهُ لاَ يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا. (البخاري)

[2] وَالْمَلَكُ عَلَى أَرْجَائِهَا وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمَانِيَةٌ (١٧الحاقة)

[3] وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ (٥٦ الذاريات )

انتظام لپاره پيدا کړي دي ، الله تعالی انسانانو ته[1] اسباب او وسايل پيدا کړي دي، بيله اسبابو انسانان تصرفات نسي کولای ، بلکي د هر کار د کولو لپاره وسايلو او اسبابو ته اړتيا لري .

البته مؤمنان پر اسبابو اعتماد نه کوي که څه هم استعمال ئې لازم ګڼي، بلکي توکل او اعتماد يې پر الله تعالی وي، او پر دې علاوه دعا هم کوي او د رب العالمين څخه د کومک غوښتنه کوي.

محمد صلی الله عليه و سلم سيد الثقلين دی، بلکي افضل د مخلوقاتو دی ، هغه ځان متصرف نه باله او نه يې هم دا په وسع او توان کي وه، چي بيله اسبابو څخه د مشرکانو شر دفع کړي، د هغوی واکمني ختمه کړي، د کافرانو سره يې غزاګاني کړي دي او د دوی د شر د دفع کولو لپاره ئې دعاوي کړي دي.

په غزاګانو کي يې د بندګي تدابيرو او وسايلو څخه کار اخيستی دی ، د احد د غزا پر وخت يې دوې زغري سر پر سر اغوستي وې ، په سپر يې د دښمن د توري او غشيو څخه ځان ساتی، په جهاد کي د لوړو ، تندو، بې خوبيو او ستړياوو سره مخ سوی دی، مبارک بدن يې زخمي سوی دی ، صحابه کرام يې زخميان او شهيدان سوي دي.

---

[1] هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا...(٢٩ البقرة)

دبنده ګي تدابيرو او وسايلو تر څنګ يې الله تعالى ته زارۍ او فريادونه هم کړي دي ، د احتياج لاسونه يې په دعا کي ورته پورته کړي دي ، څو پر کافرانو غلبه ورته ورکړي( [1] ).

د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا خوښه وه، چي اکا (ابو طالب) يې هدايت حاصل کړي او ايمان راوړي ، د الله تعالى وحدانيت او د ده رسالت ومني ، د مريضۍ پوښتني ته يې ورغلی ، د ايمان دعوت يې ورکړ؛ خو د هغه په زړه کي يې تصرف نسوای کولای، چي ايمان يې په زړه ور ومني( [2] ).

هو ! د هدايت دعاګاني يې کولې ، يوه ورځ يې دعا وکړه چي يا الله ! په دوو عمر نامو کي په يوه اسلام قوي کړه يعني ابو جهل عمرو بن هشام يا عمر بن الخطاب خو دا دعا د عمر بن الخطاب رضي الله عنه په حق کي قبوله سوه [3] .

---

[1] عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ بَدْرٍ نَظَرَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– إِلَى الْمُشْرِكِينَ وَهُمْ أَلْفٌ وَأَصْحَابُهُ ثَلاَثُمِائَةٍ وَتِسْعَةَ عَشَرَ رَجُلاً فَاسْتَقْبَلَ نَبِىُّ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– الْقِبْلَةَ ثُمَّ مَدَّ يَدَيْهِ فَجَعَلَ يَهْتِفُ بِرَبِّهِ « اللَّهُمَّ أَنْجِزْ لِى مَا وَعَدْتَنِى اللَّهُمَّ آتِ مَا وَعَدْتَنِى اللَّهُمَّ إِنْ تَهْلِكْ هَذِهِ الْعِصَابَةُ مِنْ أَهْلِ الإِسْلاَمِ لاَ تُعْبَدْ فِى الأَرْضِ ». فَمَازَالَ يَهْتِفُ بِرَبِّهِ مَادًّا يَدَيْهِ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ حَتَّى سَقَطَ رِدَاؤُهُ عَنْ مَنْكِبَيْهِ (مسلم)

[2] إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ (٥٦ القصص)

[3] عن ابن عمر: أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال اللهم أعز الإسلام بأحب هذين الرجلين إليك بأبي جهل أو بعمر بن الخطاب قال وكان أحبهما إليه عمر. (الترمذي)

که څوک پیر یا بل انسان ته د الله تعالی په مځکه کي بیله اسبابو څخه تصرف او واک ثابت کړي ، د يوې سيمي متصرف يې وګڼي ، د سيمي تصرفات لکه د پاچهي او واک ادلون بدلون ، ابادي او قحطي ، يخ او ګرمي ، عزت او ذلت ، شتمني او بيوزلي، روغتيا او ناروغي او داسي نور تکويني کارونه د هغه په واک کي وبولي او داسي عقيده ولري، چي فلانی د دغو کارونو متصرف دی، څنګه چي وغواړي هغسي تصرف پکښي کولای سي، دا باطله عقيده او د الله تعالی په ربوبيت کي د مخلوق شريکول دي( ).

اهل الباطل د دغي باطلي عقيدې څخه په مختلفو الفاظو تعبير کوي، مثلا: ځيني کسان خپل پير قيوم الزمان بولي، پير ته دغه ډول لقب کارول د باطلي عقيدې پر بنسټ کيږي؛ ځکه د قيوم الزمان معنی دا ده چي د وخت ټول

---

[1] مَطْلَبٌ فِي النَّذْرِ الَّذِي يَقَعُ لِلْأَمْوَاتِ مِنْ أَكْثَرِ الْعَوَّامِ مِنْ شَمْعٍ أَوْ زَيْتٍ أَوْ نَحْوِهِ ( قَوْلُهُ تَقَرُّبًا إلَيْهِمْ ) كَأَنْ يَقُولَ يَا سَيِّدِي فُلَانٌ إنْ رُدَّ غَائِبِي أَوْ عُوفِيَ مَرِيضِي أَوْ قُضِيَتْ حَاجَتِي فَلَكَ مِنْ الذَّهَبِ أَوْ الْفِضَّةِ أَوْ مِنْ الطَّعَامِ أَوْ الشَّمْعِ أَوْ الزَّيْتِ كَذَا بَحْرٌ ( قَوْلُهُ بَاطِلٌ وَحَرَامٌ ) لِوُجُوهٍ : مِنْهَا أَنَّهُ نَذَرَ لِمَخْلُوقٍ وَالنَّذْرُ لِلْمَخْلُوقِ لَا يَجُوزُ لِأَنَّهُ عِبَادَةٌ وَالْعِبَادَةُ لَا تَكُونُ لِمَخْلُوقٍ .وَمِنْهَا أَنَّ الْمَنْذُورَ لَهُ مَيِّتٌ وَالْمَيِّتُ لَا يَمْلِكُ . وَمِنْهُ أَنَّهُ إنْ ظَنَّ أَنَّ الْمَيِّتَ يَتَصَرَّفُ فِي الْأُمُورِ دُونَ اللَّهِ تَعَالَى وَاعْتِقَادُهُ ذَلِكَ كُفْرٌ ، اللَّهُمَّ إلَّا إنْ قَالَ يَا اللَّهُ إنِّي نَذَرْت لَك إنْ شَفَيْت مَرِيضِي أَوْ رَدَدْت غَائِبِي أَوْ قَضَيْت حَاجَتِي أَنْ أُطْعِمَ الْفُقَرَاءَ الَّذِينَ بِبَابِ السَّيِّدَةِ نَفِيسَةَ أَوْ الْإِمَامِ الشَّافِعِيِّ أَوْ الْإِمَامِ اللَّيْثِ أَوْ اشْتَرَى حُصْرًا لِمَسَاجِدِهِمْ أَوْ زَيْتًا لِوُقُودِهَا أَوْ دَرَاهِمَ لِمَنْ يَقُومُ بِشَعَائِرِهَا إلَى غَيْرِ ذَلِكَ مِمَّا يَكُونُ فِيهِ نَفْعٌ لِلْفُقَرَاءِ وَالنَّذْرُ لِلَّهِ عَزَّ وَجَلَّ وَذِكْرُ الشَّيْخِ إنَّمَا هُوَ مَحَلٌّ لِصَرْفِ النَّذْرِ لِمُسْتَحِقِّيهِ الْقَاطِنِينَ بِرِبَاطِهِ أَوْ مَسْجِدِهِ فَيَجُوزُ بِهَذَا الِاعْتِبَارِ. ( رد المحتار )

تصرفات او واک د دغه پير په اختيار کي دی ، د ټولو شيانو مراقبت او څارنه کوي ، ټول ده ته اړ دي ، بيله ده څخه شتون نسي درلودلای( [1] )، د مبتدعينو په غلطو تاويلاتو بايد څوک تېر نه وځي.

د دغي باطلي عقيدې د ښه وضاحت لپاره په تفاسيرو کي د الحي القيوم معنى وګورئ، تر څو پير ته د قيوم الزمان د لقب ورکولو تر شا چي کومه باطله عقيده ده هغه در ته معلومه سي( [2] ).

---

[1] مَا تَحْرُمُ التَّسْمِيَةُ بِهِ مِنَ الأَسْمَاءِ : تَحْرُمُ التَّسْمِيَةُ بِكُل اسْمٍ خَاصٍّ بِاللَّهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى ، كَالْخَالِقِ وَالْقُدُّوسِ ، أَوْ بِمَا لاَ يَلِيقُ إِلاَّ بِهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى كَمَلِكِ الْمُلُوكِ وَسُلْطَانِ السَّلاَطِينِ وَحَاكِمِ الْحُكَّامِ، وَهَذَا كُلُّهُ مَحَل اتِّفَاقٍ بَيْنَ الْفُقَهَاءِ. وَأَوْرَدَ ابْنُ الْقَيِّمِ فِيمَا هُوَ خَاصٌّ بِاللَّهِ تَعَالَى: الأَحَدُ، وَالصَّمَدُ، وَالْخَالِقُ، وَالرَّازِقُ، وَالْجَبَّارُ، وَالْمُتَكَبِّرُ، وَالأَوَّل، وَالآخِرُ، وَالْبَاطِنُ، وَعَلاَّمُ الْغُيُوبِ. هَذَا، وَمِمَّا يَدُل عَلَى حُرْمَةِ التَّسْمِيَةِ بِالأَسْمَاءِ الْخَاصَّةِ بِهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى كَمَلِكِ الْمُلُوكِ مَثَلاً: مَا أَخْرَجَهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – وَلَفْظُهُ فِي الْبُخَارِيِّ – قَال رَسُول اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَخْنَى الأَسْمَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِنْدَ اللَّهِ رَجُلٌ تَسَمَّى مَلِكَ الأَمْلاَكِ وَلَفْظُهُ فِي صَحِيحِ مُسْلِمٍ أَغْيَظُ رَجُلٍ عَلَى اللَّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، أَخْبَثُهُ وَأَغْيَظُهُ عَلَيْهِ: رَجُلٌ كَانَ يُسَمَّى مَلِكَ الأَمْلاَكِ، لاَ مَلِكَ إِلاَّ اللَّهُ. وَأَمَّا التَّسْمِيَةُ بِالأَسْمَاءِ الْمُشْتَرَكَةِ الَّتِي تُطْلَقُ عَلَيْهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى وَعَلَى غَيْرِهِ فَيَجُوزُ التَّسَمِّي بِهَا كَعَلِيٍّ وَرَشِيدٍ وَبَدِيعٍ.قَال ابْنُ عَابِدِينَ: وَظَاهِرُهُ الْجَوَازُ وَلَوْ مُعَرَّفًا بِأَل. قَال الْحَصْكَفِيُّ: وَيُرَادُ فِي حَقِّنَا غَيْرُ مَا يُرَادُ فِي حَقِّ اللَّهِ تَعَالَى. ( الموسوعة الفقهية الكويتية)

[2] قال مجاهد: القيوم القائم على كل شيء قال الكلبي القائم على كل نفس بما كسبت وقيل هو القائم بالأمور. وقال أبو عبيدة: الذي لا يزول. وقال البيضاوي: الدائم القيام بتدبير الخلق وحفظه فيقول من قام بالأمر إذا حفظه. وقال السيوطي: الدائم البقاء قلت مرجع الأقوال انه دائم الوجود القائم بنفسه وقيم الأشياء كلها لا يتصور قيام شيء وبقاؤه إلا به فمقتضى هذا

۱ دا يوازي د الله تعالی قدرت او شان دی، چي بيله اسبابو څخه هر شي كولای سي ، د يو شي اراده چي وكړي په ( كن )هغه موجودوي .

**د مخكني مطلب لنډيز :**

اول : د لا اله الا الله معنى دا ده چي بيله الله تعالى څخه بل هيڅ رښتينی معبود نسته.

په عباداتو كي تر ټولو مهم عبادت لمونځ دی ، په لمانځه كي تر ټولو مهم ركن چي بنده رب ته په نژدې كيږي سجده ده، نو پير يا قبر ته د عبادت سجده كول د الله تعالى په الوهيت كي د مخلوق شريكول دي.

دوهم : ، د كومک او استغاثې لپاره پير ننګول پدې عقيده كيږي چي پير يې د هر ځای څخه علم په لري او كومک ور سره كولای سي ، يعني مريد پير ته علم غيب او قدرت ثابتوي.

د الله تعالى معيت د بنده ګانو سره دوه ډوله دي ، يو يې معيت د نصرت دی، د نصرت معيت يې يوازي د مؤمنانو سره دی ، لكه څنګه چي الله تعالى فرمايلي دي : او يقينا الله د مؤمنانو سره دی . ۲

---

الاسم ان ما سواه يحتاج إليه في بقائه كما يحتاج إليه في وجوده كالظل بالنسبة إلى الأصل بل أشد منه احتياجا ولله المثل الأعلى. (تفسير المظهري)

[1] إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ إِذَا أَرَدْنَاهُ أَنْ نَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ (٤٠ النحل )

[2] .... وَأَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ (١٩ الانفال)

بل يې معيت د علم او قدرت دی، د علم او قدرت معيت يې د ټولو انسانانو سره دی بلکي د ټولو مخلوقاتو سره دی، لکه څنګه چي الله تعالی فرمايلي دي: او الله ستاسو سره دی تاسو چي هر ځای یاست . [1]

نو د پير ننګول په حقيقت کي پير ته د الله تعالی په شان علم او قدرت ثابتول دي.

دريم : په تشريعي امر کي هيڅوک هم د الله تعالی سره نسي شريک کېدلای، ايمان ، لمونځ ، زکات ، روژه او داسي نور عبادات کول د الله تعالی تشريعي امرونه دي ، دغه ډول د کفر ، زنا ، غلا او داسي نورو ګناهونو څخه ځان ساتل هم د الله تعالی په تشريعي امرونو کي راځي.

د الله تعالی د تشريعي امرونو څخه مخالفت کېدلای سي، لکه کافران چي ايمان نه راوړي او نه هم لمونځونه او روژې نيسي.

د پير په قول د شريعت حلال شی حرامول يا د شريعت حرام شی حلالول په حقيقت کي د الله تعالی سره په تشريعي امر کي د مخلوق شريک کول دي .

څلورم : په تکويني امورو کي هم هيڅوک د الله تعالی سره نسي شريک کېدلای او نه هم د الله تعالی د تکويني امر او ارادي څخه څوک مخالفت کولای سي. الله تعالی چي په خپل مخلوق کي هر ډول تصرف وغواړي هغه

---

[1] هُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ (٤ الحديد)

کولای سي، هیڅوک هم د الله تعالی د تصرف مخه نسي نیولای ، انسان یا بل مخلوق چي په هر شکل را پیدا کوي په هماغه شکل یې پیدا کولای سي نو پیر یا بل انسان ته د الله تعالی په ملک کي تصرف ثابتول په حقیقت کي د الله تعالی په تکویني امر کي د مخلوق شریکول دي.

[1] هُوَ الَّذِي يُصَوِّرُكُمْ فِي الْأَرْحَامِ كَيْفَ يَشَاءُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (٦ ال عمران)

# پنځم فصل

## د كامل شيخ صفات

د اصلاح او تزكيې د لارو څخه يوه لاره هم بيعت دى خو پدې شرط چي د كامل شيخ سره وسي ځكه لكه څه ډول چي په ناپوه او غير امين ډاكټر د جسماني مرض علاج كېدلاى نه سي دغه ډول د عقيدې ، اعمالو ، اخلاقو اصلاح بيا د ناقص پير په صحبت كي كېدلاى نه سي.

د كامل شيخ لپاره يو شمېر صفات لازم دي ، دلته يې موږ څو مهم صفات بيانوو څو د صحيح پير په انتخاب كي د مريد د پاره لارښود وګرځي.

**د كامل شيخ اول صفت – علم الكتاب و السنة:**

الله تعالى انسانان د عبادت لپاره پيدا كړي دي، نو كوم كسان چي د الله تعالى عبادت كوي د هغو څخه راضي كيږي اوكوم كسان چي يې عبادت نه كوي د هغو څخه ناراضه كيږي.

خو داچي بنده ګان په كومه طريقه د الله تعالى عبادت وكړي؟ پدې كي بنده ګانو ته اختيار ندى وركول سوى، بلكي د دې لپاره الله تعالى كتابونه نازل كړي دي ، نبيان او رسولان يې راليږلي دي.

قران كريم د الله تعالى اخري كتاب دى، پر خاتم النبين محمد صلى الله عليه و سلم يې نازل كړى دى. د محمد صلى الله عليه و سلم د نبوت څخه تر قيامته پوري ټول انسانان پدې مكلف دي، چي د الله تعالى عبادت به په هغه طريقه كوي كومه طريقه چي په قران كريم كي ذكر سوې ده او رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپل قول ، فعل او تقرير تشريح كړې ده.

هغه عقايد چي انسانان په مکلف دي چي بايد وئې لري او په هغو سره د ايمان شرف او د الله تعالی رضا حاصليږي دا ټول په قرانکريم او نبوي احاديثو کي بيان سوي دي.

همداسي کفري او مشرکانه عقايد کوم چي د الله تعالی د قهر او غضب سبب ګرځي او انسانان بايد ځانونه ځني وساتي دا هم په قران او حديثو کي ذکر سوي دي.

دغه ډول صالح عملونه او ښه صفات کوم چي الله تعالی بندګان د هغو په کولو او درلودلو امر کړي دي او د الله تعالی اوامر بلل کيږي، دا هم ټول په قران کريم او نبوي احاديثو کي بيان سوي دي.

دغه ډول بد عملونه او بد صفات کوم چي انسانان بايد ځانونه ځني وساتي او منهيات بلل کيږي دا هم ټول په قرانکريم او حديثو کي بيان سوي دي.

علم تر عمل مخته دی، اول به انسان اسلامي عقيده پېژني بيا هغه عقيده خپلولای سي ، اول به کفري او مشرکانه عقايد پېژني بيا د کفري عقايدو څخه ځان ساتلای سي.

دغه ډول اول به صالح عملونه او د هغو طريقه پېژني بيا همدا صالح عملونه کولای سي، دغه ډول اول به ګناهونه پېژني بيا د ګناهونو څخه ځان ژغورلای سي.

دغه ډول اسلامي اخلاق او اداب به هم اول پېژني بيا يې په ځان کي راوستلای سي، همدا راز د بدو صفاتو او اخلاقو څخه تر پېژندني وروسته ځان ساتلای سي.

مريد چي د پير سره بيعت کوي مقصد ئې د عقيدې، عملونو او اخلاقو اصلاح کول او د باطلو عقايدو، گناهونو او بد اخلاقيو څخه ځان ژغورل دي.

که د پير او مرشد سره د قران او حديثو علم نه وي هغه د خپلي عقيدې ، اعمالو او اخلاقو اصلاح نسي کولای، ځکه حق او باطل، ښه او بد نه سره پېژني خپله نابينا دی، قايد ته اړتيا لري، نو بيا کله کېدلای سي چي مريد يې په صحبت کي اصلاح حاصله کړي؟

لهذا د کامل شيخ لپاره لومړی لازمي صفت د قران کريم او نبوي احاديثو علم دی.

**د کامل شيخ دوهم صفت – اتباع السنة:**

د کامل شيخ لپاره تر علم وروسته دوهم لازمي صفت د نبوي سنتو متابعت دی؛ ځکه علم د عمل لپاره دی، علم مقصود او هدف ندی، بلکي مقصود عمل دی.

د رسول الله صلى الله عليه و سلم په زمانه کي د يهودانو سره د هغه د نبوت علم وو ؛خو د مال او منصب لګبله يې په علم عمل و نه کړ، د محمد عليه السلام د رسالت څخه يې انکار وکړ، د دوی علم دوی ته نجات ور نه کړی،

---

١ الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمْ وَإِنَّ فَرِيقًا مِنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ الْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ (١٤٦البقرة)

بلکي مغضوب عليهم وګرځيدل، الله تعالى د سورة الجمعة په پنځم ايت کي د يهودو علماء د هغو خرو په شان بللي دي کوم چي کتابونه پر بار وي( ).

دلته د سنتو د اتباع او پيروي ځخه مراد يوازي د هغو سنتو پيروي نه ده، کوم چي فقهاء ئې د فرضو او واجبو په مقابل کي ذکر کوي، بلکي د سنتو د اتباع او پيروي ځخه مراد په ټولو ديني کارونو کي، هغه که عقايد او فرايض دي او که واجبات او مستحبات دي د نبوي تګلاري پيروي کول مقصود او مطلوب دي.

د يادوني وړ ده د سنتو د متابعت منشا او باعث د الله تعالى او د الله د رسول صلى الله عليه وسلم سره محبت دی، د الله تعالى او د محمد عليه السلام په محبت کي هغه کسان رښتيني دي کوم چي په عقايدو، اعمالو او اخلاقو کي د محمد عليه السلام إتباع او پيروي کوي.

يهودانو او نصرانيانو د الله د محبت دعوه کوله؛ خو د محمد عليه السلام پر تګلاره نه تلل، الله د هغوى دعوه رد کړه، خپل نبي ته يې وويل د ايت ژباړه : ته ورته ووايه : که تاسو د الله سره محبت لرى نو په ما پسې سئ . ( ).

---

١ : مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِ اللَّهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿الجمعة: ٥﴾

٢ قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ

(ال عمران – ٣١)

د دې ايت څخه په واضح ډول ځرګنديږي چي د الله سره محبت لا هم د الله د رسول په اتباع کي نغښتی دی.

انس رضي الله عنه ته رسول اکرم صلى الله عليه و سلم وفرمايل : اې زويکه ! که وکولای سې شپه او ورځ پداسي حالت کي در باندي راسي چي هيڅا ته دي هم په زړه کي خيانت نه وي همدا سي کوه او همدا زما طريقه ده ، څوک چي زما طريقه ژوندی ساتي هغه زما سره محبت لري او څوک چي زما سره محبت لري هغه به زما سره په جنت کي وي.[1]

لهذا کامل شيخ هغه دی چي په عقيده، اعمالو ، اخلاقو او عاداتو کي د محمد رسول الله اتباع او پيروي کوي.

# بدعت

## د بدعت تعريف:

مخکي مو وويل، چي د کامل شيخ لپاره دوهم لازمي صفت په عقيده، اعمالو او اخلاقاقو کي د محمد عليه السلام متابعت او پيروي ده، لهذا د بدعت کوونکي سره بيعت جواز نه لري؛ ځکه بدعت او سنت لکه تياره او رڼا يو د

[1] عن سعيد بن المسيب قال قال أنس بن مالك : قال لي رسول الله صلى الله عليه و سلم يا بني إن قدرت أن تصبح وتمسي وليس في قلبك غش لأحد فافعل ثم قال لي يا بني وذلك من سنتي ومن أحيا سنتي فقد أحبني ومن أحبني كان معي في الجنة وفي الحديث قصة طويلة قال أبو عيسى هذا حسن غريب من هذا الوجه (الترمذي)

بل ضد دي، د مبتدع په بيعت کي د مريد اصلاح نه راځي ، بلکي د مريد عقيده، اعمال او اخلاق هم د بدعتي پير په بدعت فاسديږي.

لومړی بايد بدعت وپيژنو، وروسته مبتدع پيژندلای سو، تر څو د ملګرتيا څخه يې ځانونه وساتو.

**د بدعت لغوي معنی:** په عربي ژبه کي د نوي شي را پيدا کول چي مخکي يې مثال او نمونه نه وي بدعت بلل کيږي ، په نني عصر کي چي د صنعت په ډګر کي نوي نوي شيان اختراع کيږي دغه هر نوي شی ته بدعت ويل کېدلای سي( [1] ).

**د بدعت شرعي معنی:** په دين کي داسي شی را پيدا کول چي د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کي يې اصل موجود نه وي ( ).

علامة بدر الدين العيني الحنفي رحمه الله تعالی د بخاري شريف په شرح عمدة القاري کي د بدعت د پورتني شرعي تعريف څخه وروسته وايي : بدعت پر دوو قسمونو دی يو بدعت ضلالت او بل بدعت حسنة دی.

---

[1] والبدعة لغة كل شيء عمل علي غير مثال سابق (عمدة القاري)

٢ وشرعا إحداث ما لم يكن له أصل في عهد رسول الله وهي على قسمين بدعة ضلالة وهي التي ذكرنا وبدعة حسنة وهي ما رآه المؤمنون حسنا ولا يكون مخالفا للكتاب أو السنة أو الأثر أو الإجماع (عمدة القاري)

امام النووي الشافعي رحمه الله تعالى د مسلم په شرح کي بدعت پر پنځو قسومونو وېشلی دی: واجب، مندوب، حرام، مکروه او مباح او بیا یې د ځینو مثالونه هم ذکر کړي دي([1]).

أبو الطيب محمد شمس الحق العظيم آبادي د ابو داود په شرح عون المعبود کي وايي: د محققينو علماؤ یوې غټې ډلي د ابن عبد السلام او د امام النووي قول رد کړی دی، یعني محققين هر بدعت ضلالت بولي؛ ځکه په نبوي حدیث کي هم رسول الله صلی الله عليه و سلم هر بدعت ضلالت بللی دي([2]).

که ځوک د بدعت په تعریف کي د علماء کرامو اقوالو ته وګوري، ظاهرا یې تر منځ اختلاف ښکاري ځکه ځيني علماء کرام هر بدعت لکه څه ډول چي په حديث کي راغلی او د محققينو نظر دی ضلالت بولي او ځيني علماء بیا بدعت پر قبيحه او حسنه ویشي او نبوي حديث د عام المخصوص منه البعض په جمله کي شميري.

---

[1] قال العلماء البدعة خمسة أقسام واجبة ومندوبة ومحرمة ومكروهة ومباحة فمن الواجبة نظم أدلة المتكلمين للرد على الملاحدة والمبتدعين وشبه ذلك ومن المندوبة تصنيف كتب العلم وبناء المدارس والربط وغير ذلك ومن المباح التبسط في ألوان الأطعمة وغير ذلك والحرام والمكروه ظاهران. ( النووي)

[2] وَتَقْسِيم الْبِدَع إِلَى خَمْسَة أَقْسَام كَمَا ذَهَبَ إِلَيْهِ الْإِمَام اِبْن عَبْد السَّلَام وَتَبِعَهُ عَلَيْهِ الْإِمَام النَّوَوِيّ أَنْكَرَ عَلَيْهِ جَمَاعَةٌ مِنْ الْعُلَمَاءُ الْمُحَقِّقِينَ وَمِنْ آخِرِهِمْ شَيْخُنَا الْقَاضِي الْعَلَّامَة بَشِير الدِّين الْقِنَّوْجِيُّ رَحِمَهُ اللَّه فَإِنَّهُ رَدَّ عَلَيْهِ رَدًّا بَالِغًا. (عون المعبود)

خو دغو علماء کرامو چي د بدعت حسنة کوم مثالونه ذکر کړي دي د هغو څخه دا ثابتیږي، چي په واقع کي د علماء کرامو تر منځ اختلاف نسته؛ ځکه کوم علماء کرام چي هر بدعت ضلالت بولي هغوی إحداث في الدین بدعت بولي او إحداث في الدین د ټولو علماء کرامو په اتفاق بدعت او مردود دی .

رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي: که څوک زموږ په دغه دین کي داسي شی را پیدا کړي چي په دین کي نه وي هغه مردود دی ( ). ١

کوم علماء کرام چي بدعت پر قبیحه او حسنه ویشي هغوی إحداث في الدین او إحداث للدین دواړه بدعت بولي نو ځکه په بدعت کي وېش کوي إحداث في الدین ضلالت بولي لکه څه ډول چي په حدیث کي یې هم یادونه سوې ده او إحداث للدین بیا حسنه بولي لکه څه ډول چي یې د مثالونو څخه خرګندیږي.

که څوک د إحداث في الدین او إحداث للدین تر منځ فرق وکولای سي، نو د علماء کرامو د اختلاف ټکی به ورته معلوم سي.

إحداث في الدین ضلالت دی؛ ځکه څوک چي د عبادت په ډول یو شی په دین کي را پیدا کوي دا د دې مستلزم ګرځي، لکه دین چي نیمګړی وي دی یې مکملوي ، پداسي حال کي چي الله تعالی فرمایلي دي: نن مو ستاسو لپاره

---

١ عَنْ عَائِشَةَ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ، قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ فِيهِ فَهُوَ رَدٌّ.(البخاري)

ستاسو دين كامل كړ ، او خپل نعمت مي درباندي بشپړ كړ ، او ستاسو لپاره مي د اسلام دين خوښ كړ ( [1] ).

إحداث للدين بيا د دين لپاره د يو شی پيدا كول دي، د ابن السبيل يعني مسافر سره مرسته كول د الله تعالی حكم دی ، د دغه الهي حكم د پر ځای[2] كولو لپاره كه څوک رباط جوړ كړي ، څو مسافر د سفر په جريان كي د شپې تېرولو او استراحت لپاره كار ورڅخه واخلي، دا إحداث في الدين نه دی بلكي إحداث للدين دی، ځكه د مسافر سره د مرستي كولو يوه ښه ګټوره او معقوله طريقه ده .

د قران كريم په صحيح ډول تلاوت كول عبادت دی، د قران كريم په اعراب كي غلطي كول د الله په كلام كي د تحريف مترادف عمل دی؛ ځكه ډېر ځله د اعراب په بدلون په معني كي د الهي مراد خلاف بدلون راځي .

د نحو د علم واضع ابو الاسود الدولي د يو كس څخه واورېدل چي د قران[3] كريم په دغه ايت كي - **أَنَّ اللَّهَ بَرِيءٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ وَرَسُولُهُ** - كي يې د رسوله

---

[1] الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا.( المائدة – ٣)

[2] ...وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ...(١٧٧ البقرة)

[3] وأخرج ابن الأنباري عن عباد المهلبي قال : سمع أبو الأسود الدؤلي رجلا يقرأ {أن الله بريء من المشركين ورسوله} بالجر فقال : لا أظنني يسعني إلا أن أضع شيئا يصلح به لحن هذا أو كلاما هذا معناه ( الدر المنثور )

کلمه مجروره وویل، نو د ایت معنی د إعراب د غلطۍ لکبله داسي سوه: یقینا الله تعالی د مشرکانو څخه او د خپل رسول څخه بېزاره دی- نعوذ بالله - ، پداسي حال کي چي پدې ایت کي رسولُه مرفوع یعني لام ئې پیښں لرونکی دی ، چي معنی یې داسي ده: یقینا الله او د الله رسول د مشرکانو څخه بېزاره دي.

وایي: ابو الاسود الدولي د علي رضي الله عنه په مشوره د نحو د علم اساسات وضع او تعین کړل، تر څو د قران کریم په تلاوت کي د إعرابي غلطۍ مخه ونیول سي .

د نحو علم د رسول الله په زمانه کي نه وو؛ خو وروسته چي عرب او عجم په اسلام کي داخل سول، نو په تلاوت کي د غلطیو د مخنیوي لپاره د نحو د علم زده کړه حتمي سوه .

د نحو زده کړه هیڅوک هم دین نه بولي، بلکي د دین یعني د قران لپاره یې لازمي بولي، د رباط جوړول خلک دین نه بولي بلکي د ابن السبیل سره د مرستي کولو لپاره یې یوه اوړد مهاله ، عام ګټې معقوله طریقه بولي .

نو کوم علماء کرام چي إحداث في الدین او إحداث للدین دواړه بدعت بولي ، هغوی په - و کل بدعة ضلالة - کي تخصیص راولي، څو إحداث للدین لکه د نحو علم وضع کول ، رباط ، مدرسه او دار الایتام او داسي نور ځني ووځي.

دغه کارونه ځیني د وجوب په درجه کي بدعت حسنه بلل کیږي لکه علم النحو ، ځیني بیا د استحباب په درجه کي بدعت حسنه بلل کیږي لکه رباط ، دار الایتام او داسي نور.

خو کوم علماء کرام چي فقط إحداث في الدين بدعت بولي هغوى حديث پر خپل عموم پرېږدي؛ خو رباط جوړول او د نحو علم ضلالت نه ګڼي؛ ځکه چي دا إحداث في الدين نه دي بلکي د إحداث للدين د جملې څخه دي و الله اعلم.

د رسم او بدعت تر منځ فرق: علامه انورشاه کشميري رحمه الله تعالى وايي: بدعت هغه ته وايي چي په قران، حديثو، اجماع او قياس کي اصل و نه لري او خلک يې د دين د کارونو څخه ګڼي، يعني د ثواب اميد پر لري ، لهذا د واده رسومات که څه هم لغوه دي بدعت نه بلل کيږي ځکه چي خلک يې د ثواب په اميد نه کوي ، د ماتم رسومات بيا بدعتونه دي([1]).

د ماتم يا غم رسمونه، لکه د مړي د دريمي ، لسمي ، څلوېښتمي او کليزي لمانځل هم بدعت دی؛ ځکه خلک يې د دين د کارونو څخه ګڼي د ثواب اميد پر لري.

دغه ډول هغه کار هم په بدعت کي نه راځي کوم چي د رسول الله په زمانه کي يې د کولو غوښتنه يا اړتيا وه؛ خو په وړاندي يې مانع او خنډ موجود وو او د هغه لکبله نه وي سوی، لکه د رسول الله صلى الله عليه و سلم خوښه وه چي کعبه شريفه پر ابراهيمي بنياد بناء سي يعني په حطيم کي اووه ذراع

---

[1] واعلم أن البدعة ما لا يكون أصله في الأصول الأربعة ويزعم الناظر فيه أنه من أمور الدين ، فعلم أن رسوم النكاح ليست ببدعة ، وإن كانت لغواً فإن الناظر لا يزعمها من أمور الشريعة ، بخلاف رسوم المأتم فإن الناظر يزعمها من أمور الشرع . (العرف الشذي للكشميري).

دباندي پاته سوې حصه بيرته په کعبه شريفه ورګډه سي، د کعبې شريفي دننه فرش د مځکي د سطحي سره برابر سي او د دروازې مقابل لور ته بله دروازه ورکړي(  )؛ خو دا چي قريشو تازه اسلام راوړی وو، دا بيره وه که په کعبه شريفه کي تغيرات راولي، هغوی ته به بدګماني پيدا سي، نو پر خپل حالت يې پرېښوول.[1]

عبد الله بن زبير رضي الله عنهما د خپل خلافت په دوران کي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د غوښتني مطابق تغيرات پکښي راوستل او وئې ويل: هغه موانع اوس نسته، ځکه د قريشو پر اسلام ډېر زيات کلونه تير سوي دي او بل زه يې په خپلو پيسو بيرته جوړولای سم.

حجاج بن يوسف چي عبد الله بن زبير رضي الله عنه شهيد کړ ، د عبد الملک بن مروان په حکم يې بيرته د پخوا په شان د حطيم حصه ځني وايستله، دروازه يې ور يوه کړه، د کعبې شريفي متن يا فرش يې د مځکي څخه پورته کړ ، اوس هم پر هماغه حالت پاته ده.

---

[1] عَنْ عَائِشَةَ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ، قَالَتْ: سَأَلْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم ، عَنِ الْجَدْرِ أَمِنَ الْبَيْتِ هُوَ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ فَمَا لَهُمْ لَمْ يُدْخِلُوهُ فِي الْبَيْتِ قَالَ إِنَّ قَوْمَكِ قَصَّرَتْ بِهِمُ النَّفَقَةُ قُلْتُ فَمَا شَأْنُ بَابِهِ مُرْتَفِعًا قَالَ فَعَلَ ذَلِكِ قَوْمُكِ لِيُدْخِلُوا مَنْ شَاؤُوا وَيَمْنَعُوا مَنْ شَاؤُوا وَلَوْلاَ أَنَّ قَوْمَكِ حَدِيثٌ عَهْدُهُمْ بِالْجَاهِلِيَّةِ فَأَخَافُ أَنْ تُنْكِرَ قُلُوبُهُمْ أَنْ أُدْخِلَ الْجَدْرَ فِي الْبَيْتِ ، وَأَنْ أُلْصِقَ بَابَهُ بِالأَرْضِ.( البخاري)

عبد الله بن زبير چي په کعبه شريفه كي بدلون راوستی دا بدعت نه وو؛ ځکه دا د رسول الله په زمانه کي د هغه غوښتنه وه؛ خو په وړاندي يې مانع موجود وو ، که مانع نه وای رسول الله صلى الله عليه و سلم به خپله همدغه تغيرات پکښې راوستي وای.

دغه ډول هغه کار هم په بدعت کي نه راځي چي په وروستيو زمانو کي يې مقتضي پيدا سي، که څه هم د رسول الله په زمانه کي نه وي سوی.

د يمامه په غزا کي ډېر حافظان شهيدان سول، عمر رضي الله عنه ابوبکر رضي الله عنه ته مشوره ورکړه، چي ټول قران کريم په ليکلي ډول يوځای جمع کړه؛ ځکه د غزاگانو لړۍ دوام کوي، نور حافظان به هم شهيدانيږي نو د قران د ضايع کېدو خطره سته.

ابو بکر رضي الله عنه ورته ويل : رسول الله دا کار نه دی کړی زه يې څنگه وکړم ؟ د عمر رضي الله عنه تر ډېر اصرار وروسته د ابو بکر رضي الله عنه زړه ته هم دا خبره تيره سوه، چي بايد قران کريم په ليکلي ډول جمع سي څو د ضايع کېدو مخه يې ونيول سي ، زيد بن ثابت رضي الله عنه ته يې وظيفه ورکړه همداسي يې وکړه.

دغه کار ته بدعت نه ويل کيږي که څه هم رسول الله دا کار نه وو کړی، ځکه د رسول الله صلى الله عليه و سلم په ژوند کي د حافظانو په شهادت قران نه ضايع کېدی، خپله رسول الله موجود وو؛ خو د رسول الله تر وفات وروسته يې مقتضي يعني ضرورت پيدا سو.

او بل داچي د خلفاء راشدينو كار ته بدعت نه ويل كيږي؛ ځكه رسول الله د هغوی پر تګلاره د تللو حكم كړی دی( [1] ).

لهذا تراويح شل ركعتونه كول بدعت نه بلل كيږي ځكه عمر رضي الله عنه د خلفاء راشدينو څخه دی، البته حضرت عمر د لغوي معنی له مخي ورته بدعت ويلي دي ځكه پيل يې د ده څخه سوی دی.

د پام وړ ټكي: بدعتيان تل د عوامو د تېر ايستلو او خپلو خرافاتو او بدعتونو ته د مشروعيت وركولو لپاره د مشايخو د أقوالو څخه ناسمه استفاده كوي، كله د تعميې څخه كار اخلي، د هغوی قيود او شرايط له پامه غورځوي كله يې بيا د هغوی د مراد خلاف توجيه كوي.

كوم علماء كرام چي بدعت پر حسنة او سيئة ويشي د همدغه وېش څخه بدعتيان د يو شمېر هغو عبادتونو او د عبادتونو د طريقو لپاره استدلال كوي كوم چي دوی د ځانونو څخه جوړ كړي او د ټولو علماء كرامو په آند مردود او خرافات دي.

[1] عن العرباض بن سارية قال : وعظنا رسول الله صلى الله عليه و سلم يوما بعد صلاة الغداة موعظة بليغة ذرفت منها العيون ووجلت منها القلوب فقال رجل : إن هذه موعظة مودع فماذا تعهد إلينا يا رسول الله ؟ قال : أوصيكم بتقوى الله والسمع والطاعة وإن عبد حبشي فإنه من يعش منكم يرى اختلافا كثيرا وإياكم ومحدثات الأمور فإنها ضلالة فمن أدرك ذلك منكم فعليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين عضوا عليها بالنواجذ.( الترمذي).

قال أبو عيسى : هذا حديث صحيح.

**د بدعتي پېژند نښې:**

که څه هم د بدعت په پيژندلو بدعتي پيژندل کيږي خو دلته د بدعتيانو يو شمېر داسي شيان ذکر کوو چي په هغو سره عوام بدعتيان په اسانتيا پېژندلای سي.

اول: د بدعتيانو د سنتو په پايمال کيدو دونه خوا نه بديږي، څونه خوا چي يې د بدعت په پرېښوولو بديږي ، همدا وجه ده چي دوی قلم، ژبه، منبر او غونډې ټوله د خپلو خرافاتو او بدعتونو د اشاعت او د هغو څخه د دفاع لپاره کاروي.

دوهم : بدعتيان د هغو علماء کرامو سره تر هر چا زيات عداوت او دښمني لري، کوم چي نبوي سنتو ته اشاعت ورکوي او اجتهادي مسايل يعني د حنفي مذهب مسايل د مذهب د اصولو مطابق د هر قيد او شرط سره د معتمدو کتابونو په حواله بيانوي.

دريم : بدعتيان د قراني اياتونو او نبوي احاديثو څخه استدلال وهابيت بولي؛ خو د خپلو بدعتونو د اثبات لپاره بيا موضوع احاديث او اسرائيليات بيانول او د قراني اياتونو څخه غلط استدلال کول جايز ګڼي.

څلورم: بدعتيان د هغو علماء کرامو د ترجمو او وعظونو د اورېدلو څخه خلک منع کوي، کوم چي د مفسرينو، محدثينو او مجتهدينو د فهم په رڼا کي د قراني اياتونو او نبوي احاديثو مفاهيم بيانوي.

پنځم: د بدعتيانو ترجمه او وعظونه اکثره د اسلامي عقايدو، احکامو او اخلاقو د چوکاټ څخه وتلي د اسرائيلياتو حکايتونه او د درواغو قصې او نقلونه وي.

شپږم: د ځينو بدعتيانو بدعتونه ښکاره نه وي ، ځکه نو هر کس يې د بدعتي په صفت نه پيژني ، دغه ډول کسان بيا په خپلو اشنايانو پيژندل کېدلای سي ، رسول الله صلي الله عليه و سلم فرمايلي دي : سړی د خپل اشنا پر دين باندي وي نو ستاسو هر کس دي وګوري چي د چا سره يې اشنايي ده ؟ (١) که يو کس د داسي کسانو سره صميمانه تعلقات ولري چي هغه مشهور مبتدع وي ، د بدعت څخه دفاع کوي ، بدعتي مراسم لمانځي او همدا مبتدع بيا خپلو شخصي پروګرامونو او مشورو ته هم را دعوتوي ، خپله هم د هغوی په بدعتي مراسمو او خصوصي پروګرامونو کي ګډون ور سره کوي خو د دې بر عکس د هغو علماو په ځنګ کي بيا ځان نه ښکاره کوي چي هغوی د بدعتونو ريښه کاږي ، په علني ډول د نبوي سنتو څخه دفاع کوي نو دا دې ښه ده چي دا کس هم د خپلو اشنايانو سره په بدعت کي هم عقيده او هم نظره دی ځکه هيڅ يو مبتدع دونه واک نه لري چي نور کسان دي په زور او جبر د ځان تابع وګرځوي .

---

١ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِىَّ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « الرَّجُلُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلُ »(ابو داود)

د بدعت او د بدعتي د پېژندني لپاره همدونه کفايت کوي؛ خو يو ځل بيا يادونه کوو چي د کامل شيخ لپاره د کتاب الله او د نبوي سنتو تر علم وروسته دوهم لازمي صفت د سنتو إتباع ده، د داسي پير په بيعت چي هغه په عقيدوي يا عملي بدعت ککړ وي، تزکيه او اصلاح نسي حاصلېدلای ، بل دا چي د بدعتي سره بيعت کول د هغه اکرام دی ، د بدعتي اکرام کول په حقيقت کي د دين په ورانولو کي د هغه سره مرسته او کومک دی، نو ځکه د بدعتي پير سره بيعت کول جواز نلري.

**د کامل شيخ دريم لازمي صفت–الامر بالمعروف و النهي عن المنکر:**

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر دنده ډېره ستره دنده ده، پر نورو امتونو د محمدي امت د فضيلت او ښه والي وجه يوه هم همدغه د امر بالمعروف او نهي عن المنکر صفت دی ([1]).

په هره اسلامي ټولنه کي چي په ښو د امر کولو او د بدو څخه د منع کولو دنده نه اجراء کيږي، بلکي د کفري ټولني په شان ښه او بد د هر کس فردي ازادي وګڼل سي، نو همدا ټولنه به د منکراتو د نحسيت په طوفان تباه کيږي.

رسول الله صلی الله عليه و سلم دا ډول ټولنه د هغي کښتۍ په شان بللي ده، کوم چي دوه منزله ولري، په يسکه( ) يو شمېر مسافر د کښتۍ[2]په لوړه طبقه يا لوړ منزل کي او يو شمېر په کښته طبقه کي سفر پيل کړي، د کښتي طبقې

[1] كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ.(١١٠ال عمران)

(٢) يسکه: قرعه کشي او د ځيني سيمو په اصطلاح پچه اچوني ته ويل کيږي.

مسافر د اوبو لپاره لوړي طبقې ته راپورته كيږي. د كښتي طبقې مسافر تصميم ونيسي چې هلته دننه د اوبو لپاره كښتۍ ته سورى وركړي، تر څو د لوړي طبقې مسافر ځني په تكليف نسي.

كه د لوړي طبقې مسافر د كښتي طبقې مسافر د دغه جاهلانه كار څخه منع نه كړي بلكې دا د دوى فردي ازادي وګڼي او هغوى كښتۍ ته په كښته طبقه كې سورى وركړي، نو د لوړي طبقې مسافر هم ورسره غرقيږي( [١] ).

داچې د مريدۍ اصلي مقصد اصلاح او تزكيه ده ، نو د هغه پير په بيعت كې مريد اصلاح كېدلاى سي چې شيخ يې په ښو امر كوونكى او د بدو څخه منع كوونكى وي .

امير المؤمنين حضرت عمر رضي الله عنه چې څه مهال د يهودي غلام لخوا سخت زخمي سو، خلک پوښتني ته ورته راتلل ، يو ځوان ورته راغلی، د عمر رضي الله عنه ستاينه يې وكړه ، ځوان چې رهي سو، عمر رضي الله عنه وليدى چې د هغه لونګ پر مځكه پسي ځكېدى يعني بجلكې يې په پتې وې.

---

[١] عن النعمان بن بشير قال : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم مثل القائم على حدود الله والمدهن فيه كمثل قوم استهموا على سفينة في البحر فأصاب بعضهم أعلاها وأصاب بعضهم أسفلها فكان الذين في أسفلها يصعدون فيستقون الماء فيصبون على الذين في أعلاها فقال الذين في أعلاها لا ندعكم تصعدون فتؤذوننا فقال الذين في أسفلها فإننا ننقبها من أسفلها فنستقي فإن أخذوا على أيديهم فمنعوهم نجوا جميعا وإن تركوهم غرقوا جميعا. ( قال أبو عيسى هذا حديث حسن صحيح)– (سنن الترمذي).

ځوان يې را وغوښتی ورته وئې ويل : اې وراره ! لونګ دې[1] د بجلکو ښخه پورته کړه ، ځکه هم دې د جامې د نظافت او هم دې د خپل رب د تقوا يا رضائيت لپاره ښه کار دی، پدغسې حالت کې لا هم عمر رضي الله عنه د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وظيفه اجراء کوله.

بله خبره داده، چې د منکر مخه به په منکر طريقه نه نيول کيږي او نه به په ښو امر کول په منکر طريقه کيږي؛ ځکه دا دنده به د اسلامي لارښونو مطابق اجراء کيږي. د اسلام مقدس دين بشپړ او کامل دين دی، د ژوند په هر اړخ کې هدايات او لارښووني لري، ان تر دې د انساني حاجت د پوره کولو او د بيت الخلاء په اړه لا هم ډېرې لارښووني په نبوي احاديثو کې را نقل سوي دي.

حضرت عمر رضي الله عنه په خونه ښو اخلاقو او قانع کوونکي دليل دا ځوان پوه کړ، چې د نارينه لونګ او پايڅې بايد پر بجلکو را ايله نه وي.

ځيني کسان د جهالت ښخه د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په کار کې ځان ازاد ګڼي، نصيحت يې شرمول او رسوايي وي، توصيه يې ښکنځل وي، امر بالمعروف ئې پېغور او توهين وي، داسې بايد کله هم ونه سي.

---

[1] وَجَاءَ رَجُلٌ شَابٌّ فَقَالَ أَبْشِرْ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ بِبُشْرَى اللهِ لَكَ مِنْ صُحْبَةِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَقَدَمٍ فِي الإِسْلاَمِ مَا قَدْ عَلِمْتَ ثُمَّ وَلِيتَ فَعَدَلْتَ ثُمَّ شَهَادَةٌ قَالَ وَدِدْتُ أَنَّ ذَلِكَ كَفَافٌ لاَ عَلَيَّ ، وَلاَ لِي فَلَمَّا أَدْبَرَ إِذَا إِزَارُهُ يَمَسُّ الأَرْضَ قَالَ رُدُّوا عَلَيَّ الْغُلاَمَ قَالَ ابْنَ أَخِي ارْفَعْ ثَوْبَكَ فَإِنَّهُ أَبْقَى لِثَوْبِكَ وَأَتْقَى لِرَبِّكَ (البخاري) في بعض الروايات انقي لثوبك.

رسول الله صلى الله عليه و سلم، چي به د يو كس ناوړه كار وليدی هغه يې د نورو په مخكي په عامه مجمع كي نه رسوا كاوه بلكي خبره به يې عامه كول ويل به يې: ما بال الناس يفعلون كذا و كذا يعني دا ځيني خلک ولي داسي او داسي كارونه كوي.

امر بالمعروف او نهي عن المنكر يوازي د كامل شيخ لپاره لازمي صفت نه دی، بلكي د هر مومن لپاره دا صفت ضروري دی؛ ځكه د دغه امت د ښه والي يو صفت همدا امر بالمعروف او نهي عن المنكر دی [1].

نو مرشد بايد په طريق اولی دغه صفت په ځان كي ولري.

په قرآن كريم كي منافقان بيا د دغه صفت په ضد صفت غندل سوي دي، الله تعالى د منافقانو په اړه فرمايلي دي:

منافقان او منافقاني په نفاق او معصيتونو كي يو و بل ته ورته دي، په منكر يعني كفر او ګناهونو امر كوي او د معروف يعني ايمان او نيكو كارونو څخه منع كوي( [2] ).

ځكه نو د داسي پير سره بيعت جواز نه لري چي هغه د لمانځه، روژې، د مؤمنانو د خپل منځي اخوت، د علماؤ د اكرام او ديني زده كړو او داسي نورو

---

[1] كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ.( ال عمران – ١١٠)

[2] الْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَاتُ بَعْضُهُمْ مِنْ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمُنْكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوفِ.( التوبة–٦٧)

ښو کارونو څخه مريدان منع کوي، په بې لمانځي، ډيره خريلو، د علماؤ سره په بغض او عداوت او په ټولنه کې په نفاق او شرارت يې امر کوي.

**د کامل شيخ څلورم لازمي صفت – الزهد فى الدنيا:**

د کامل شيخ لپاره څلورم لازمي صفت زهد دى، علماء کرامو د زهد مختلف مفاهيم بيان کړي دي:

جنيد بغدادي رحمه الله تعالى وايي: دنيا وړه ګڼل او اثار يعني محبت يې د زړه څخه محوه کول زهد دى( [1] ).

ابن الجلاء رحمه الله تعالى وايي: د زهد معنى دنيا ته د زوال په سترګه کتل، څو په نظر کې خواره ښکاره سي او د هغه څخه مخ اړول اسانه سي ( ).

ځيني بيا وايي: د يو شي سره رغبت او مينه بل داسي شي ته اړول چي هغه تر دغه غوره او ښه وي زهد بلل کيږي( [3] ).

که دغو او دې ته ورته نورو تعريفونو ته ځير سو، د زهد په تعريف کې د ټولو علماوو تر منځ مشترک ټکی دا دی، چي د دنيا تر نعمتونو د آخرت نعمتونو ته ترجيح ورکول زهد دى.

---

[1] ( الزُّهْدِ ) هُوَ مَا نُقِلَ عَنْ الْجُنَيْدِ اسْتِصْغَارُ الدُّنْيَا وَمَحْوُ آثَارِهَا مِنْ الْقَلْبِ .(بريقة محمودية )

[2] وقال ابن الجلاء: الزهد: هو النظر إلى الدنيا بعين الزوال، لتصغر في عينك فيسهل عليك الإعراض عنها. ( الرسالة القشيرية)

[3] ومعنى الزهد هو انصراف الرغبة عن الشيء إلى ما هو خير منه.(موسوعة فقه القلوب )

د دنيا نعمتونه که څه هم ښکلي دي او انسان ته خوښ او محبوب دي؛ ځکه چي في الحال د انسان د هوسايني او خوشحالۍ سبب کيږي؛ خو د آخرت نعمتونه تر دغو غوره او دايمي دي.

الله تعالی فرمايلي دي: بلکي تاسو د دنيا ژوند اختياروی، پداسي حال کي، چي آخرت تر دنيا غوره او دايمي دی[1].

د ابن الجلاء په تعريف کي هم زهد او هم د زهد علاج ذکر سوی دی؛ ځکه د ده په تعريف کي راغلي دي: دنيا ته د زوال په سترګه کتل دي، دا د زهد تعريف نه دی بلکي د زهد د راپيدا کولو طريقه ده، يعني د دنيا نعمتونه که څه هم ښکلي او انسان ته خوښ او محبوب دي، خو دا لکه يخه سايه چي څوک پکښي ناست وي ، څو شيبې وروسته ځني ټوليږي، د دنيا هر نعمت همداسي ژر زواليږي، نو هر شی چي د انسان د لاس څخه ژر زايل کيږي د هغه سره زړه ډېر نه تړي؛ ځکه نو وايي : دنيا ته که څوک د زوال په سترګه وګوري د دنيا قدر يې په زړه کي کميږي ، دنيا چي انسان ته بې ارزښته سي، نو بيا د دنيا څخه مخ د عقبا پر خوا اړول ورته اسانه کيږي، اصلي زهد د دنيا څخه مخ اړول او د آخرت خوا ته متوجه کېدل دي.

د قران کريم په ډېرو ايتونو کي د زهد علاج او د زهد ترغيب ذکر سوی دی: الله تعالی د دنيا د ښکلا او د ژر فنا مثال د هغو ښکلو نباتاتو په شان ور کړی

---

[1] بَلْ تُؤْثِرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا (١٦) وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَى (١٧ الاعلى)

دی چي د باران په اوبو شنه سي ، د مځکي پر مخ زېړه وړونکی ښايسته منظر جوړ سي؛ خو لږ وخت وروسته همدا ښکلي ښکلي نباتات او رنګارنګ ګلونه وچ او ميده ميده سي.

نو کوم کسان چي دنيا اختياره کړي او آخرت ته شا کړي، د هغو لپاره په آخرت کي سخت عذابونه دي؛ خو کوم کسان چي د دنيا څخه د آخرت خوا ته مخ واړوي، د هغوی لپاره مغفرت او د الله تعالی رضا ده(  ). ١

لهذا د هغه پير په بيعت کي د انسان اصلاح او تزکيه حاصلېدلای سي، چي هغه زاهد وي.

د داسي کس سره بايد بيعت ونسي، چي هغه دنيا په دواړو لاسونو راټولوي، د خانقاه هدف يې مال او دولت وي؛ ځکه نو د شتمنو مريدانو ډېر تلاښ کوي، د مريدانو په ذريعه شتمنو کسانو ته سلامونه ليږي، پوښتنه پر کوي، ځو هغه هم په لومه کي ښکېل کړي.

د داسي کس سره بايد بيعت ونسي، چي هغوی د پيرۍ په لباس کي ځان ته شهرت ورکوي؛ ځکه شهرت دنيا پرستانو ته تر مال او دولت لا هم زيات ارزښت لري؛ ځکه نو رياکاران مالونه د شهرت لپاره ښندي.

---

١ اعْلَمُوا أَنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَزِينَةٌ وَتَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ كَمَثَلِ غَيْثٍ أَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهُ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَاهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُونُ حُطَامًا وَفِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَمَغْفِرَةٌ مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٌ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ (الحديد– ٢٠)

د داسي کس سره بايد بيعت و نسي، چي هغه د پيرۍ په جامه کي د لوړ مقام او عزت تلاښ کوي، د خانقاه هدف يې د مريدانو اصلاح او تزکيه نه وي، بلکي مقصد يې د مريدانو په نامه ځان ته د مرييانو پيدا کول وي، د مريدانو د جذب او دعوت لپاره کمپاينونه چلوي، اشتهارات او غونډي جوړوي، دلته او هلته د خليفه په نامه نمايندګۍ خلاصوي ، لکه سياسي تنظيمونه چي په انتخاباتي شعارونو خلک خطاباسي او د هغوی رايي تر لاسه کوي، جاه پرسته پيران هم د اصلاح او تزکيې په شعار او نامه د ځان لپاره د خدمت او دروړ غلامان پيدا کوي او د خلکو د صداقت او اخلاص څخه غلطه استفاده کوي.

**د کامل شيخ پنځم لازمي صفت– تقوا:**

د کامل شيخ لپاره پنځم لازمي صفت تقوا ده ، تقوا په لغت کي ځان ساتني ته وايي ، په شريعت کي د هر هغه شي څخه ځان ساتلو ته تقوا وايي چي هغه په آخرت کي تاوان ورته کوي .

**د تقوا مرتبې:**

تقوا په شريعت کي درې مرتبې لري ، د تقوا لومړۍ مرتبه د شرک او کفر څخه ځان ساتل يعني ايمان درلودل دي ، مومن چي هر خونه ګنهکار وي بيا هم په دغه ايمان د جهنم د دايمي اور څخه ساتل کيږي، د تقوا د لومړۍ مرتبې په اعتبار هر مؤمن ته متقي ويل کيدلای سي.

د تقوا دوهمه مرتبه دګناهونو څخه ځان ساتلو ته ويل کيږي، دا که د يو کار په کولو ځوک ګنهکاره کيدی يا يې په پرېښوولو ځوک ګنهکاره کيدی. د

شريعت په اصطلاح کې په عمومي ډول د الله تعالى امرونه پر ځای کول او دګناهونو څخه ځان ساتلو ته تقوا ویل کیږي. د کامل شیخ لپاره همدغه تقوا لازمي ده ، پير که متقي نه وو د هغه په بيعت کې خير نسته او نه يې په بيعت سره مريد اصلاح کیدلای سي.

د تقوا دريمه مرتبه دا ده، چې د هر هغه شي څخه بنده ځان وساتي، چې د رب العالمين څخه يې زړه مشغولوي، دا د تقوا لوړه درجه او حقيقي تقوا ده ، د (اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ ...١٠٢ ال عمران) څخه مراد هم دغه تقوا ده[١].

## باطل وهمونه

اول: که يو کس د چا سره بيعت وکړي وروسته ورته ثابته سوه چا دا کس د بيعت وړتيا نه لري ، په عقيدوي يا عملي بدعتونو ککړ دی، د پیری او خانقاه مقصد يې د خرافاتو خپرول او دنيوي مقاصد، لکه مال ، عزت ، جاه او شهرت تر لاسه کول وي، نو پر مريد لازمه ده چي د دغه پير مريدي پرېږدي؛

---

[١] المتقي : وهو في عرف الشرع اسم لمن يقي نفسه مما يضره في الآخرة وله ثلاث مراتب:
الأولى: التوقي من العذاب المخلد بالتبري من الشرك وعليه قوله تعالى (وألزمهم كلمة التقوى).
الثانية: التجنب عن كل ما يؤثم من فعل أو ترك حتى الصغائر عند قوم وهو المتعارف باسم التقوى في الشرع وهو المعنى بقوله تعالى ( ولو أن أهل القرى آمنوا واتقوا ).
الثالثة: أن يتنزه عما يشغل سره عن الحق ويتبتل إليه بشراشره وهو التقوى الحقيقي المطلوب بقوله تعالى ) يا أيها الذين آمنوا اتقوا الله حق تقاته ( وقد فسر قوله ) هدى للمتقين ههنا على الأوجه الثلاثة .( تفسير البيضاوي)

ځکه د بيعت او مريدۍ څخه مقصد د ځان اصلاح ده، د نااهل پير په بيعت کي د مريد اصلاح نه راځي، بلکي د دې بر عکس مريد هم په خرافاتو او باطلو عقايدو ورسره ککړ کيږي.

دوهم : نااهله پيران خپل مريدان د خپلو شخصي ګټو لپاره د خادمانو غوندي استعمالوي، د مريدانو د جلب په کمپاين کي د درواغو تبليغات په کوي، تر څو ساده مسلمانان په تېر باسي، نو مسلمان بايد هيڅ وخت هم خپل آخرت د بل د دنيا لپاره خراب نکړي.

دريم : د يو کس مريد کېدل د هغه پير إعزاز او إکرام دی، د بدعتي اکرام او عزت کول د الله د رسول صلی الله عليه و سلم په وينا د اسلام د مقدس دين په نړولو کي د هغه سره کومک کول دي( [1] )، سنت او بدعت لکه رڼا او تياره يو ځای کېدلای نسي. بدعتي په حقيقت کي په هر بدعت سره د نبوي تګلاري او سنتو مقابله کوي، پداسي حال کي، چي نبوي سنت له منځه وړل د اسلام د مقدس دين خرابول دي- نعوذ بالله-

کله – کله ځيني علماء کرام او د تولني مخور کسان هم د حسن ظن پر اساس تېر وځي، د نااهل کس سره بيعت وکړي دغو کسانو ته چي د پير نااهليت ثابت سي، هغوی به يې د بيعت پرېښوولو تر څنګ د هغه پير د مريدۍ څخه د برائت او بيزارۍ اعلان هم کوي او خلک به خبروي.

---

[1] عَنْ مُعَاذِ بن جَبَلٍ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:"مَنْ مَشَى إِلَى صَاحِبِ بِدْعَةٍ لِيُوَقِّرَهُ، فَقَدْ أَعَانَ عَلَى هَدْمِ الإِسْلامِ"( المعجم الكبير للطبراني)

ځکه عوام صحيح پير او نااهل پير نه سره پيژني ، هغوی نورو ته ګوري وايي: که دا پير د بيعت وړتيا نه لرلای، نو فلاني مولوي صاحب به بيعت نه ورسره کولای، نو مولوي صاحب ته چي خپله اشتباه ثابته سي بايد نور مسلمانان هم پخپله اشتباه خبر کړي.

نااهل پيران د خپلي ناچله سکې د چلنبت لپاره د مريدانو په زړونو کي باطل وهمونه پيدا کوي ، د درواغو په قصو هغوی بيروي ، د مريد په ذهن کي داسي ور اچوي که مريد د پير دروړ بند کړي يا يې مريدي پريږدي، نو حتما هغه ته تاوانونه رسيږي.

ساده خلک يې پدغه جادو د ځان تابع ګرځولي وي ، بېچارګان نه د دروړ ورکولو وسع لري او نه يې هم په مريدۍ کي خيرويني؛ خو بيا يې هم د دغو باطلو وهمونو لکبله مريدي کوي. د پير د دروړ لپاره اولاد لا هم وچه خوله پرېږدي يا پور کوي؛ خو د پير دروړ برابروي.

مؤمنانو! کله چي د پير نااهليت درته ثابت سي نور يې مريدۍ پرېږدی هيڅ تاوان نسي در رسولای او نه د بيعت په پرېښوولو کي د هغه اجازې ته اړتيا سته؛ ځکه دغه بيعت د هغه اولي ورځي څخه بيعت ندی، دا داسي مثال لري لکه يو کس چي په امام پسي اقتداء وکړي نو پر دغه مقتدي لازمه ده د امام متابعت به کوي ، امام چي سلام وګرځوي دی به هم سلام ګرځوي .

خو که څوک پداسي امام پسي اقتداء وکړي چي هغه د لمانځه شرايط نه وي پر ځای کړي، مثلا بې اودسه پر لمانځه ولاړ وي پدغسي امام پسي چي څوک

اقتداء وکړي د ابتداء څخه يې اقتداء فاسده ده ، نو د نا اهل کس سره بیعت همداسي د ابتداء څخه باطل دی.

انسانان که مؤمنان دي که کافران دي په دنيا کي يې حالت يو ډول نه وي ، کله د خوشالۍ کله د پریشانۍ حالت پر راځي، کله گټه او کله تاوان کوي، کله صحتمند او کله مريض کيږي، کله يې کاروبار سم سي، کله يې بيا کاروبار خراب سي ، کله د اولاد په پیدا کېدو خوشالي کوي کله بیا د اولاد په مړينه په غم اخته سي.

د مريدۍ څخه مخکي هم د دغه ډول حالاتو سره مخ کيږي، د مريدۍ څخه وروسته هم د دغه ډول حالاتو سر مخ کيږي، نااهله پيران د مريدانو ذهن او عقيده داسي جوړوي، چي دا هر څه نعمتونه مريد ته د پير په برکت رسيږي، که یو مريد مريدي پريږدي يا د پير په دروږ او خدمت کي کوتاهي وکړي او هغه د بد حال او تاوان سره مخ سي نو وايي: دا د مريدۍ د پرېښوولو لکبله تاواني سو.

دغه ټول باطل وهمونه دي، د نا اهل پير برکت له کومي خوا وو ؟ نا اهل پير يو مخ نحسيت او بې برکتي ده، د نا اهل پير پر بيعت پاتېدل گناه او د اسلام په خرابولو کي د هغه سره مرسته کول دي. د اسلام خرابول لويه گناه ده، ځوک چي د اسلام دين خرابوي هغه دي د الله تعالی د دنيوي او اخروي عذابونو څخه وبيريږي.مؤمنان بايد پدې عقيده وي چي دا هر څه نعمتونه د

الله تعالی لخوا څخه ما ته راکول سوي دي  او که کومه پرېشاني،[1] غم يا تاوان ورته رسيږي هغه يو امتحان يا د کړو ګناهونو دنيوي سزا او کفاره ده.

که دا ټول انسانان په ګډه چا ته تاوان رسول وغواړي؛ خو الله تعالی په تقدير کي تاوان نه وي ورته مقرر کړی، هيڅ څوک تاوان نسي ورسولای ، دغه ډول که څوک وغواړي چاته ګټه ور ورسوي؛ خو الله تعالی ګټه ورته مقدر کړې نه وي، نو څوک ګټه هم نسي ورته رسولای .[2]

---

[1] وَمَا بِكُمْ مِنْ نِعْمَةٍ فَمِنَ اللَّهِ,,,(٥٣ النحل)

[2] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:يَا غُلامُ، احْفَظِ اللَّهَ يَحْفَظْكَ، احْفَظِ اللَّهَ تَجِدْهُ أَمَامَكَ، تَعَرَّفْ بِاللَّهِ فِي الرَّخَاءِ يَعْرِفْكَ فِي الشِّدَّةِ، وَاعْلَمْ أَنَّ مَا أَصَابَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَكَ، وَمَا أَخْطَأَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُصِيبَكَ، وَاعْلَمْ أَنَّ الْخَلائِقَ لَوِ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يُعْطُوكَ شَيْئًا لَمْ يُرِدِ اللَّهُ أَنْ يُعْطِيَكَ لَمْ يَقْدِرُوا عَلَيْهِ، أَوْ يَصْرِفُوا عَنْكَ شَيْئًا أَرَادَ أَنْ يُصِيبَكَ بِهِ لَمْ يَقْدِرُوا عَلَى ذَلِكَ، فَإِذَا سَأَلْتَ فَسَلِ اللَّهَ، وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ.(المعجم الكبير للطبراني)

# شپږم فصل

## د ولي تعريف

د هر مسلمان لپاره د اولياؤ پيژندنه ضروري ده، تر څو د ځان د اصلاح لپاره ور سره مل واوسي؛ ځکه الله تعالی د رښتيني انسانانو د ملتيا حکم کړی دی( [1] ) او د نيکانو په ناسته سړی نيک انسان جوړيږي .

بل داچي د الله تعالی د رضا لپاره محبت ورسره وساتي او د دښمني څخه يې ډډه وکړي؛ ځکه الله تعالی هغو کسانو ته د جنگ اعلان کړی دی کوم چي د الله تعالی د وليانو سره دښمني کوي ( [2] )

د الله تعالی د جنگ معنی داده، چي د اولياؤ دښمنان د الله تعالی دښمنان دي؛ ځکه د جنگ اعلان ځوک دښمن ته کوي، د اولياؤ دښمنان به تباه کيږي؛ ځکه د الله تعالی سره څوک د جنگ کولو توان نه لري.

الله تعالی د خپلو اولياؤ د ښه انجام خبر داسي ورکړی دی: اګاه سئ! يقينا د الله پر اولياؤ بيره نسته او نه به هم هغوی غمجن کيږي( [3] ) يعني اولياء الله په آخرت کي د هيڅ بيري او غم سره نه مخ کيږي.

---

[1] يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ (١١٩)التوبة

[2] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : إِنَّ اللَّهَ قَالَ مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ. ( البخارى)

[3] أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ (٦٢يونس).

که څه هم په دنيا کي د بيري او غم سره مخ کېدلای سي ، بلکي تر عادي خلکو د زياتو کړاوونو سره مخ کېدلای سي؛ ځکه د دنيا ازمايښتونه د سړي د ديانت په تناسب وي ، ځونه چي الله تعالی ته نژدې کيږي په هغه اندازه يې ازمايښتونه غټيږي.[1]

خو داچي د الله اولياء او دوستان څوک دي؟ په ورپسې ايت کي الله تعالی دا پوښتنه داسي جواب کړې ده: **الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ (٦٣يونس).**

د الله اولياء او دوستان هغه کسان دي چي هغوی ايمان راوړی وي او تقوا کوونکي وي( ٢ ).

د الله تعالی د اولياؤ د تعريف مخکښی لنډ ايت که څوک ياد کړي په معنی يې ځان پوه کړي، نو هغه به هيڅکله هم داسي کس د الله ولي و نه ګڼي، چي الله پاک هغه فاسق او د شيطان ولي بللی وي.

---

[1] عن مصعب بن سعد عن أبيه قال قلت: يا رسول الله أي الناس أشد بلاء قال الأنبياء ثم الصالحون ثم الامثل فالأمثل من الناس يبتلى الرجل على حسب دينه فإن كان في دينه صلابة زيد في بلائه وان كان في دينة رقة خفف عنه وما يزال البلاء بالعبد حتى يمشى على ظهر الأرض ليس عليه خطيئة (مسنداحمد بن حنبل )

[2] الوليّ : في اللغة : القريب . والمراد بأولياء الله : خلص المؤمنين كأنهم قربوا من الله سبحانه بطاعته واجتناب معصيته. وقد فسر سبحانه ، هؤلاء الأولياء بقوله : { الذين ءامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ } أي : يؤمنون بما يجب الإيمان به ، ويتقون ما يجب عليهم اتقاؤه من معاصي الله سبحانه ،(فتح القدير للشوكاني)

د الله په وليانو کي به حتما دوه صفته موجود وي: لومړی ايمان دوهم تقوا، خو دا چي ايمان څه ته وايي؟ دا پوښتنه په مفصل ډول رسول الله په حديث جبرئيل کي جواب کړې ده.

حديث مو په تفصيلي ډول په لومړي فصل کي ولوست ، د جبرئيل عليه السلام په پوښتونو کي يوه دا وه:

**فَأَخْبِرْنِى عَنِ الإِيمَانِ ، قَالَ « أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ وَمَلاَئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ.**

ژباړه: په ايمان مي خبر کړه، رسول الله ورته وويل: ايمان دا دی چي ته د الله وحدانيت ومنې، د الله تعالی ملايکي، کتابونه، رسولان او د آخرت ورځ ومنې او د خير او شر تقدير ومنې.

په قران کريم کي هم د همدغو شيانو منل د رسول الله او د مؤمنانو عقيده بلل سوې ده( [1] ).

د اهل السنة و الجماعة علماء کرامو چي د عقيدې کتابونه تاليف کړي دي په هغو ټولو کي يې هم دا شپږ شيان ذکر کړي دي، چي د عقلي او نقلي دلايلو تر څنګ يې په مفصل ډول جزئيات او يو شمېر اړوند مسايل هم ورسره ذکر کړي دي.

[1] آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ (٢٨٥البقرة).

نو داچي د ولي لومړی صفت ايمان دی کافران د الله وليان نه دي؛ ځکه ايمان نه لري، دغه ډول هغه کس هم د الله ولي نه دی کوم چي په امنت بالله کي د ذکر سوو شپږو شيانو څخه له يوه څخه انکار وکړي.

د ولي دوهم صفت تقوا ده، د تقوا لغوي او شرعي تعريف او مراتب مو مخکي د کامل شيخ په شپږم صفت کي ولوستل ، خونه چي د انسان تقوا زياته وي په هغه اندازه الله تعالی ته مکرم او عزتمن وي [1].

د متقيانو عملونه او صفات په قران کريم کي په ډيرو ايتونو کي په تفصيل ذکر سوي دي ، همدا صفات که په چا کي وه هغه د تقوا څښتن بلل کيږي .

د سورة البقرة په ۱۷۷ ايت کي الله تعالی هغه کسان متقيان بللي دي چي هغوی پر الله د آخرت پر ورځ ، پر ملايکو او پر نازل سوو کتابونو ايمان لري . د الله تعالی د محبت لکبله مالونه خپلوانو ، يتيمانو ، مسکينانو ، بې خرڅه مسافرو ، اړو سوالګرو ته ورکوي او هم يې د مريانو په ازادولو کي ښندي . په صحيح ډول لمونځونه او زکات اداء کوي ، پر خپلو کړو ژمنو او تعهداتو وفا کونکي وي ، پر فقر ، نارغيو او د جنګ پر سختيو صبر کونکي وي .

---

[1] ... إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ....(۱۳ الحجرات)

[2] .... وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ (۱۷۷البقرة)

د دغو صفاتو د بيانولو څخه وروسته الله تعالى فرمايلي دي: **وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ** او همدا کسان متقيان دي.

متقيان د الله تعالى اولياء دي ، خو ځيني خلک بيا د ناخبرتيا لکبله داسي کسانو ته اولياء وايي چي هغوى د قراني تعريف له مخي اولياء نه بلل کيږي.

بلکي عوام کله داسي کسان لا هم د الله په اولياؤ کي شميري چي په قران کريم يا نبوي احاديثو کي په واضح ډول هغوى فاسقان او د شيطان دوستان بلل سوي دي .

نو په همدې اساس دلته يو شمېر هغه عملونه او صفات ذکر کوو کوم چي ځيني عوام يې د ولايت معيار بولي؛ خو په قراني ايتونو او نبوي احاديثو کي هغه تقوا نه ، بلکي ځيني يې فسق او شيطاني کارونه بلل سوي دي.

**د ولايت غلط معيارونه:**

اول : ځيني کسان فقط هغه کسان اولياء الله بولي چي هغوى خانقاه پرانيستې وي د پيرۍ دعوه کوي، مريدان نيسي ، خوعلماء کرام بيا هيڅ په اولياؤ کي نه شميري، که څه هم هغوى د صحيحي عقيدې او تقوا څښتنان وي ، ټول عمر په تعلم، تعليم( ) او د دين په خدمت کي لګياوي، بلکي د جاهل او بې دينه پير په پارونه د علماؤ سره دښمنى کوي.

١ : تعلم او تعليم: زده کړه او ښوونه.

دوهم: ځيني کسان داسي دي، که يو ځای نامعلوم قبر د وهمي پير په صفت را ښرګند سو ، يا پر قبر ګنبده جوړه وه هغه ولي بولي ، آن تر دي ولايت يې قطعي ګڼي، د هغه د ولايت څخه انکار کول د اولياؤ سره دښمني ګڼي.

په ګنبده سره مړی د الله ولي نسي کېدلای، که ګنبده ولايت وبلل سي، نو پدا لنډ وخت کي موږ وليدل، چي د افغانستان په مختلفو ولاياتو او سيمو کي پر داسي خلکو هم ګنبدي جوړي سوې، چي د اسلام د دښمنانو سره به ئې خواخوږي درلوده او ناحقه مسلمانان به ئې قتلول.

ګنبدي والا او وهمي قبرونه اولياء بلل پر الله تعالى دروغ تړل دي؛ ځکه الله تعالى خپل اولياء هغه کسان بللي دي چي د ايمان او تقوا څښتنان وي، نه هغه کسان چي ايمان او تقوا ئې نه وي معلومه.

دريم : ځيني کسان بيا هغه کسان اولياء بولي چي لمونځ او روژې نه نيسي ، په خيرنو جامو يا نيم لوڅ بدن د ليوني په شان ګرځي ، ګډي وډي خبري او کفريات وايي .

داسي کسان اولياء بلل هم پر الله تعالى دروغ تړل دي؛ ځکه دغه ډول کس که ليونی وي، نو ليونی خو مکلف نه دی، د دغه ليوني او د نورو ليونيانو او نابالغو کوچنيانو تر منځ ولي فرق کيږي؟ تول مکلف نه دي، په نابالغو کوچنيانو کي لمونځ کوونکي او حافظان هم سته د هغوی هيڅ احترام نه ساتل کيږي، حتی د هغو د ځورولو د عذاب څخه هيڅ ډار نلري.

که دغه کسان ليونيان نه وي او همداسي د ليونتوب کارونه کوي، نو دا خو شرعا مکلف دي، چي د لمانځه او نورو عبادتونو په نه کولو فاسقان بلل کيږي.

که ئې کفري خبري کولې په هغو سره کافر کيږي، نو فاسق يا زنديق ته د الله ولي ويل پر الله تعالى افتراء او دروغ تړل دي.

څلورم : ځيني کسان پر کاهن باندي د ولي گمان کوي، کاهن هغه چا ته وايي چي وړاندوينه او غيب ويل کوي، کاهن د الله ولي نه دى بلکي د شيطان ولي دى.

رسول الله صلى الله عليه و سلم د کاهنانو وړاندويني باطلي بللي دي ، يو کس پوښتنه وکړه چي هغوى ځيني وخت وړاندوينه وکړي هماغسي پېښه سي.

رسول الله ورته وويل: شيطانان يو د بل پر اوږدو اسمان ته ځانونه نژدې کوي څو د ملايکو خبري واوري، ملايکي په وريځ کي راکښته سي د الله لخوا څخه چي د يو کار حکم ورته سوى وي هغه خپل منځ کي بيانوي.

که شيطانانو تر ويشتل کېدو مخکي خبر ځني واورېدى هغه يو و بل ته انتقالوي ، مځکنى شيطان دا اسماني خبر د کاهن غوږ ته رسوي.

کاهن د هغه سره سل دروغ گډوي، د کاهنانو چي کله ناکله ځيني وړاند ويني صحيح خيږي هغه د ملايکو څخه اورېدل سوى خبر دى، په يوه رښتيني خبر سلو دروغانو ته اشاعت ورکوي( [1] ).

---

[1] عَنْ عَائِشَةَ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا – قَالَتْ سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم نَاسٌ ، عَنِ الْكُهَّانِ فَقَالَ لَيْسَ بِشَيْءٍ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهُمْ يُحَدِّثُونَا أَحْيَانًا بِشَيْءٍ فَيَكُونُ حَقًّا ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم تِلْكَ الْكَلِمَةُ مِنَ الْحَقِّ يَخْطَفُهَا مِنَ الْجِنِّيِّ فَيَقُرُّهَا فِي أُذُنِ وَلِيِّهِ فَيَخْلِطُونَ مَعَهَا مِئَةَ كَذْبَةٍ.(البخاري).

رسول الله صلى الله عليه و سلم كاهن د شيطان ولي (دوست) بللى دى د شيطان ولي د الله ولي نسي كېدلاى.

پنځم : ځيني كسان بيا عراف ولي ګڼي ([1]).

د الله رسول وايي كه څوک كاهن او عراف ته ورسي، وينا يي رښتينى وګڼي او باور په وكړي، نو هغه پر محمد عليه السلام باندي د نازل سوي كتاب يعني قران د منلو څخه انكار وكړ([2]).

ځكه په قرانكريم كي الله جل جلاله فرمايلي دي، چي په غيبو بيله الله څخه بل څوک علم نه لري([3])؛ پداسي حال كي چي كاهن او عراف د دې ايت خلاف ځان په غيبو خبر بولي.

---

[1] عراف: كتني والا ته ويل كيږي، چي د غلا او وركي په ځاى او كس ځان خبر ګڼي، يعني په تيره زمانه كي په واقع سوو كارونو ځان خبر بولي كه څه هم هغه يې نه ليدلي وي او نه هم د رښتيني كس لخوا معلومات ورته حاصل سوى وي ، كاهن بيا په ماضي او مستقبل دواړو ځان خبر بولي.

[2] عن أبي هريرة والحسن عن النبي صلى الله عليه و سلم قال : من أتى كاهنا أو عرافا فصدقه بما يقول فقد كفر بما أنزل على محمد صلى الله عليه و سلم مسند احمد تعليق شعيب الأرنؤوط : حسن رجاله ثقات رجال الصحيح

[3] : وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ ﴿الأنعام: ٥٩﴾
قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ.﴿النمل: ٦٥﴾

هر هغه شى چي انسانان يې نه په حواسو درک کولاى سي او نه يې د مشاهداتو څخه په استدلال په عقل درک کولاى سي هغه د انسانانو په حق کي په غيبو کي راځي ، د معلومولو يوازنى لاره يې ربنتيني خبر دى، پداسي حال کي، چي ربنتينى خبر( وحي) پر کاهن او عراف نه نازلېږي.

شپږم: ځيني کسان کوډګران د الله وليان بولي، پداسي حال کي چي کوډګري د جادو يو قسم دى، د ميرمني او ميړه تر منځ بيلتون په راولي يا يو د بل سره ١
يې محبت په زياتوي . کوډګري حرامه ده په کوډګرۍ[2] يو ثوک د الله ولي نسي کېدلاى.

اووم: ځيني کسان پر اوده ګرانو او تعويذ ګرانو د وليانو خيال کوي، دا هم غلط خيال دى؛ ځکه دم يا تعويذ لکه طبابت د ناروغۍ علاج دى، پدې شرط چي د جواز شرطونه يې مراعات کړي، د شيطانانو او مخلوقاتو څخه استغاثه( ) ونه کړي او نه هم مشرکانه وېناوي[3] او نه فهمېدونکي کلمي پکښي ليکل سوي وي، بلکي د الله تعالى نومونه، قراني اياتونه، مسنون دمونه او

---

١ .... فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ...(١٠٢ البقرة)

٢ قال الزيلعي وعن ابن مسعود رضي الله تعالى عنه أنه قال سمعت رسول الله يقول إن الرقى والتمائم والتولة شرك رواه أبو داود وابن ماجه، والتولة أي بوزن عنبة ضرب من السحر، قال الأصمعي هو تحبيب المرأة إلى زوجها ( رد المحتار )

٣ : استغاثة: د غوث څخه اخيستل سوې ده، د خاصي مرستي او همکارۍ غوښتنه ده.

مشروعي دعاوي وي. له همدې امله پر دم او تعويذ باندي د اجورې او مزدورۍ اخيستل جواز لري، چي دا معالجه او درملنه ده.

د يادوني وړ ده، چي د دم او تعويذ د جواز دار مدار پر اثر نه دی، بلکي پر صحيحو کلماتو دی، ناجايزه دمونه ، تعويذونه ، کوډې او جادو که څه هم اثر وکړي ، مريض په جوړ سي بيا هم جواز نه لري.

عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه وايي : رسول الله صلى الله عليه و سلم مشرکانه دمونه، شنې مرياني په غاړه ځړول او کوډې شرک بللي دي، ښځې يې زينب رضي الله عنها ورته وويل: ته څه وايې؟ زما سترګه خوږې وه غورځېدله، فلانکي يهودي ته تلم را تلم هغه دم پر کاوه، چي دم به يې پر وکړ، سترګه به مي ښه سوه.

د زينب رضي الله عنها مقصد دا وو، چي د يهودي په دم کي اثر وو، سترګه مي په ارامېدله نو دا ولې ممنوع کار بلل کيږي؟

ابن مسعود رضي الله عنه ورته وويل: شيطان ستا سترګه تخنوله، يهودي چي به دم پر وکړ، شيطان به ځني شا ته سو، خو ستا لپاره د رسول الله صلى الله عليه و سلم دم کفايت کوي، هغه داسي دم کاوه: اې د خلکو ښښتنه! دا تکليف ليري کړه، شفا راکړه ، ته شفا ورکوونکی يې ، بيله تا څخه بل څوک شفا نسي ورکولای ، داسي شفا راکړه چي هيڅ مرض پرې نږدي( ). [1]

---

[1] عَنِ ابْنِ أَخِى زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– يَقُولُ « إِنَّ الرُّقَى وَالتَّمَائِمَ وَالتِّوَلَةَ شِرْكٌ ». قَالَتْ قُلْتُ لِمَ تَقُولُ هَذَا

په ځينو رواياتو کي راځي چي زينب رضي الله عنها په غاړه تار ځړولی وو ، ابن مسعود رضي الله عنه يې تار د غاړي څخه وشکاوه او ورته وئې ويل : دا ډول علاج کول منع دی، هغې ورته وويل : پر دغه تار دم سوی دی او سترګه مي ور سره ښه سوې ده ، ابن مسعود ورته وويل : زما کورنۍ د يهودو مشرکانه دمونو ته اړتيا نه لري ، زموږ لپاره د رسول الله صلى الله عليه و سلم په شان دم کول پکار دي، هغه داچي داسي دم پر ځان يا بل کس وکړي:

**أَذْهِبِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ اشْفِ أَنْتَ الشَّافِي لاَ شِفَاءَ إِلاَّ شِفَاؤُكَ شِفَاءً لاَ يُغَادِرُ سَقَمًا** ( [1] ).

---

وَاللَّهِ لَقَدْ كَانَتْ عَيْنِى تَقْذِفُ وَكُنْتُ أَخْتَلِفُ إِلَى فُلاَنٍ الْيَهُودِىِّ يَرْقِينِى فَإِذَا رَقَانِى سَكَنَتْ. فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ إِنَّمَا ذَاكِ عَمَلُ الشَّيْطَانِ كَانَ يَنْخَسُهَا بِيَدِهِ فَإِذَا رَقَاهَا كَفَّ عَنْهَا إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيكِ أَنْ تَقُولِى كَمَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « أَذْهِبِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ اشْفِ أَنْتَ الشَّافِى لاَ شِفَاءَ إِلاَّ شِفَاؤُكَ شِفَاءً لاَ يُغَادِرُ سَقَمًا »(ابوداود)

[1] عَنْ يَحْيَى بْنِ الْجَزَّارِ ، عَنِ ابْنِ أُخْتِ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللهِ ، عَنْ زَيْنَبَ قَالَتْ : كَانَتْ عَجُوزٌ تَدْخُلُ عَلَيْنَا تَرْقِي مِنَ الْحُمْرَةِ ، وَكَانَ لَنَا سَرِيرٌ طَوِيلُ الْقَوَائِمِ ، وَكَانَ عَبْدُ اللهِ إِذَا دَخَلَ تَنَحْنَحَ وَصَوَّتَ ، فَدَخَلَ يَوْمًا فَلَمَّا سَمِعَتْ صَوْتَهُ احْتَجَبَتْ مِنْهُ ، فَجَاءَ فَجَلَسَ إِلَى جَانِبِي فَمَسَّنِي فَوَجَدَ مَسَّ خَيْطٍ فَقَالَ : مَا هَذَا ؟ فَقُلْتُ : رُقًى لِي فِيهِ مِنَ الْحُمْرَةِ فَجَذَبَهُ وَقَطَعَهُ فَرَمَى بِهِ وَقَالَ: لَقَدْ أَصْبَحَ آلُ عَبْدِ اللهِ أَغْنِيَاءَ عَنِ الشِّرْكِ ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ يَقُولُ: إِنَّ الرُّقَى ، وَالتَّمَائِمَ ، وَالتِّوَلَةَ شِرْكٌ.

قُلْتُ: فَإِنِّي خَرَجْتُ يَوْمًا فَأَبْصَرَنِي فُلاَنٌ ، فَدَمَعَتْ عَيْنِي الَّتِي تَلِيهِ ، فَإِذَا رَقَيْتُهَا سَكَنَتْ دَمْعَتُهَا، وَإِذَا تَرَكْتُهَا دَمَعَتْ ، قَالَ : ذَاكِ الشَّيْطَانُ ، إِذَا أَطَعْتِهِ تَرَكَكِ ، وَإِذَا عَصَيْتِهِ طَعَنَ بِإِصْبَعِهِ فِي عَيْنِكِ ، وَلَكِنْ لَوْ فَعَلْتِ كَمَا فَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ كَانَ خَيْرًا لَكِ ، وَأَجْدَرَ أَنْ

**نسبي ولايت:**

ځيني كسان ولايت ميراثي ګڼي ، كه يو بزرګ شخص تير سوى وو د هغوى د كورنۍ ټول كسان پښت تر پښته وليان بولي، دا هم د وليانو په باره كي د قران خلاف تصور او عقيده ده.

په قران كريم او نبوي احاديثو كي د ولايت معيار ايمان او تقوا ټاكل سوى دى، نسب په هيڅ ځاى كي هم د ولايت معيار نه دى بلل سوى، البته كه څوک د تقوا سره لوړ نسب هم ولري دا بيا نسبي وياړ هم دى.

رسول الله صلى الله عليه و سلم يوسف عليه السلام په تقوا او لوړ نسب داسي ستايلى دى: الكريم بن الكريم بن الكريم بن الكريم يوسف بن يعقوب بن اسحاق بن ابراهيم ، يعني خپله هم رسول دى پلار ، نيكه او ورنيكه يې هم رسولان دي عليهم السلام ( [1] ).

رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي دي: كه څوک پخپل عمل شاته پاته سي نسب يې نسي مخته كولاى ، ځكه د الله تعالى تقرب په ايمان او تقوا حاصل كيدلاى سي ، هدايت او ضلالت د الله تعالى لخوا څخه دى ( [2] ).

---

تُشْفَيْنَ تَنْضَحِينَ فِي عَيْنِكِ الْمَاءَ وَتَقُولِينَ : أَذْهِبِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسْ ، اشْفِ أَنْتَ الشَّافِي ، لاَ شِفَاءَ إِلاَّ شِفَاؤُكَ ، شِفَاءً لاَ يُغَادِرُ سَقَمًا.( سنن ابن ماجة )

[1] عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ : الْكَرِيمُ بْنُ الْكَرِيمِ بْنِ الْكَرِيمِ بْنِ الْكَرِيمِ يُوسُفُ بْنُ يَعْقُوبَ بْنِ إِسْحَاقَ بْنِ إِبْرَاهِيمَ.(البخاري)

[2] وَمَنْ بَطَّأَ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ (مسلم)

نوح علیه السلام د الله جل جلاله جلیل القدر نبي وو، خو زوی ئې کافر وو، حتی د عذاب پر وخت ئې هم ایمان رانه وړ او پر خپل کفر پاته سو او د نورو کافرانو سره غرق سو، که د پلار نبوت یا ولایت سرایت کولای، نو د نوح علیه السلام زوی ته خو ئې په طریق اولی ګټه رسوله( [1] ).

ازر مشرک وو ، د بتانو عبادت یې کاوه ، د همدغه مشرك زوی بیا ابراهیم[2] خلیل الرحمن علیه السلام دی، د توحید د عقیدې ستر داعي ، مناظر او امام دی او د مشرکانو بتان یې ور مات کړل( [3] ).

[4] فرعون غټ متکبر کافر وو ، خپل ولس ته یې ویل : زه ستاسو تر ټولو لوړ رب یم ، خو ښځه یې اسیه رضي الله عنها رسول الله صلی الله علیه و سلم د

---

[1] : قَالَ يَا نُوحُ إِنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ فَلَا تَسْأَلْنِ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنِّي أَعِظُكَ أَن تَكُونَ مِنَ الْجَاهِلِينَ ﴿٤٦ هود﴾

[2] وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَبِيًّا (٤١) إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي عَنكَ شَيْئًا (٤٢مريم)

[3] فَرَاغَ إِلَى آلِهَتِهِمْ فَقَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ (٩١) مَا لَكُمْ لَا تَنطِقُونَ (٩٢) فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًا بِالْيَمِينِ (٩٣الصافات)

[4] فَقَالَ أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَى (٢٤النازعات)

مخکنيو امتونو د هغو دوو ښځو ځخه بللي ده، چي په صحيحه عقيده او صالح عمل او تقوا کي کمال ته رسيدلي ده .[1]

وايي دا چي څه مهال د فرعون لخوا په سخت عذاب په شهادت رسېدله ، الله تعالی په دنيا کي پدې هغه د جنت مقام وليدی، کوم چي د دې لپاره يې تيار کړی و .[2]

لوط عليه السلام رسول دی خو ښځه يې کافره وه ، د نورو کافرانو سره په عذاب هلاک سوله ، نوح عليه السلام د پنځو سترو رسولانو څخه دی خو ښځه او زوی يې کنعان د شرک په عقيده وه ، د نورو کافرانو سره په طوفان کي غرق سول.

رسول الله صلی الله عليه و سلم سيد المرسلين دی ، د ده خوښه وه چي اکا يې ابو طالب ايمان راوړي ، د هغه د مريضۍ په حالت کي يې لا هم کوښښ وکړ چي هغه ايمان راوړی ، د ايمان دعوت يې ورکړ ، ورته وئې ويل: اي اکا !

---

[1] عَنْ أَبِي مُوسَى – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : كَمَلَ مِنَ الرِّجَالِ كَثِيرٌ وَلَمْ يَكْمُلْ مِنَ النِّسَاءِ إِلاَّ آسِيَةُ امْرَأَةُ فِرْعَوْنَ وَمَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ وَإِنَّ فَضْلَ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيدِ عَلَى سَائِرِ الطَّعَامِ.(البخاري)

[2] وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا لِلَّذِينَ آمَنُوا امْرَأَتَ فِرْعَوْنَ إِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِي عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِنْ فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهِ وَنَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ (١١التحريم)

لا اله الا الله وواېه څو د الله تعالی په حضور کي د قيامت په ورځ ستا لپاره پر شاهد سم ، خو هغه يې دعوت و نه مانه ، د شرک پر عقيده ومړ ( ) .

د رسول الله صلی الله عليه و سلم بل اکا ابولهب و ، هغه ته هم الله تعالی هدايت ور نه کړ ، د رسول الله صلی الله عليه و سلم سره يې سخته دښمني لرل ، د هغه په مذمت او د آخرت په بد انجام کي يې پوره سورت د سورة المسد په نامه نازل سوی دی .

بلال رضي الله عنه د حبشې تور پوستی مريی و ، د رسول الله صلی الله عليه و سلم سره يې خپلوي نه لرل خو داچي الله تعالی هدايت ورکړی وو ، د ايمان او تقوا خښتن وو ، د مسجد نبوي موذن وټاکل سو ، يو ورځ رسول الله صلی الله عليه و سلم ورته وويل : اې بلاله ! ته څه عمل کوې چي په خوب کي مي په جنت کي زما مخکي ستا د چپلکو ترپی واورېدی؟( ). ٢

---

١ عن سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ ، عَنْ أَبِيهِ ، أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ لَمَّا حَضَرَتْ أَبَا طَالِبٍ الْوَفَاةُ جَاءَهُ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَوَجَدَ عِنْدَهُ أَبَا جَهْلِ بْنَ هِشَامٍ وَعَبْدَ اللهِ بْنَ أَبِي أُمَيَّةَ بْنِ الْمُغِيرَةِ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : لأَبِي طَالِبٍ يَا عَمِّ قُلْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ كَلِمَةً أَشْهَدُ لَكَ بِهَا عِنْدَ اللهِ فَقَالَ أَبُو جَهْلٍ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي أُمَيَّةَ يَا أَبَا طَالِبٍ أَتَرْغَبُ عَنْ مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَلَمْ يَزَلْ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَعْرِضُهَا عَلَيْهِ وَيَعُودَانِ بِتِلْكَ الْمَقَالَةِ حَتَّى قَالَ أَبُو طَالِبٍ آخِرَ مَا كَلَّمَهُمْ هُوَ عَلَى مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ وَأَبَى أَنْ يَقُولَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ (البخاري)

٢ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ : لِبِلاَلٍ عِنْدَ صَلاَةِ الْفَجْرِ يَا بِلاَلُ حَدِّثْنِي بِأَرْجَى عَمَلٍ عَمِلْتَهُ فِي الإِسْلاَمِ فَإِنِّي سَمِعْتُ دَفَّ نَعْلَيْكَ بَيْنَ يَدَيَّ فِي الْجَنَّةِ قَالَ مَا

دا په وحيو د جنت زيری دی چي بلال رضي الله عنه ته ورکول سوی دی ، ځکه د انبياو عليهم السلام خوبونه وحي دي.

د مخکنيو مثالونو څخه معلومه سوه چي د ولايت معيار ايمان او تقوا ده ، ولايت موروثي ندی چي د بزرګ او ښه سړي اولادونه به هم ټول بزرګان وي.

**خارق العادة کارونه:**

ځيني کسان د هر کس خارق العادة کار کرامت ګڼي او کرامت بيا د هغه د ولايت دليل ګڼي ، خارق العادة کار هغه ته وايي چي د عادت خلاف را منځ ته سي. الهي عادت دا دی چي اوښ د اوښي څخه پيدا کوي ، که اوښه د بل شي څخه را پيدا کړي لکه د صالح عليه السلام اوښه چي يې د ډبري څخه پيدا کړه دغه ته خارق العادة کار وايي.

د هر کس خارق العادة کار کرامت نه دی ، خارق العاده کارونه چي د کومو اشخاصو پر لاسونو ښکاره کيږي د هغو اشخاصو په اعتبار پر څلورو ډولونو ويشل کيږي: معجزه ، کرامت ، معونت او استدراج.

معجزه: د نبي او رسول پر لاس چي خارق العادة کار ښکاره سي هغه ته معجزه وايي ، الله تعالى هر رسول د معجزو سره راليږلی دی ، څو امتونو ته يې رسالت په ثابت کړي ، معجزه د رسول په اختيار کي نه ده بلکي معجزې د الله تعالى په حکم د هغوی پر لاسونو ښکاره کېدلې.

---

عَمِلْتُ عَمَلاً أَرْجَى عِنْدِي أَنِّي لَمْ أَتَطَهَّرْ طُهُورًا فِي سَاعَةِ لَيْلٍ ، أَوْ نَهَارٍ إِلاَّ صَلَّيْتُ بِذَلِكَ الطُّهُورِ مَا كُتِبَ لِي أَنْ أُصَلِّيَ.(البخاري)

كرامت: كه د صالح انسان پر لاس خارق العادة كار ښكاره سي ، يعني داسي يو ځوك وي چي هغه د ښې عقيدې او تقوا څښتن وي هغه ته كرامت وايي ، كرامت د ولي په اختيار كي نه دى بلكي الله تعالى كله ناكله د ځينو صالحانو پر لاس خارق العادة كار ښكاره كوي .

معونة: خارق العادة كار كه د عادي مسلمان پر لاس ښكاره سي هغه ته معونت وايي.

استدراج: خارق العادة كار كه د فاسق او كافر پر لاس ښكاره سي هغه ته استدراج وايي ، د دجال د كفر او فساد په اړه ډيرو مسلمانانو ته معلومات سته، په صحيحو حديثو كي د دجال ډېر خارق العادة كارونه ذكر سوي دي، دجال به خلكو ته په يوه لاس كي باغونه او په بل لاس كي اورونه ښكاره كوي.

دجال مديني منورې ته نسي داخلېدلاى، د مديني منورې دباندي په ښرنه مځكه كي به واړوي، د خپل وخت يو متقي كس به د مديني منورې څخه ور ووځي، د دجال عسكر به يې ونيسي ، دجال ته به يې وروليږي، دجال به يې د خپلو نفرو مخكي پر منځ پرې كړي ، د بدن د دوو برخو تر منځ به يې تير سي بيا به يې بيرته راژوندى كړي( [1] ).

---

[1] عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِىِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « يَخْرُجُ الدَّجَّالُ فَيَتَوَجَّهُ قِبَلَهُ رَجُلٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فَتَلْقَاهُ الْمَسَالِحُ مَسَالِحُ الدَّجَّالِ فَيَقُولُونَ لَهُ أَيْنَ تَعْمِدُ فَيَقُولُ أَعْمِدُ إِلَى هَذَا الَّذِى خَرَجَ – قَالَ – فَيَقُولُونَ لَهُ أَوَمَا تُؤْمِنُ بِرَبِّنَا فَيَقُولُ مَا بِرَبِّنَا خَفَاءٌ. فَيَقُولُونَ اقْتُلُوهُ .

دغه خارق العادة كارونه دي ، خو پدغو كارونو دجال ته د الله ولي نه ويل كيږي؛ ځكه د فاسق او كافر خارق العادة كار كرامت نه دى، بلكې د فاسقانو او كافرانو پدغسي خارق العادة كارونو الله تعالى نور انسانان ازمويي ، بل داچې خپله همدغه كس هم د جهنم د عذابونو په لور په ورو- ورو ور تيله كوي.

لهذا د اولياؤ د پېژندني معيار خارق العادة كار نه دى بلكې د اولياؤ د پېژندني يوازنى معيار ايمان او تقوا ده ، هغه ايمان او تقوا چې په قران كريم او نبوي احاديثو كې تشريح سوې ده، د مثال په ډول ځيني كسان په مياشتو او كلونو د كور څخه نه راوځي، نه اختر او د جمعې لمانځه ته راوځي او نه هم مسجد ته د پنځو لمونځونو د جماعت اداء كولو د پاره راوځي ، ځيني ناخبره

---

فَيَقُولُ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ أَلَيْسَ قَدْ نَهَاكُمْ رَبُّكُمْ أَنْ تَقْتُلُوا أَحَدًا دُونَهُ – قَالَ – فَيَنْطَلِقُونَ بِهِ إِلَى الدَّجَّالِ فَإِذَا رَآهُ الْمُؤْمِنُ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ هَذَا الدَّجَّالُ الَّذِى ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ فَيَأْمُرُ الدَّجَّالُ بِهِ فَيُشَبَّحُ فَيَقُولُ خُذُوهُ وَشُجُّوهُ. فَيُوسَعُ ظَهْرُهُ وَبَطْنُهُ ضَرْبًا – قَالَ – فَيَقُولُ أَوَمَا تُؤْمِنُ بِى قَالَ فَيَقُولُ أَنْتَ الْمَسِيحُ الْكَذَّابُ – قَالَ – فَيُؤْمَرُ بِهِ فَيُؤْشَرُ بِالْمِئْشَارِ مِنْ مَفْرِقِهِ حَتَّى يُفَرَّقَ بَيْنَ رِجْلَيْهِ – قَالَ – ثُمَّ يَمْشِى الدَّجَّالُ بَيْنَ الْقِطْعَتَيْنِ ثُمَّ يَقُولُ لَهُ قُمْ. فَيَسْتَوِى قَائِمًا – قَالَ – ثُمَّ يَقُولُ لَهُ أَتُؤْمِنُ بِى فَيَقُولُ مَا ازْدَدْتُ فِيكَ إِلاَّ بَصِيرَةً – قَالَ – ثُمَّ يَقُولُ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ لاَ يَفْعَلُ بَعْدِى بِأَحَدٍ مِنَ النَّاسِ – قَالَ – فَيَأْخُذُهُ الدَّجَّالُ لِيَذْبَحَهُ فَيُجْعَلَ مَا بَيْنَ رَقَبَتِهِ إِلَى تَرْقُوَتِهِ نُحَاسًا فَلاَ يَسْتَطِيعُ إِلَيْهِ سَبِيلاً – قَالَ – فَيَأْخُذُ بِيَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ فَيَقْذِفُ بِهِ فَيَحْسِبُ النَّاسُ أَنَّمَا قَذَفَهُ إِلَى النَّارِ وَإِنَّمَا أُلْقِىَ فِى الْجَنَّةِ ». فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « هَذَا أَعْظَمُ النَّاسِ شَهَادَةً عِنْدَ رَبِّ الْعَالَمِينَ »(مسلم)

کسان دغه کار تقوا بولي ، کوم کس چي ښونه زيات وخت په کور کي دننه پاتيږي د جماعت او جمعي لمونځونه پريږدي په هغه اندازه پر هغه د متقي او ولي گمان کوي.

پداسي حال کي چي پنځه لمونځونه په جماعت اداء کول موکد سنت دي بلکي د راجح قول په اساس واجب عمل دی؛ خو منافقانو ته د ماخستن او د سهار لمونځ په جماعت اداء کول ډېر گران وي.

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وايي : په نبوي عصر کي به د جماعت لمانځه ته يا هغه منافق نه حاضريدی، چي منافقت به يې مشهور او ښکاره وو، يا به مخلص مومن د سختي ناروغی لکبله نه حاضريدی؛ خو داسي مريض به لا هم وو چي پر دوو نفرو به يې لاسونه تکيه کړي وه او د جماعت لمانځه ته به حاضريدی([1]).

مخکي مو وويل چي د الله وليان هغه کسان دي، چي د ايمان او تقوا ښښتنان وي ، د تقوا ظاهري اعمال تر يو حده ښارل کېدلای سي؛ خو د يو کس د تقوا باطني صفات او په پټه کېدونکي عملونه بل چا ته نه معلوميږي .

---

[1] عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ حَافِظُوا عَلَى هَؤُلاَءِ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ حَيْثُ يُنَادَى بِهِنَّ فَإِنَّهُنَّ مِنْ سُنَنِ الْهُدَى وَإِنَّ اللَّهَ شَرَعَ لِنَبِيِّهِ –صلى الله عليه وسلم– سُنَنَ الْهُدَى وَلَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنْهَا إِلاَّ مُنَافِقٌ بَيِّنُ النِّفَاقِ وَلَقَدْ رَأَيْتُنَا وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيُهَادَى بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ حَتَّى يُقَامَ فِى الصَّفِّ وَمَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلاَّ وَلَهُ مَسْجِدٌ فِى بَيْتِهِ وَلَوْ صَلَّيْتُمْ فِى بُيُوتِكُمْ وَتَرَكْتُمْ مَسَاجِدَكُمْ تَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ –صلى الله عليه وسلم– وَلَوْ تَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ –صلى الله عليه وسلم– لَكَفَرْتُمْ. (ابو داود)

ځکه يو کس د بل کس د زړه په عقيده او د زړه په صفاتوعلم نه لري بلکي د شهادت د کلمې په ويلو هغه مومن ګڼي د زړه په حقيقي حال يې الله علم لري ، البته د وليانو د پيژندني يو شمېر نښې سته چي په هغو ولي پيژندل کېدلای سي د هغو څخه يې يوه نښه دا ده چي په ليدو يې چا ته الله تعالى ورياديږي ( [1]).

[1] عَن ابنِ عباس ، رَضِي الله عنهما ، قال : قال رجل : يا رسول الله صلى الله عليه وسلم من أولياء الله ؟ قال : الذين إذا رؤوا ذكر الله.(مسند البزار)

# اووم فصل

## د داعي په وړاندي ننګوني

د رسول الله صلى الله عليه و سلم ستره او مقصودي دنده دعوت وو [1] همدا وجه ده چي شيطان د اذان اوربدل نسي زغملاى د اذان په مهال په ځغاسته سي ، د کنبې لخوا ږغيز بادونه څني وځي ، دونه ليري ځاى ځي چي اذان وا نه وري ، ځکه اذان بشپړ دعوت دى . [2]

په دعوت د اسلام مقدس دين د مځکي پر مخ خپور سوى دى او د قيامت تر ورځي به بقا په پيدا کوي ، په جهاد هم د اسلام اشاعت راغلى او بقا يې تضمينوي، ځکه نو د دين د اشاعت او ساتني لپاره جهاد او دعوت ډير مهم دى .

خو که جهاد او دعوت په خپل منځ کي پرتله او موازنه کړو، نو په عادي حالاتو کي د لاندي وجوهاتو لکبله دعوت پر جهاد اهم بلل کيږي:

---

[1] قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَى بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ (١٠٨يوسف)

[2] قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : إِذَا أُذِّنَ بِالصَّلاَةِ أَدْبَرَ الشَّيْطَانُ لَهُ ضُرَاطٌ حَتَّى لاَ يَسْمَعَ التَّأْذِينَ فَإِذَا سَكَتَ الْمُؤَذِّنُ أَقْبَلَ فَإِذَا ثُوِّبَ أَدْبَرَ فَإِذَا سَكَتَ أَقْبَلَ فَلاَ يَزَالُ بِالْمَرْءِ يَقُولُ لَهُ اذْكُرْ مَا لَمْ يَكُنْ يَذْكُرُ حَتَّى لاَ يَدْرِي كَمْ صَلَّى.(البخاري)

اول : د دعوت ساحه ډېره پراخه ده؛ ځكه دعوت يوازې كافرانو ته نه وركول كيږي بلكې د خپلې كورنۍ د افرادو څخه نيولې تولو انسانانو يعنې مؤمنانو او كافرانو ته دعوت وركول .

مؤمنان صالحو اعمالو، ښو اخلاقو او ښو صفاتو ته دعوتيږي، كافرانو ته لومړۍ د ايمان بيا د لمانځه ، زكات او نورو احكامو دعوت وركول كيږي .

جهاد د حربي كافرانو او په مځكه كې د فساد خپروونكو سره كيږي. اهل الذمه( ) ، مستامنين( ) او معاهدين[2] ( ) كه څه هم كافران[3] دي؛ خو تر څو[4] چې خپلو تعهداتو ته ژمن وي جهاد نه ورسره كيږي، همدا راز د فساد

---

[1] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم بَعَثَ مُعَاذًا ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، إِلَى الْيَمَنِ فَقَالَ ادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدِ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً فِي أَمْوَالِهِمْ تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ وَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ.(البخاري)

٢ : أَهْل الذِّمَّةِ هُمُ الْكُفَّارُ الَّذِينَ أُقِرُّوا فِي دَارِ الإِْسْلاَمِ عَلَى كُفْرِهِمْ بِالْتِزَامِ الْجِزْيَةِ وَنُفُوذِ أَحْكَامِ الإِْسْلاَمِ فِيهِمْ (الموسوعة الفقهية الكويتية)

٣ : الْمُسْتَأْمَنُ فِي الأَْصْل : الطَّالِبُ لِلأَْمَانِ ، وَهُوَ الْكَافِرُ يَدْخُل دَارَ الإِْسْلاَمِ بِأَمَانٍ ، أَوِ الْمُسْلِمُ إِذَا دَخَل دَارَ الْكُفَّارِ بِأَمَانٍ (الموسوعة الفقهية الكويتية)

٤ : أَهْل الْعَهْدِ : هُمُ الَّذِينَ صَالَحَهُمْ إِمَامُ الْمُسْلِمِينَ عَلَى إِنْهَاءِ الْحَرْبِ مُدَّةً مَعْلُومَةً لِمَصْلَحَةٍ يَرَاهَا ، وَالْمُعَاهَدُ : مِنَ الْعَهْدِ : وَهُوَ الصُّلْحُ الْمُؤَقَّتُ ، وَيُسَمَّى الْهُدْنَةَ وَالْمُهَادَنَةَ وَالْمُعَاهَدَةَ وَالْمُسَالَمَةَ وَالْمُوَادَعَةَ (الموسوعة الفقهية الكويتية)

خپروونکو نظامي ډلو يعني د المفسدون في الارض د فساد ټغر هم په جهاد ټوليږي.

دوهم : د منطقې په اعتبار هم دعوت عموميت لري ، ځکه دعوت بايد په هره منطقه کي دوام ولري ، لله الحمد په اروپايي او غربي هيوادونو کي او د نړۍ په ډيرو نورو هيوادونو کي په علني ډول د دعوت چاري مخته ځي ، ډېر کافران د همدا دعوت په برکت مسلمانان کيږي ، خو جهاد کله په يوه سيمه کي کله په بله سيمه کي کيږي.

دريم : په دعوت مسلمانان د کافرانو پر زړونو او فکرونو تسلط پيدا کوي يعني د دعوت څخه زړونه او فکرونه متاثره کيږي، د يو کس زړه چي اسلامي عقيده ومني او فکر يې اسلامي جوړ سي دا کس د مرگ په تهديد لا هم څوک د اسلام څخه نسي منحرف کولای، په جهاد مسلمانان پر کافرانو نظامي تسلط او غلبه پيدا کولای سي ، خو نظامي تسلط او غلبه د نظامي سقوط سره سم زوال پيدا کوي.

لکه څه ډول چي کافران د مؤمنانو د جهادي قوت په مقابل کي د اسلحو او نظامي تکتيکونو څخه کار اخلي دغه ډول د دعوت په مقابل کي هم چپه خوله نه پاتيږي بلکي د داعيانو په وړاندي مشکلات ايجادوي څو د دعوت مخه يې ونيسي.

دلته موږ د اهل الباطل د مقابلي يو شمېر هغه اوزار ذکر کوو کوم چي د خپلو باطلو عقايدو او فاسدو اعمالو او بدعتونو څخه دفاع په کوي او د اهل الحق د دعوت مخ په نيسي:

**اول – تهمت:**

اهل الباطل چي د تهمت په غشي د دعوت مقابله کوي ، مقصد او هدف يې پر داعي د خلکو بي اعتماده کول دي يا د دعوت پر موضوع د خلکو بې اعتمادي را پيدا کول دي ، کوم کسان چي د اهل الباطل په تهمتونو وغوليږي هغوی د داعي خبرو ته غوږ نه نيسي او نه هم هغه پيغام ځني مني، کوم چي داعي خلک ورته رابولي.

نبيان او رسولان عليهم السلام څونه رښتيني او سپېڅلي انسانان دي؛ خو بيا هم پر هر يوه د کافرانو لخوا تورونه او تهمتونه لګول سوي دي. محمد صلى الله عليه وسلم ته کافرانو ليونی( )، کاهن او شاعر وايه [١] پداسي حال کي چي تر محمد صلى الله عليه و سلم عقلمند انسان نه وو ، او د مکې مشرکانو ته د لمر په شان روښانه وه چي محمد عليه الصلاة و السلام کاهن او شاعر نه دی.

د ليوني، کاهن او شاعر تور يي ځکه پر لګاوه چي د رسالت د لوړ مقام څخه يي حيثيت را ټيټ کړي ، خلک د کاهن او شاعر په سترګه ورته وګوري ، قران کريم يې د اشعارو مجموعه وګڼي ، د مستقبل د کارونو رښتيني وړاند ويني يې د معجزې پر ځای د کاهنانو د تکاهن په شان سل درواغ يوه رښتيا او شيطاني الهام وبولي(والعياذ بالله).

[١] وَإِنْ يَكَادُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ وَيَقُولُونَ إِنَّهُ لَمَجْنُونٌ (٥١) وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِلْعَالَمِينَ (٥٢القلم)

دغه ډول کافرانو په تهمت سره د دعوت پر موضوع هم خلک بې اعتماده کول، په قران کريم کې د عاديانو ، ثموديانو او نورو امتونو د عبرت څخه ډکې رښتيني قيصې يې د پخوانيو خلکو خيالي قيصې او ناولونه بلل . ١

په اسلامي ټولنه کې بدعتيان هم د اهل الحق په وړاندې له تهمت څخه کار اخلي ، په لاندې کرښو کې د بدعتيانو د تهمت يوه بېلګه ذکر کوو:

بدعتيان لکه بريلويان د زيارت تر مسنوني او شرعي طريقې تيرى کوي. د زيارت په مهال ډېر خرافات کوي ، پر اهل الحق لازمه ده چې د دوى د خرافاتو رد وکړي ، مسلمانانو ته د زيارت مشروع او مسنون طريقه بيان کړي.

اهل الحق چې عوامو ته وايي ، اې مسلمانانو ! پر زيارت طواف مه کوى ، معلومه خبره ده چې بدعتيان دغه د حق اواز نسي زغملاى نو په تهمت د حق مخه نيسي خلکو ته وايي : دا کس زيارت نه مني ، دا وهابي دى.

نن زمانه کې خو په ثبت سوو خبرو کې ايډيټ هم کېدلاى سي ، کله بيا همدا بدعتيان او د هغوى پلويان د اهل الحق په خبرو کې ايډيټ ( لاس وهنه ) کوي څو په تهمت او تزوير اهل الحق بدنامه کړي.

افراطي بريلويان د ديوبند علماء کرام وهابيان بولي، د وهابيت يوه وجه يې دا بيانوي چې دوى زيارت نه مني دا بلکل پر ديوبندي علماء کرامو تهمت دى بلکې حقيقت دا دى چې ديوبندي علماء کرام د بريلويانو خرافات او بدعتونه

---

١ لَقَدْ وُعِدْنَا هَذَا نَحْنُ وَآبَاؤُنَا مِنْ قَبْلُ إِنْ هَذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ (٦٨ النمل)

نه مني ، بريلويان د خپلو خرافاتو لپاره نه د حنفي مذهب د معتمدو كتابونو حواله وركولای سي او نه يې هم په كوم بل دليل ثابتولای سي ځكه نو د تهمت څخه كار اخلي .

د ځينو بدعتيانو عقايد كه څوک ولولي نو ورته ثابته به سي چي دوی زيارت په مطلق ډول جايز بولي ، د دې دا معنی ده كوم كسان چي پر قبرو طوافونه كوي ، سجدې ورته كوي ، ننگوي يې ، كومک ځني غواړي ، ډبري يې پر ځانونو موږي او داسي نور خرافات كوي دا ټول د هغوی د عقيدې له مخي جايز گرځي ، ځكه د زيارت سره هيڅ قيد او شرط نه ذكر كوي او نه هم پر زيارت كېدونكي خرافات ردوي.

زموږ احناف كه څه هم په قراني ايتونو او نبوي احاديثو كي په مفهوم مخالف قايل ندي خو د فقهاو په عبارتونو او د عوامو په ويناو كي مخالف مفهوم معتبر بولي.

**زيارة القبور:**

د زيارت په اړه پوره تفصيل په لاندي ډول دی:

د اسلام په پيل كي زيارت منع وو؛ خو وروسته رسول الله د زيارت كولو اجازه وكړه، حتی د آخرت د ياد او عبرت اخيستلو په غرض زيارت كول مستحب عمل وگرځېدی( [١] ).

---

١ عَنِ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ فَزُورُوهَا فَإِنَّ فِى زِيَارَتِهَا تَذْكِرَةً ».(ابوداود)

د زيارت د جواز او استحباب په اړه ډېر حديثونه رانقل سوي دي، رسول اکرم صلى الله عليه و سلم کله ناکله د جنة البقيع او د احد د شهيدانو زيارت هم کاوه( ) او د زيارت طريقه هم[1] د نورو کارونو په شان د رسول الله څخه رانقل سوې ده.

د زيارت مشروع طريقه دا ده:

لومړی: مړي ته سلام ويل کيږي، رسول الله د هديري سره تيرېدی مخ يې ور واړوه وئې ويل: **السلام عليكم يا أهل القبور! يغفر الله لنا ولكم أنتم سلفنا ونحن بالأثر**( )[2].

السلام عليكم! اې د قبرو څښتنانو! الله دي موږ او تاسو وبخښي، تاسو زموږ څخه مخکي تللي ياست او موږ در پسې يو.

دوهم: د ځان او مړي لپاره د الله څخه مغفرت غوښتل لکه څه ډول چي پدغه او نورو احاديثو کي رانقل سوي دي( ). د ام المؤمنين حضرت[1] عايشې رضي

---

[1] عن عائشة : لما كانت ليلتي التي هو عندي تعني النبي صلى الله عليه و سلم ....حتى جاء البقيع فرفع يديه ثلاث مرات فأطال ثم انحرف ..... قال رسول الله : فأمرني أن آتى البقيع فأستغفر لهم قلت كيف أقول يا رسول الله قال قولي السلام على أهل الديار من المؤمنين والمسلمين يرحم الله المستقدمين منا والمستأخرين وإنا إن شاء الله بكم لاحقون. (مسلم).

[2] عن ابن عباس قال : مر رسول الله صلى الله عليه و سلم بقبور المدينة فأقبل عليهم بوجهه فقال السلام عليكم يا أهل القبور ! يغفر الله لنا ولكم أنتم سلفنا ونحن بالأثر. (( الترمذي)).

الله عنها د جنة البقيع په روايت کي راغلي دي، چي رسول الله درې ځله د دعا لپاره لاسونه پورته کړل( [٢]).

دريم: د مړي د حال ښخه عبرت اخيستل لکه څه ډول چي پدې حديث کي اشاره ورته سوې ده و نحن بالاثر موږ هم درپسې يو، که موږ د مړي حالت ته متوجه سو هغه هم يو وخت زموږ په شان ژوندی وو، په دنيا کي د مال او دولت، د ښځي او اولادونو، د باغ او بنگلې، د تجارت او منصب ښبتن وو د هغو په محبت، لاس ته راوړنه او ساتنه کي ئې ډېر محنتونه گالل؛ خو اوس هغه ټول ځني پاته دي د قبر په لحد کي تنها دی او د خپل عمل سره پاته

---

[١] عن عائشة قالت: كان رسول الله صلى الله عليه و سلم كلما كانت ليلتها من رسول الله صلى الله عليه و سلم يخرج في آخر الليل إلى البقيع فيقول السلام عليكم دار قوم مؤمنين وإنا وإياكم متواعدون غدا أو مواكلون وإنا إن شاء الله بكم لاحقون اللهم اغفر لأهل بقيع الغرقد. النسائي.

[٢] قَالَ قَالَتْ عَائِشَةُ: أَلاَ أُحَدِّثُكُمْ عَنِّى وَعَنْ رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم–؟
قُلْنَا بَلَى. قَالَ قَالَتْ لَمَّا كَانَتْ لَيْلَتِىَ الَّتِى كَانَ النَّبِىُّ –صلى الله عليه وسلم– فِيهَا عِنْدِى انْقَلَبَ فَوَضَعَ رِدَاءَهُ وَخَلَعَ نَعْلَيْهِ فَوَضَعَهُمَا عِنْدَ رِجْلَيْهِ وَبَسَطَ طَرَفَ إِزَارِهِ عَلَى فِرَاشِهِ فَاضْطَجَعَ فَلَمْ يَلْبَثْ إِلاَّ رَيْثَمَا ظَنَّ أَنْ قَدْ رَقَدْتُ فَأَخَذَ رِدَاءَهُ رُوَيْدًا وَانْتَعَلَ رُوَيْدًا وَفَتَحَ الْبَابَ فَخَرَجَ ثُمَّ أَجَافَهُ رُوَيْدًا فَجَعَلْتُ دِرْعِى فِى رَأْسِى وَاخْتَمَرْتُ وَتَقَنَّعْتُ إِزَارِى ثُمَّ انْطَلَقْتُ عَلَى إِثْرِهِ حَتَّى جَاءَ الْبَقِيعَ فَقَامَ فَأَطَالَ الْقِيَامَ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ انْحَرَفَ فَانْحَرَفْتُ فَأَسْرَعَ فَأَسْرَعْتُ فَهَرْوَلَ فَهَرْوَلْتُ فَأَحْضَرَ فَأَحْضَرْتُ فَسَبَقْتُهُ فَدَخَلْتُ فَلَيْسَ إِلاَّ أَنِ اضْطَجَعْتُ فَدَخَلَ فَقَالَ « مَا لَكِ يَا عَائِشُ حَشْيَا رَابِيَةً».(مسلم)

دی، دا يو لوی عبرت دی مسلمان د آخرت خوا ته متوجه کوي په دنيا کي زهد او بي رغبتي ورته پيدا کوي؛ ځکه د مرگي ياد د دنيا لذتونه قطع کوي.

همدا ډول درېيم شيان: سلام، د ځان او مړي لپاره دعا او د مړي د حال څخه عبرت اخيستل د زيارت مقصودي او اتفاقي ټکي دي.

قبر ته د تعظيم او عبادت سجده کول بالاتفاق شرک دی، پر قبر طواف او د مړو څخه مدد غوښتل بالاتفاق حرام او ډېري يې پر ځان موښل ناجايزه کارونه دي، البته شوافع او ځيني نور مجتهدين د قران کريم تلاوت د ايصال ثواب( ) لپاره صحيح نه گڼي؛ خو موږ حنفي مذهبه او يو شمېر نور فقهاء يې جايز گڼو ( ) ٢

---

[1] : ايصال ثواب: د ښو عملونو ثواب بل چاته بخښل.

[2] زيارة القبور مندوبة للاتعاظ وتذكر الآخرة وتتأكد يوم الجمعة ويوما قبلها ويوما بعدها عند الحنفية والمالكية وخالف الحنابلة والشافعية فانظر مذهبيهما تحت الخط ( الحنابلة قالوا : لا تتأكد الزيارة في يوم دون يوم الشافعية قالوا : تتأكد من عصر يوم الخميس إلى طلوع شمس يوم السبت . وهذا قول راجح عند المالكية )

وينبغي للزائر الاشتغال بالدعاء والتضرع والاعتبار بالموتى وقراءة القرآن للميت فإن ذلك ينفع الميت على الأصح.... أما زيارة قبر النبي صلى الله عليه و سلم فهي من أعظم القرب وكما تندب زيارة القبور للرجال تندب أيضا للنساء العجائز اللاتي لا يخشى منهن الفتنة إن لم تؤد زيارتهن إلى ندب أو النياحة وإلا كانت محرمة . أما النساء التي يخشى منهن الفتنة ويترتب على خروجهن لزيارة القبور مفاسد كما هو الغالب على نساء هذا الزمان فخروجهن للزيارة حرام باتفاق الحنفية والمالكية أما الحنابلة والشافعية فانظر مذهبهم تحت الخط ( الحنابلة والشافعية قالوا

تول اهل السنة و الجماعة په مشروع ډول زيارت كول جايز او مستحب ګڼي؛ ځكه پدې اړه د رسول الله څخه ډېر قولي اوعملي روايات رانقل سوي دي څوک يې انكار نسي كولاى ( [1] ).

كه صحيح څير سو د زيارت پر سر را منځ ته سوي كشمكشونه، په حقيقت كي د وهابيانو د تشدد او د افراطي بريلويانو او ناخبره عوامو د إفراط او تفريط نتيجه او متضاد غبرګونونه دي.

افراطي بريلويان قبر ته سجده، پر قبر د كعبې شريفي په شان طواف كول، د مړي څخه مدد غوښتل، ډېري يې پر ځان مونښل او دې ورته نور خرافات جايز ګڼي، حتى د حنفي مذهب او اهل السنة و الجماعة شعاير ئې ګڼي،

---

: يكره خروج النساء لزيارة القبور مطلقا سواء كن عجائز أو شواب إلا إذا علم أن خروجهن يؤدي إلى فتنة أو وقوع محرم . وإلا كانت الزيارة محرمة ) وينبغي أن تكون الزيارة مطابقة لأحكام الشريعة فلا يطوف حول القبر ولا يقبل حجرا ولا عتبة ولا خشبا ولا يطلب من المزور شيئا إلى غير ذلك. (الفقه علي المذاهب الاربعة)

[1] ( وهذه الأحاديث ) فيها مشروعية زيارة القبور وقد حكى الحازمي ( ١ ) والعبدري والنووي اتفاق أهل العلم على أن زيارة القبور للرجال جائزة . قال الحافظ كذا أطلقوه وفيه نظر لأن ابن أبي شيبة وغيره رووا عن ابن سيرين وابراهيم النخعي والشعبي أنهم كرهوا ذلك مطلقا حتى قال الشعبي لولا نهى النبي صلى الله عليه وآله وسلم لزرت قبر ابنتي فلعل من أطلق أراد بالاتفاق ما استقر عليه الأمر بعد هؤلاء وكأن هؤلاء لم يبلغهم الناسخ والله أعلم . وذهب ابن حزم إلى أن زيارة القبور واجبة ولو مرة واحدة في العمر لورود الأمر به وهذا يتنزل على الخلاف في الأمر بعد النهي هل يفيد الوجوب أو مجرد الإباحة فقط. (نيل الاوطار من احاديث سيد المختار للشوكاني)

ځوک چي د دوی دغه خرافات نه مني، پر هغو اعتراض کوي او وهابیان ئې بولي ، د همدې مدعا لپاره د هغوی کړني او د زیارت عملي طریقه ربنتني شواهد دي.

له بله اړخه وهابیان دونه تشدد کوي، چي مړي ته مخامخ د دعا لپاره لاسونه پورته کول لا هم ناروا کار ګڼي، حتی د رسول اکرم صلی الله علیه و سلم په روضه مبارکه کي هم خلک د دغسي دعاء څخه منع کوي.

**دوهم – خلک د دعوت د اورېدلو څخه منع کول:**

اهل الباطل د دې لپاره چي درواغ يې رسوا نه سي، نو خلک د داعي د خبرو له اورېدلو څخه منع کوي، پر دعوت کوونکو او داعیانو باندي ډول ډول تهمتونه وايي، خو پدې هم پوهيږي چي د درواغو منزل لنډ دی؛ ځکه که يو کس داعي ته ورسي د هغه خبري واوري ، نو د داعي ربنتینتوب او د تهمت ویونکی درواغ ورته ثابتيږي.

بل داچي داعیان په قانع کوونکو نقلي او عقلي دلایلو او ډېر موثر انداز حق بیانوي، چي د حق د اورېدلو څخه ئې انسانان اغیزمن کيږي.

نو اهل الباطل چي د داعیانو د دعوت مخه په تهمت نیسي، د رسوایي څخه د ځان ساتني لپاره د تهمت تر څنګ د خپلو پیروانو د غوږو شپېلۍ هم وربندوي ، هغوی د داعي د خبرو د اورېدلو څخه منع کوي څو د حق څخه متاثره نسي او د دوی درواغ رسوا نه سي.

همدا وجه وه چي د مکې مشرکانو خپلو پيروانو ته ويل: تاسو دا قران ته غوږ مه نيسئ، د قران د تلاوت په مهال بې هوده ږغيږئ ښايي تاسو غالبه سئ( ).

**دريم – پارول:**

اهل الباطل يو اړخ ته په ډېره مکاري ځان د خلکو خواخوږی ښکاره کوي، تر څو د خلکو همکاري تر لاسه کړي ، بل اړخ ته د داعي په مقابل کي په ډېر شيطانت خلک راپاروي، حتی داعي د هغوی د دين او عزت لپاره خطر بولي ، تر څو خلک له داعي څخه کرکه او نفرت و کړي.

فرعون د موسی عليه السلام په مقابل کي خلک راپارول ، خپلو خلکو ته يې ويل : زه مو سمي لاري ته رابولم ، خو که موسی عليه السلام ژوندی پاته سي تاسو به د خپل دين څخه واړوي ، په مصر کي به فساد خپور کړي ، تاسو به د هيواد څخه وتلو ته اړ باسي( ٢ ) .

**څلورم –تهديد:**

اهل الباطل د حق په رد کي هيڅ وخت هم قانع کوونکي دلايل نسي وړاندي کولای، ځکه نو داعي په تهديد او گواښ ډاروي، څو د دعوت څخه لاس واخلي، ابراهيم عليه السلام چي خپل پلار ته دعوت ورکاوه ، پلار يې د خپل باطل دين لپاره دليل نسوای وړاندي کولای؛ ځکه نو ابراهيم عليه السلام ته

---

[1] وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَسْمَعُوا لِهَذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ (فصلت–٢٦)

[2] وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُونِي أَقْتُلْ مُوسَى وَلْيَدْعُ رَبَّهُ إِنِّي أَخَافُ أَنْ يُبَدِّلَ دِينَكُمْ أَوْ أَنْ يُظْهِرَ فِي الْأَرْضِ الْفَسَادَ (غافر–٢٦)

يې ګواښ او تهديد ورکړ ، ورته وئې ويل: قسم که ته د دعوت څخه لاس وا نه خلې زه به دې هرو مرو سپک کړم ، يعني د بې عزته کولو ګواښ يې ورکړ يا يې د وژلو ګواښ ورکړ چې په ډېرو به دې ووژم( [1] ).

**پنځم – مناظره اخلالول:**

اهل الباطل که څه هم د مناظرې لافې او باتې وهي، خو د رښتيا ميدان ته نه حاضرېږي ، ځکه باطل باطل دی، د حقانيت لپاره يې دليل شتون نه لري، بلکې دلايل يې شيطاني تلبيسات او فريبونه دي، څو ساده کسان په وغولوي. خو کله چې مناظرې ته راکش کړل سي د مناظرې د تاکلې موضوع څخه وځي څو مناظره اخلال کړي ، د مناظرې د ادابو خلاف غالمغال او ښکنځل خپله بريا ګڼي .

موسى عليه السلام د فرعون سره د الله تعالى پر وحدانيت مناظره کول، فرعون پوښتنه وکړه: اې موسې ! نو ستاسو رب څوک دی ؟ موسى عليه السلام ورته وويل : زموږ رب هغه ذات دی چې هر شی ته يې د هغه وړ پيداينښت ورکړی دی ، بيا يې په الهامي ډول د هغه لارښوونه کړې ده( ).

---

[1] قَالَ أَرَاغِبٌ أَنْتَ عَنْ آلِهَتِي يَا إِبْرَاهِيمُ لَئِنْ لَمْ تَنْتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِي مَلِيًّا (مريم–٤٦)

٢ : څونه ښکلی او قانع کوونکی دليل دی! انسانان که حيوانانو ته متوجه سي، الله تعالى هر حيوان ته د هغه د حال سره سم مناسب شکل او اعضاء ورکړي دي او بله دا چې حيوانان زده کړه نه کوي، فقط چې پيدا سو د ژوند ټولې چارې ورته معلومېږي، پدې پوهېږي چې کوم شی ورته ګټمن او کوم شی ورته تاواني دی، دوست او

فرعون چي د موسی علیه السلام دلایل واورېدل ، پر خپلو پیروانو وبیریدی، چي هغوی د الله تعالی په وحدانیت قانع نه سي، نو سمدستي يې د مناظرې د ګډوډولو او د موسی علیه السلام په مقابل کي د خلکو د راپارولو هڅه وکړه او د موضوع څخه ووتی. موسی علیه السلام ته يې وويل : د مخکنيو امتونو څه حال دی ؟ یعني زموږ پلرونه او نیکه ګان چي مخکي پر کفر او شرک وفات سوي دي هغوی د جنت مستحق دي که د جهنم؟.

که موسی علیه السلام د ده د غرض موافق جواب ورکړی وای او ورته ویلي ئې وای ، چي هغوی ټول بدبخته جهنمیان دي ، په اوروںو کي سوځي، نو خلک د موسی علیه السلام په مقابل کي راپارېدل؛ خو موسی علیه السلام يې دسیسه شنډه کړه او ورته وئې ویل: د هغوی علم د الله تعالی سره لیکلی دی زما رب نه تیروځي او نه يې هم څه هیریږي.

موسی علیه السلام داسي جواب ورکړ چي فرعون ئې په مقابل کي خلک ونه پارولای سولای، موسی علیه السلام بیرته خپلي موضوع ته ولاړی او د الله تعالی پر الوهیت او وحدانیت يې نور دلایل ورته وويل: زموږ رب هغه ذات دی چي مځکه يې ستاسو لپاره د سکونت وړ ځای ګرځولې ده ، په مځکه کي

---

دښمن پیژني. بیله زده کړي څخه د اولادونو تربیت کولای سي، د اوسېدو لپاره يې مناسب ځای انتخابوي ، وړوکي مرغان ځانونو ته ښکلي ځالي جوړوي ، پداسي حال کي چي تعمیراتي انجینیري يې نه ده ويلي.

يې لاري درته پيدا کړي دي، د اسمان څخه اوبه درته را اوروي، بيا په همدغه
اوبو ډول - ډول نباتات د مځکې څخه درته را شنه کوو( ). ١

**شپږم – منل سووو اشخاصو ته ځان منسوبول:**

اهل الباطل ډېر ځله دين ته معتقد کسان په خرافاتو او بدعتونو د حق څخه راګرځوي، يعني د دين په نامه بېديني ورته وړاندي کوي او ځانونه منل سوو اشخاصو ته منسوبوي.

ابراهيم عليه السلام په ټولو اديانو کي منل سوی شخصيت دی، لکه څه ډول چي يهودو او نصرانيانو دا دعوه کوله چي موږ د ابراهيم عليه السلام پر لاره روان يو دغه ډول د مکې مشرکانو هم ځانونه د هغه پر دين بلل.

هيڅا ته هم په يقيني ډول د خپلو معاملاتو او نورو کارونو ګټه او تاوان نه معلوميږي، نو کله - کله په معامله او کاروبار کي ځيني خلک د تاوان او پښيمانۍ سره مخ کيږي، د نبوي إرشاد له مخي که څوک په يو کار کي استخاره وکړي هغه به نامراده نسي او که مشوره پکښي وکړي پښيمانه به

---

١ قَالَ فَمَنْ رَبُّكُمَا يَا مُوسَى (٤٩) قَالَ رَبُّنَا الَّذِي أَعْطَى كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُ ثُمَّ هَدَى (٥٠) قَالَ فَمَا بَالُ الْقُرُونِ الْأُولَى (٥١) قَالَ عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّي فِي كِتَابٍ لَا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنْسَى (٥٢) الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ مَهْدًا وَسَلَكَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِنْ نَبَاتٍ شَتَّى (مريم–٥٣)

نسي( [1] )؛ له همدې امله هر مسلمان ته په كار ده، چې معامله يا بل كار كوي د هغه لپاره استخاره وكړي( [2] ).

د مكې مشركانو د خپلو ځانونو څخه د استقسام( [3] ) باطله طريقه جوړه كړې وه ، يو كس چې به نكاح ، سفر يا بله معامله كوله، د دې لپاره چې د دې معاملې خير او شر ځان ته معلوم كړي، نو د كعبې شريفې متوليانو ته به ورغی، هغوی به درې غشي كڅوړنې ته اچولي وه ، پر يوه به ليكلي وه: - وكړه - پر بل به ليكلي وه: - مه ئې كوه - بل به ساده وو، متولي به دا غشي په

---

[1] : عن أنس بن مالك قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم ما خاب من استخار ولا ندم من استشار ولا عال من اقتصد (المعجم الاوسط).

[2] : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا ، قَالَ : كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يُعَلِّمُنَا الاِسْتِخَارَةَ فِي الأُمُورِ كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ يَقُولُ إِذَا هَمَّ أَحَدُكُمْ بِالأَمْرِ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ مِنْ غَيْرِ الْفَرِيضَةِ ثُمَّ لِيَقُلِ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيمِ فَإِنَّكَ تَقْدِرُ ، وَلاَ أَقْدِرُ وَتَعْلَمُ ، وَلاَ أَعْلَمُ وَأَنْتَ عَلاَّمُ الْغُيُوبِ اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي ، أَوْ قَالَ عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ – فَاقْدُرْهُ لِي وَيَسِّرْهُ لِي ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي ، أَوْ قَالَ فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ – فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ وَاقْدُرْ لِي الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ أَرْضِنِي قَالَ: وَيُسَمِّي حَاجَتَهُ.( البخارى)

[3] : دغه كار ته استقسام بالازلام وايي، يعني په غشو خپل بخت او قسمت معلومول دي، دا بلكل باطله طريقه ده؛ ځكه غشی د چا قسمت نسي ټاكلای او نه هم په استقسام او د پال په نورو باطلو طريقو د انسان د مستقبل قسمت معلومېدلای سي.

کڅوړه کي سره واړول بيا به يې يو ځني راوکښى، که به هغه غشى راووتى چي - مه ئې کوه - به پر ليکلى وو، نو دا کس بيا دا معامله نه کوله ځکه وايي غشي ځني منع کړې پدې کار کي مي تاوان دى ، که به هغه غشى راووتى چي پر هغه ليکلي وه – وکړه - نو بيا يې هغه کار کاوه ځکه ويل يې غشي په امر کړې پدې کار کي مي خير دى .

رسول الله چي مکه مکرمه فتح کړه ، د کعبې شريفي د دننه څخه يې مجسمې او تصويرونه راويستل ، پدغو کي د ابراهيم عليه السلام او اسماعيل عليه السلام مجسمې يا تصويرونه هم وه، چي د دواړو په لاسونو کي ئې ازلام( ) ورکړي وه ، رسول الله صلى الله عليه و سلم وويل: الله تعالى دي مشرکان هلاک کړي ، په الله قسم کوم، چي دوی ته معلومه ده چي ابراهيم او اسماعيل عليهما السلام هيڅ وخت هم په غشو خپل قسمت ندی معلوم کړی( ).٢

د مکي مشرکانو دغي باطلي عقيدې ته د اشاعت او مشروعيت لپاره دا کار ابراهيم او اسماعيل عليهما السلام ته منسوباوه، څو ساده خلک په خطاباسي،

---

١ : ازلام: د زلم جمع ده، زلم د بخت معلومولو غشي ته ويل کيږي.

٢ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم لَمَّا قَدِمَ مَكَّةَ أَبَى أَنْ يَدْخُلَ الْبَيْتَ وَفِيهِ الآلِهَةُ فَأَمَرَ بِهَا فَأُخْرِجَتْ فَأُخْرِجَ صُورَةُ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ فِي أَيْدِيهِمَا مِنَ الأَزْلاَمِ فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم قَاتَلَهُمُ اللَّهُ لَقَدْ عَلِمُوا مَا اسْتَقْسَمَا بِهَا قَطُّ (البخاري)

همدغه ډول ئې د بتانو عبادت کاوه خو ځانونو ته یې ابراهیمیان ویل، پداسي حال کي چي ابراهیم السلام د بتانو ماتوونکی وو.

د ټولو اهل الباطل همدا طریقه ده ، کله د حق مقابله په خرافاتو او باطلو عقایدو کوي ، همدا باطل عقاید او خرافات بیا د ترویج لپاره منل سوو اشخاصو یا مذاهبو ته منسوبوي.

زموږ په اسلامي ټولنه کي بدعتیان هم دا ډول کوي خپل بدعتي عقیدې او بدعتي عملونه حنفي مذهب ته منسوبوي، حتی خپل عقیدوي او عملي بدعتونه یې د حنفي مذهب معیار ګرځولی وي ، څو عوام بېچارګان په خطا باسي ، کوم علماء کرام چي د دوی دغه باطل عقاید او عملونه ردوي هغوی د مذهب څخه وتلی بولي او د وهابیانو په لیست کي یې راولي .

**خورده:**

په راتلونکو پاڼو کي د بدعتیانو د باطلي عقیدې او باطل عمل یو داسي مثال ذکر کوو، چي ځیني بدعتیان هغه د حنفي مذهب او د اهل السنة و الجماعة عقیده بولي، ان تر دې چي د آمنت بالله په شان پر هغه عقیده درلودل ضروري بولي، د ایماني وروړګلوی او دښمنۍ سره کړښه یې بولي یعني که یې چا دغه باطله عقیده منله، د هغه سره تعلقات ساتي او که یې چا دا باطله عقیده ردوله، د هغه سره د مقاطعې او پریکون اعلان او دښمني کوي.

دا باطله عقیده او بدعتي عمل خورده( ) ده، د خوردې اړوند[1]د بدعتیانو داسي عقیده ده که چا خورده نه منله، هغه د طریقت څخه منکر، د حنفي مذهب څخه وتلی دی او د اهل السنة و الجماعة په ډله کي نه شمېرل کیږي.

راځی چي د بدعتیانو د خوردې د عقیدې حکم د اهل السنة و الجماعة او حنفي مذهب په رڼا کي ځان ته معلوم کړو!

د صالحانو په اثارو تبرک حاصلول جایز دي، د صالحانو په اثارو کي هغه شیان راځي، چي صالح کس هغه شی استعمال کړی وي، یا یې د بدن جزء ( )وي.[2]

نبي علیه السلام چي به د احرام څخه د حلالېدو لپاره سر وخروی، صحابه کرامو یې د تبرک لپاره وریښتان اخیستل ( )[3]

یعقوب علیه السلام د یوسف علیه السلام د فراق لکبله په سترګو ړوند سو، یوسف علیه السلام د ورڼو په لاس خپل قمیص ورکړ او ورته وئې ویل: تاسو زما دغه قمیص یوسئ د یعقوب علیه السلام پر مخ یې واچوئ، هغه به په بینا سي همداسي وسوه( ).[4]

---

**۱ : د قبر له سر څخه خاوره ، ډبره، مالګه یا بل شی اخیستل.**

**۲ : د بدن جزء، لکه د سر یا ږیري وریښتان.**

[3] **عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم لَمَّا حَلَقَ رَأْسَهُ كَانَ أَبُو طَلْحَةَ أَوَّلَ مَنْ أَخَذَ مِنْ شَعَرِهِ. (البخاري).**

[4] **اذْهَبُوا بِقَمِيصِي هَذَا فَأَلْقُوهُ عَلَى وَجْهِ أَبِي يَأْتِ بَصِيرًا.....( يوسف– ۹۳)**

د پښتني او افغاني ټولني په اصطلاح کي خورده هغي خاوري ته ويل کيږي، چي ځيني عوام يې د قبر د سر څخه د تبرک او خوراک په نيت رااخلي، د قبر د سر څخه خاوره اخيستل او خوړل جواز نلري( ) او بله دا چي د ١
خاورو خوړل صحت ته هم ضرر رسوي.

دا خو معلومه ده، چي خورده د صالحانو له اثارو څخه نده؛ ځکه د قبر د سر خاوره د مړي د استعمالي شيانو له جملې څخه نده، حتى مړي ليدلې لا هم نده.

تاسو وګورئ ، په مسجد نبوي کي فرشونه هوار نه وه ، بلکي ريګنه خاوره وه ، د ليلة القدر په اړه رسول الله صلى الله عليه و سلم خوب وليدى چي په دا شپه پر لنده مځکه سجده کوم ٢ .

---

١ وَأَكْلُ الطِّينِ مَكْرُوهٌ .كنز الدقايق

٢ عن أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ فَقُلْتُ أَلاَ تَخْرُجُ بِنَا إِلَى النَّخْلِ نَتَحَدَّثْ فَخَرَجَ فَقَالَ قُلْتُ حَدِّثْنِي مَا سَمِعْتَ مِنَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ قَالَ اعْتَكَفَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَشْرَ الأُوَلِ مِنْ رَمَضَانَ وَاعْتَكَفْنَا مَعَهُ فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ فَقَالَ إِنَّ الَّذِي تَطْلُبُ أَمَامَكَ فَاعْتَكَفَ الْعَشْرَ الأَوْسَطَ فَاعْتَكَفْنَا مَعَهُ فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ فَقَالَ إِنَّ الَّذِي تَطْلُبُ أَمَامَكَ فَقَامَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم خَطِيبًا صَبِيحَةَ عِشْرِينَ مِنْ رَمَضَانَ فَقَالَ مَنْ كَانَ اعْتَكَفَ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَلْيَرْجِعْ فَإِنِّي أُرِيتُ لَيْلَةَ الْقَدْرِ وَإِنِّي نُسِّيتُهَا وَإِنَّهَا فِي الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ فِي وِتْرٍ وَإِنِّي رَأَيْتُ كَأَنِّي أَسْجُدُ فِي طِينٍ وَمَاءٍ ، وَكَانَ سَقْفُ الْمَسْجِدِ جَرِيدَ النَّخْلِ وَمَا نَرَى فِي السَّمَاءِ شَيْئًا فَجَاءَتْ قَزْعَةٌ فَأُمْطِرْنَا فَصَلَّى بِنَا النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم حَتَّى رَأَيْتُ أَثَرَ الطِّينِ وَالْمَاءِ عَلَى جَبْهَةِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَأَرْنَبَتِهِ تَصْدِيقَ رُؤْيَاهُ.(البخاري).

د رمضان په يوويشتمه شپه باران وسو ، د مسجد چت و څڅېدی ، د محراب مځکه لنده سوه ، نبي عليه السلام چي پدا سهار لمونځ وکړ پر پزه او تندي يې ختې نښتي وې ، پدې ثابته سوه چي همدا کال د رمضان يوويشمه شپه د ليلة القدر وه .

رسول الله صلى الله عليه و سلم امام الانبياء سيد المرسلين دی ، تر ده صالح کس نه په انسانانو کي او نه هم په ملايکو کي سته .

ځونه محبت چي صحابه کرامو رضي الله عنهم د رسول الله صلى الله عليه و سلم سره درلود، په هغه اندازه بل څوک محبت نسي ور سره درلودلای؛ ځکه هم يې ځانونه او مالونه تر قربانول او هم يې په کامل ډول د هغه اتباع کوله.

د هغوی دونه محبت وو چي د ده مبارک ناوړې ئې لا هم مځکي ته نه پرېښوولې، بلکي هغوی په لاسونو کي اخيستلې او پر خپلو مخونو او بدنونو يې د تبرک لپاره مونښلې( )؛ خو د دې ټولو سره [1] بيا هم يوه صحابي د مسجد نبوي د محراب څخه هغه خاوره د تبرک لپاره نه را اخيستل او نه يې خوړل کوم چي به خاتم النبين په سجده کي پر هغه تندی او پزه مبارکه اېښووله.

---

[1] ثُمَّ إِنَّ عُرْوَةَ جَعَلَ يَرْمُقُ أَصْحَابَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم بِعَيْنَيْهِ قَالَ فَوَاللَّهِ مَا تَنَخَّمَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم نُخَامَةً إِلاَّ وَقَعَتْ فِي كَفِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ فَدَلَكَ بِهَا وَجْهَهُ وَجِلْدَهُ.(البخاري).

ځيني بدعتيان د قبر د سر څخه خورده را اخيستل د اهل السنة و الجماعة او د څلورو مذهبونو اتفاقي عقيده بولي؛ ځکه نو د خپلو عقايدو په کتابونو کي يې د عقايدو په نوملړ کي ليکي.

پداسي حال کي چي څلور مذهبونه که څه هم په اجتهادي يعني فروعي مسايلو کي اختلافات لري خو په عقيده کي ټول متفق د اهل السنة و الجماعة په نامه ياديږي ، اهل السنة و الجماعة هغو کسانو ته وايي چي د محمد رسول الله پر لاره ځي ، د صحابه کرامو رضي الله عنهم د فهم په رڼا کي شرعي نصوص فهموي او د هغوی په شان عقيده لري( [1] ) .

صحابه کرامو رضي الله عنهم ته د رسول الله تبرکات ډېر معزز او قدرمن وه؛ خو د سيد المرسلين صلى الله عليه وسلم د سجدې خاوره يې د تبرک لپاره نه را اخيستله، نو دا کوم عقل او منطق منلای سي چي د يو صالح يا وهمي بزرگ د قبر د سر خاوره او مالګه دي شرعا تبرک وبلل سي ، داسي تبرک چي د عقيدې رکن وګرځول سي ، کوم کسان چي يې جايز نه بولي هغوی دي د اهل السنة و الجماعة او د حنفي مذهب څخه خارج او وهابي وبلل سي!

---

[1] عن عبد الله بن عمرو قال : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم ليأتين على أمتي ما أتى على بني إسرائيل حذو النعل بالنعل حتى إن كان منهم من أتى أمه علانية لكان في أمتي من يصنع ذلك وإن بني إسرائيل تفرقت على ثنتين وسبعين ملة وتفترق أمتي على ثلاث وسبعين ملة كلهم في النار إلا ملة واحدة قالوا ومن هي يا رسول الله قال ما أنا عليه وأصحابي قال أبو عيسى هذا حديث مفسر غريب لا نعرفه مثل هذا إلا من هذا الوجه.(ترمذي).

بل داچي شرعي احکام زموږ په حنفي مذهب کي اووه دي : فرض، واجب، ندب ( سنت او مستحب ) مباح ، مکروه تنزيهي، مکروه تحريمي او حرام.

د دغو احکامو دلايل څلور اتفاقي دي لکه قران ، حديث ، اجماع او قياس او اووه نور( ) دلايل بيا د مذاهبو تر[1] منځ اختلافي دي، په اختلافي دلايلو کي يو هم سد الذرايع دی.

اسلحه يا وسله خرڅول جايز او مباح کار دی؛ خو زموږ په مذهب کي پر فتنه گرو باندي د وسلې خرڅول مکروه تحريمي کار دی؛ ځکه فساد پر مرتب کيږي، او هر مباح کار چي خلک د فساد ذريعه گرځوي، نو د دغه فساد د مخنيوي په غرض هغه مباح کار شرعا منع کيږي، د حرمت دليل ته يې په اصطلاح کي سد الذرايع ويل کيږي.

که د قبر د سر خاوره يا هلته اينبوول سوې مالگه تبرک وي، نو د قبر ډبري هم بايد تبرک وبلل سي او پر بدن باندي ئې موښل هم بايد جواز پيدا کړي؛ ځکه د تبرک شی پر بدن هم موښل کېدلای سي ، لکه د يوسف عليه السلام قميص چي ئې د يعقوب عليه السلام پر سترگو ور وموښی. بيا به نو زيارت کوونکي د قبرونو او زيارتونو ډبري پر خپلو مخونو او ځيگرونو موښي.

مشرکانو په خپلو بتخانو کي بتانو ته د تبرک لپاره ميتهايي او نور ډول ډول خواړه اينبوول، ابراهيم عليه السلام چي د مشرکانو بت خانې ته ورغلی ، د

[1] الاستحسان، الاستصحاب، المصالح المرسلة، سد الذرايع، العرف، شريعة من قبلنا، قول الصحابي.

مشركانو تبركات چي يې بتانو ته پراته وليدل، نو بتانو ته يې وويل : تاسو ولي دا خواړه نه خورئ؟( [1] ).

كه بالفرض د قبر د سر خاوره او مالګه تبرک او مباح وبلل سي، بيا هم همدا مباح كار د سد الذرايع په اساس جايز نه بلل كيږي، ځكه همدا خوردې د ډېرو عامو خلكو عقيدې ور فاسدي كړي دي.

موږ ډير عوام وينو چي د خپلي ناروغۍ علاج په پوه ډاكتر وكړي، كه د ډاكټر د دوا تر څنګ د قبر خورده هم وخوري او ناروغي يې ښه سي ، نو دغه روغتيا او صحت د خوردې بركت او د قبر د څښتن اختياري كرامت بولي، كرامت حق دی؛ خو كرامت د مړي او ژوندي په اختيار كي نه دی.

همدا خورده او دې ته ورته نور خرافات او توهمات د دې سبب ګرځېدلي دي چي ځيني خلک د قبر څښتن مشكل كشا بولي، د ليري او نژدې څخه يې ننګوي ، طوافونه پر كوي ، پر سجده ورته پروت وي حاجتونه او مرادونه ځني غواړي.

كه بالفرض خورده تبرک او مباح وګڼو، د دغه فساد لكبله همدغه مباح كار ناجايزه كيږي؛ ځكه په تجربه ثابته سوې ده چي د ډيرو عامو خلكو عقيدې ئې ور خرابي كړي دي.

---

[1] فَرَاغَ إِلَى آلِهَتِهِمْ فَقَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ (٩١) مَا لَكُمْ لَا تَنْطِقُونَ (٩٢) فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًا بِالْيَمِينِ (الصافات٩٣)

نو په کار ده، چي پدغسي کوچنيو خبرو سره مو خلک خطا نه باسي او د اهل الحق د دعوت په مقابله کي مو ونه کاروي!

**مقابله کوونکي ډلي:**

د اهل الحق د دعوت مقابله په عام ډول پنځه ډلي کوي:

کافران، منافقان، بدعتيان، ناخبره کسان، د نورو په پروپاګنډو تيروتلي ساده کسان.

په نن عصر کي هم دا پنځه ډلي د اهل الحق د دعوت مخه په مختلفو طريقو نيسي، داعي په تهمت محکوموي يا د خلکو اعتماد پر کموي، د خبرو د اورېدلو څخه يې ساده خلک منع کوي، ساده خلک د داعي په مقابل کي راپاروي، داعي په تهديد او ګواښ بيروي، په مناظره کي د اخلال او غالمغال را منځ ته کولو لپاره د موضوع څخه وځي، خپل بدعتونه او خرافات مثل سوو اشخاصو يا مذهب ته د ترويج لپاره منسوبوي، البته د يادو طريقو څخه څوک په يوه او څوک په بله طريقه د اهل الحق د دعوت مخه نيسي.

لومړی- د دعوت په وړاندي د کافرانو مخالفت: نن وينو کافران مدرسې د ترهګرۍ او تروريستانو تربيت ځايونه بولي ، نور تهمتونه پر وايي ، همدا راز مشهور داعيان په ډول ډول تورونو متهموي ، دا ځکه چي په نني عصر کي مدرسې د اسلامي تعليماتو او دعوت ستر مرکزونه دي ، څو د دعوت مخه يې په جنايي قضيو او تهمتونو ونيسي.

دوهم- د دعوت په وړاندي د عقيدوي منافقينو مخالفت: که څه هم موږ ته عقيدوي منافقين نه معلومېږي؛ خو بيا هم په هره ټولنه کي شتون لرلای سي،

منافقان هم كوښښ كوي په تهمت د دعوت مخه ونيسي ، د مدرسو او داعيانو خلاف پروپاګنډ كوي ، د هغو په باره كي خلكو ته شک او شبهې پيدا كوي .

دريېم- د دعوت په وړاندي د بدعتيانو مخالفت: بدعتيان بيا خپل بدعتونه مذهب ته منسوبوي، حتى د مذهب معيار يې بولي څو په اسلامي ټولنه كي اشاعت وركړي، همدا راز د مذهب څخه ناخبره كسان ، او د اهل الباطل په پرپاګنډو تيروتي كسان بيا د تحقيق نه كولو يا د جهالت لكبله د مذهب يو شمېر ثابت او راجح مسايل د مذهب خلاف بولي، لكه په التحيات كي د تشهد په مهال د شهادت د ګوتي پورته كول . [1]

---

[1] فهذه النقول كلها صريحة بأن الإشارة المسنونة إنما هي على كيفية خاصة وهي العقد أو التحليق وأما رواية بسط الأصابع فليس فيها إشارة أصلا ولهذا قال في الفتح وشرح المنية وهذا أي ما ذكر من الكيفية فرع تصحيح الإشارة أي مفرع على تصحيح رواية الإشارة فليس لنا قول بالإشارة بدون تحليق ولهذا فسرت الإشارة بهذه الكيفية في عامة الكتب كالبدائع والنهاية ومعراج الدراية والذخيرة والظهيرية وفتح القدير وشرحي المنية والقهستاني والحلية والنهر وشرح الملتقى للبهنسي معزيا إلى شرح النقاية وشرحي درر البحار وغيرها كما ذكرت عباراتهم في رسالة سميتها ( رفع التردد في عقد الأصابع عند التشهد ) وحررت فيها أنه ليس لنا سوى قولين الأول وهو المشهور في المذهب بسط الأصابع بدون إشارة، الثاني بسط الأصابع إلى حين الشهادة فيعقد عندها ويرفع السبابة عند النفي ويضعها عند الإثبات وهذا ما اعتمده المتأخرون لثبوته عن النبي بالأحاديث الصحيحة ولصحة نقله عن أئمتنا الثلاث فلذا قال في الفتح إن الأول خلاف الدراية والرواية( رد المحتار )

او هغه مسايل چي په مذهب كي اصل نه لري لكه خورده يا بل داسي عمل، چي په ټولنه كي يې رواج موندلى وي يا بدعتيان د خپلو باطلو اغراضو لپاره كمپاين ورته چلوي هغه بيا د مذهب معيار بولي .

د يادوني وړ ده ، د داعي د حقانيت يو ستر دليل او نښه دا ده چي اهل الباطل يې مقابله وكړي؛ ځكه اهل الباطل د هر نبي او رسول د دعوت مقابله كړې ده ، نو كوم داعي چي په رښتيني ډول د دين د دعوت چاري مخته وړي اهل الباطل به هرو مرو د هغه مقابلې ته ليځي رانغاړي ، د بدنامه كولو هڅي به يې كوي، په ګواښونو او تهديدونو به يې حوصله ټيټوي.

خو اهل الحق به په پوره اخلاص ، ټينګ عزم ، بصيرت او علميت سره د دعوت چاري مخته وړي، ابو ذر رضي الله عنه وويل: كه توره پر څټ را كښېږدى يعني سر مي را پرې كوى او د رسول الله څخه يو اورېدلى حديث پدغه مهال كي زه بيان كړاى سم، دمخه تر دې چي سر مي را پرې كوى زه به يې درته بيان كړم( [١] ) .

نو داعي بايد د هيچا څخه و نه بيرېږي ، د ژوند تر اخري سلګۍ پوري د دعوت كار ته د نبوي اخلاقو او إرشاداتو په رڼا كي په ډېر احسنه طريقه او نه ستړي كېدونكو هلو ځلو ادامه وركړي.

---

[١] وَقَالَ أَبُو ذَرٍّ لَوْ وَضَعْتُمْ الصَّمْصَامَةَ عَلَى هَذِهِ وَأَشَارَ إِلَى قَفَاهُ ، ثُمَّ ظَنَنْتُ أَنِّي أُنْفِذُ كَلِمَةً سَمِعْتُهَا مِنَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَبْلَ أَنْ تُجِيزُوا عَلَيَّ لأَنْفَذْتُهَا.( البخاري)

# خاتمه

د طلالي لړۍ په پنځمه شماره کي مو د بيعت ډولونه ، د کامل شيخ يو شمېر لازم صفات ، د اولياؤ تعريف او د حق په مقابل کي د باطل د دسيسو څو بېلگي ولوستې ، بنايي اوس د کتاب د عنوان - د چا مريد سم ؟ - جواب درته معلوم سوی وي!

مخکي مو ولوستل د طريقت مقصد اصلاح او تزکيه ده، اصلاح او تزکيه د کامل شيخ پر بيعت منحصره نه ده ، بلکي د اصلاح او تزکيې نوري لاري هم سته ، د هغو لارو څخه هم بايد د ځان د اصلاح او تزکيې لپاره استفاده وسي.

په ځانگړي ډول په اوسنۍ زمانه کي چي له يوې خوا د صحيح مرشد او پير پيدا کول د ډېرو کسانو لپاره گران کار دی؛ ځکه په هره سيمه کي صحيح مرشد وجود نلري او بل اړخ ته د تيرايستني ماحول دی.

بدعتيانو د بدعتونو د خپرولو لپاره او ټگانو د عزت او پيسو لاس ته راوړلو لپاره خانقاوي پرانيستي دي ، د اصلاح او تزکيې په نامه عوام په بدعتونو اخته کوي د دروږ په نامه يې مالونه لوټوي ، لهذا د کتاب په اختتام کي د اصلاح او تزکيې يو شمېر نوري لاري هم ذکر کوو.

لومړی: د صحابه کرامو رضي الله عنهم ، همدا راز د تابعينو ، تبع تابعينو رحمهم الله تعالی عنهم ، همدا راز د معروفو او منل سوو مجتهدينو، مفسرينو، محدثينو، علماء کرامو او زاهدانو رحمهم الله تعالی د مناقبو په لوستلو او مطالعه کولو هم انسان متاثره کيږي.

په قران کريم او نبوي احاديثو کي چي د مخکنيو انبياؤ او رسولانو او د مخکنيو امتونو د صالحانو ځيني حالات او قيصې ذکر سوي دي، د هغو يوه وجه دا ده چي مؤمنان د هغوی د مناقبو او ښو صفاتو څخه متاثره سي او په هغوی پسې اقتداء وکړي.

خو مناقب بايد په معتمدو کتابونو کي ولوستل سي ځکه د مناقبو داسي کتابونه هم سته چي پر هغو اعتماد نسي کېدلای بلکي په ځينو کتابونو کي مشهورو او منل سوو امامانو او زاهدانو ته د داسي صفاتو ، ويناوو او کارونو نسبت کيږي چي هغه د اسلام خلاف ويناوي او عملونه وي؛ ځکه اهل الباطل او مبتدعين چي خپلو باطلو عقايدو او بدعتونو ته اشاعت ورکوي، نو هغه منل سوو امامانو او صالحانو ته منسوبوي ، په اووم فصل کي دا موضوع په تفصيل سره بيان سوه.

دوهم: د معلومو تقوا لرونکو علماء کرامو سره تعلقات ساتل، د نژدې څخه د هغوی اصلاحي بيانونه اورېدل، د هغوی په هغو تدريسي حلقو کي اشتراک کول، چي په مساجدو او مدارسو کي يې د عامو خلکو لپاره دايروي، کله ناکله د هغوی د فراغت په وختونو کي د هغوی ملاقات او زيارت کول او د نژدې څخه د هغوی څخه مشورې غوښتل.

مخکي مو ولوستل چي د صالحانو په ملتيا کي انسان اصلاح کيږي ، د قراني تعريف له مخي صالحان او وليان هغو ته نه وايي چي خانقاوي يې پرانيستې وي مريدان نيسي، بلکي اولياء او صالحان هغه کسان بلل سوي دي چي د

صحيحي عقيدې يعني ايمان او د تقوا څښتنان وي ، ځونه چي څوک د تقوا[1] څښتن وي هغونه الله تعالی ته مكرم وي( [2] ).

كوم كسان چي د ښه علم څښتنان وي ، صحيح عقايد ولري ، ديني فرايض انجاموي، صالح اعمال كوي، د گناهونو څخه ځانونه ساتي، ټول عمر په تعليم او دعوت لگيا وي، امر بالمعرف او نهي عن المنكر كوي، په ژبه او قلم د كفري فرهنگ او د مبتدعينو د خرافاتو دفع كوي او داسي نور خدمات انجاموي كه دا كسان په وليانو او صالحانو كي حساب نسي، نو څوک به د الله وليان وي؟

زموږ په هيواد كي حق علماء د ديوبند د مسلک علماء كرام دي، هم د عقيدې په لحاظ او هم د اعمالو په لحاظ د بدعتونو او خرافاتو څخه اجتناب كوي، همدا علماء كرام د حنفي مذهب رښتيني استازي دي ، د همدغو علماء كرامو سره بايد تعلقات وساتل سي؛ خو پدې شرط چي د تقوا څښتنان وي ، د تقوا لرونكو علماء كرامو سره تعلقات ساتل هم د اصلاح او تزكيې يوه طريقه ده.

دريم : د تعليم الاسلام راډيو خپروني اوريدل هم د ځان او هم د خپلي كورنۍ، ښځو او اولادونو د اصلاح او تزكيې ښه طريقه ده؛ ځكه د تعليم الاسلام په راډيو كي د ځيني تفريحي او يو شمېر معلوماتي خپرونو څخه

---

[1] أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ (٦٢) الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ (٦٣) لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمَاتِ اللَّهِ ذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (يونس ٦٤)

[2] ... إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ (الحجرات ١٣)

ماسیوا نوري ټولي خپروني هر اړخیزي دیني خپروني دي، چي د معتمدو علماء کرامو لخوا وړاندي کیږي.

په ځانګړي ډول د ښځو لپاره او هم د هغو کسانو لپاره د تعلیم الاسلام راډیو اوریدل ډیر زیات ضروري دي، چي د علماء کرامو په تدریسي حلقو کي ګډون نسي کولای او نه هم د نژدې څخه د هغوی وعظونه اوریدلای سي.

په تعلیم الاسلام راډیو کي تقریبا د ټولني د هرې طبقې لپاره که نارینه دي ، که ښځینه ، که لویان دي که کوچنیان ، همدغه ډول د عوامو لپاره ، د طلباؤ لپاره ، حتی د علماؤ لپاره خپروني سته ، دغه ډول د عقایدو ، احکامو او اخلاقو بیلابیلي خپروني پکښي نشریږي.

د منبر اواز او یو شمیر هغه خپروني چي په هغو کي د اخلاص ، شکر ، قناعت ، صبر ، توکل او داسي نورو صفاتو فضایل ذکر کیږي یا هم د ریا ، بخل ، کبر او داسي نورو بدو صفاتو مذمت بیانیږي دا خپروني د علم التصوف او علم السلوک په خپرونو کي شمیرل کیږي.

شرعي پوښتني او د هغو جوابونه او د احکامو نوري خپروني د علم الفقه خپروني دي ، د الله تعالی د وحدانیت او معرفت ، د رسولانو د رسالت ، د جنت او دوږخ او د قیامت د ورځي اړوند او داسي نوري د ایمانیاتو او اسلامي عقایدو اړوند خپروني ، دغه ډول د کفر او شرک د پیژندني او د کفر او شرک د بد انجام او مذمت خپروني ټولي د علم الکلام په خپرونو کي شمیرل کیږي.

د قران كريم د ترجمې او تفسير درسونه ، د حديثو درسونه هم د عقيدې د اصلاح ، هم د فقهي مسايلو د زده كړې او هم د اخلاقو او وجدانياتو د پيژندني جامع درسونه دي؛ ځكه د علم الكلام ، علم الفقه او علم التصوف درې واړه علوم په قران كريم او نبوي احاديثو كې ذكر سوي دي او اصلي ماخذ يې قران كريم او نبوي احاديث دي .

په اووم فصل كې مو ولوستل چې اهل الباطل په مختلفو طريقو د حق مقابله كوي ، اهل الباطل چې د اهل الحق په مقابل كې كوم اوزار كاروي د هغو د جملې څخه يو هم د حق د اورېدلو څخه د خپلو اتباعو او پيروانو راګرځول دي .[1]

د تعليم الاسلام راډيو په مقابل كې به هم اهل الباطل او بدعتيان د همدغه وسيلې څخه حتما كار اخلي ، خو په چل او فريب په غلطو تبليغاتو خپل پيروان د تعليم الاسلام راډيو د اورېدلو څخه راګرځوي؛ ځكه دوى بيرېږي، چې د تعليم الاسلام راډيو په اوريدلو سره خلكو ته حق ښرګنديږي او د حق د اورېدلو څخه متاثره كيږي.

خو مسلمان چې څه عقل او پوهه ولري هيڅكله به هم د اهل الباطل په تبليغاتو خطا نه وځي، بلكې تعليم الاسلام راډيو به د ځان او خپلې كورنۍ لپاره د ديني زده كړې او اصلاح يوه ښه او اسانه وسيله او عظيم نعمت وبولي

---

[1] وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَسْمَعُوا لِهَذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ (٢٦ فصلت )

او تر خپل وسع به کوښښ کوي، چي هم یې خپله واوري او هم خپله کورنۍ او نور مسلمانان د دې راډیو اوریدلو ته وهڅوي.

د یادوني وړ ده د تعلیم الاسلام راډیو د خپرونو په نوعیت او وخت کي میاشت په میاشت څه نا څه تغییرات راځي، هر څوک کولای سي په هر ولایت کي چي تعلیم الاسلام راډیو فعالیت لري، د هماغه ځای د تعلیم الاسلام راډیو د دفتر څخه پر وټساپ د خپرونو میاشتنی مهالویش تر لاسه کړي.

څلورم - د تبلیغي جماعت سره تعلق ساتل: یعني په تبلیغي جماعت کي د درو ورځو ، لسو ورځو ، څلویښتو ورځو ، څلورو میاشتو او کال لپاره وتل او هره پنجشنبه ماښام د مرکز په بیان کي ګډون کول او د جماعتونو نصرت او په ګښت ورسره وتل دا هم د اصلاح او تزکیې ښه طریقه ده.

بریلویان لکه څنګه چي د دیوبند د مسلک علماء کرام وهابیان بولي دغه ډول هغوی تبلیغي جماعت والا هم وهابیان بولي؛ خو بریلویان هر چا ته معلوم دي چي ډېر خطرناک بدعتیان دي ، په ډېرو ناوړو عقیدوي او عملي بدعتونو ککړ دي، حتی متاسفانه تر نبوي سنتو خپل خرافات او بدعتونه ښه ورته ښکاري .

همدا خرافات او بدعتونه یې د حنفي مذهب او طریقت معیارونه ګرځولي دي، د مذهب او دین په نامه په ټولنه کي ترویج او اشاعت ورکوي ، که یې چا خرافات او بدعتونه ردول، هغوی د دوی په آند د طریقت منکر، د حنفي مذهب خارج او وهابیان دي.

همدا د دیوبند علماء کرام دي چي د حنفي مذهب په مستندو مسایلو او صحیحو احادیثو د بریلویانو د بدعتونو رد کوي ، ځکه نو بریلویان د دیوبند د مسلک د علماء کرامو سره تر هر چا زیاته دښمني لري د وهابیت په تور یې د بدنامه کولو هڅي کوي.

خو لله الحمد ټول خلک پوهیږي چي د حنفي مذهب رښتیني استازي او د نبوي سنتو احیاء کونکي دیوبندي علماء کرام دي، زموږ په ټولنه کي لکه څه ډول چي خلک وهابیان او سلفیان د باطلو ډلو په صفت پېژني دغه ډول بریلویان او باړي والا هم د باطلو ډلو په صفت پېژني.

اهل الباطل چي د اهل الحق مقابله په تور او تهمت کوي پدې د اهل الحق اعتبار نور هم په اسلامي ټولنه کي زیاتیږي، ځکه د اهل الحق د حقانیت او رښتینتوب یوه نښه دا هم ده چي اهل الباطل یې مقابله کوي.

دغه ډول ځیني ناخبره کسان یا د بریلویانو په تبلیغاتو تېروتلي کسان هم څه نا څه تبلیغي جماعت ته زړه نه ښه کوي خو دا کسان که خپله په تبلیغي جماعت کي ووځي یا د هغوی په اړه صحیح معلومات تر لاسه کړي، نو حتما به دوی هم د تبلیغي جماعت تائید او نصرت کوي ؛ ځکه په تبلیغي جماعت کي وتل د عوامو، حتی علماؤ د اصلاح او تزکیې ښه طریقه ده ، یو ډیر خریلی ، تارک الجماعة که ځلویښت ورځي په جماعت کي ووځي ان شاء الله تعالی د هغه څخه به صوفي د جماعت اداء کوونکی او متدین مسلمان جوړیږي .

د تبلیغي جماعت د حقانیت او ښه والي لپاره دونه کفایت کوي چي د نړۍ په ګوټ ګوټ کي یې د دیوبند د مسلک علماء کرام تائید کوي ، آن تر دې د نړۍ

په سطحه مشهوري غټي ديوبندي مدرسې خپل طلباء کرام هڅوي، چي په کلنۍ رخصتي کي په تبليغي جماعت کي ووځي؛ ځکه د طلباؤ د اصلاح او تزکيې او د دين د ابلاغ د احساس را پيدا کولو لپاره دا اغېزمنه طريقه ګڼي.

د تبليغي جماعت د نامه څخه ځيني کسان داسي فهموي، چي دوی فقط د ديني احکامو ابلاغ کوي ، خو حقيقت داسي نه دی بلکي تبليغي جماعت په اوسني وخت کي د اصلاح او تزکيې عملي کار دی .

لکه څنګه چي مدارس خپل تعليمي نصاب لري ، طلباؤ ته د نصاب مطابق کتابونه تدريسوي ، دغه ډول د طريقت هره طريقه د ذکر لپاره مراحل لري ، سبق پر سبق مريدانو ته ارتقاء ورکوي .

په تبليغي جماعت کي هم د عوامو د اصلاح او عملي کار لپاره يو شمېر داسي موضوعات ټاکل سوي دي، چي په ټولنه کي په عمومي ډول په هغو کي په ښکاره ډول د کمي احساس کيږي ، د همدغو موضوعاتو په دايره کي دننه که د عوامو عملي تربيت وسي نو د دين د نورو احکامو او اخلاقو پلي کول به هم ورته اسانه کيږي .

**د تبليغي جماعت د کار طريقه:**

د تبليغي جماعت په نصاب کي پر شپږو شيانو زيات ترکيز( ) او توجه کيږي: ١

---

١ : ترکيز: مهم او مقصودي کار ټاکل.

لومړی: کلمه ، دوهم : لمونځ ، دريم : علم او ذکر ، څلورم : د مسلمان اکرام ، پنځم : اخلاص ، شپږم : دعوت او تبليغ.

بريلويان يا ځيني ناخبره کسان د تبليغي جماعت پر دا شپږو نمبرو اعتراض کوي وايي : دوی دين په شپږو نمبرونو کي منحصر کړی دی ، دا بې ځايه او غير منطقي اعتراض دی ، ځکه هيڅوک هم دين په دغو شپږو شيانو کي نه منحصر کوي، بلکي دا شپږ شيان د عوامو د تربيت او تزکيې لپاره داسي اساسي او مهم شيان دي، چي يو کس د دغو شيانو عملي مشق وکړي ان شاء الله تعالی په بشپړ دين به عمل کول ورته اسانه سي.

اول کلمه: د مسلمان لپاره تر هر شي مخکي د کلمې په مفهوم پوهېدل او په مقتضا يې عمل کول دي ، بلکي داسي ويلای سو، چي د اسلام بشپړ دين په کلمه کي منحصر دی ، الله تعالی هر رسول د لا اله الا الله لپاره مبعوث کړی دی [1] . د کلمې په ويلو او منلو کافر په اسلام کي داخليږي ، د کلمې اول جزء د الله تعالی توحيد يعني د وحدانيت منل دی ، بندگان به يوازي د الله تعالی عبادت کوي ، ملحدان او د مخلوق عبادت کوونکي کافران او مشرکان دي.

د کلمې دوهم جزء د محمد عليه السلام په رسالت اعتراف کول او د هغه منل دي، ځوک چي کلمه وايي او په زړه باور او يقين پر لري د هغه څخه د کلمې دا تقاضا ده چي د محمد عليه السلام پر طريقه به د الله تعالی عبادت او

---

[1] وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ (۲۵ الانبياء)

بندگي کوي او د هغه د کتاب قران کريم او نبوي إرشاداتو مطابق به د ژوند تولي چاري او د نورو انسانانو سره معامله او ژوند کوي.

په تبليغي جماعت کي عوام د کلمې مفهوم او معنا ته متوجه کيږي او د کلمې په مقتضا د عمل کولو انگيزه ورکول کيږي.

دوهم لمونځ : د مسلمان لپاره تر کلمې وروسته د اسلام دوهمه بناء لمونځ دی ، يو بنده چي لا اله الا الله محمد رسول الله وايي او په زړه يې مني همدا لمونځ د همدې عقيدې عملي تصديق او لومړنۍ تقاضا او غوښتنه ده ، ځکه نو کافر ته د کلمې تر ويلو وروسته د لمانځه دعوت ورکول کيږي .[1]

په هر مسجد کي پنځه وختونه مسلمانانو ته په جماعت د لمانځه د اداينې دعوت په - حی علی الصلاة - ورکول کيږي ، حضرت عمر رضي الله عنه خپلو حاکمانو ته ليکل : زما په آند ستاسو تر ټولو مهمه دنده لمونځ دی ، که څوک د لمانځه د حقونو ساتنه کوي، پخپلو وختونو کي يې اداء کوي هغه خپل دين

[1] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم بَعَثَ مُعَاذًا ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، إِلَى الْيَمَنِ فَقَالَ ادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدِ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً فِي أَمْوَالِهِمْ تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ وَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ.(البخاري)

وساتی، که څوک لمونځ ضايع کوي نو هغه تر لمانځه لا هم د دين د نورو احکامو زيات ضايع کوونکي ګرځي .[1]

په تبليغي جماعت کي د پنځو لمونځونو په جماعت د اداء کولو، د تهجد، ځانښت ، تحية المسجد او نورو نفلي لمونځونو عملي مشق کيږي څو عادت يې وګرځي.

دريم علم او ذکر: په تبليغي جماعت کي د مدرسې په شان کتابونه، نه تدريسيږي بلکي د ديني علم فضيلت او اهميت ورته بيانيږي، څوک چي په تبليغي جماعت کي ووځي هغه ته د ځان ، ښځي، اولادونو او د کورنۍ د نورو کسانو د ديني زده کړي فکر پيدا کيږي .

عوام خلک چي د دين څخه ليري دي ، د دې اساسي وجه د دين څخه ناخبرتيا ده ، نه د عبادت اهميت او طريقه ورته معلوميږي او نه هم د ګناهونو بد عواقب او سزا ګاني ورته معلوميږي ځکه د ګناهونو پر کولو جرئت لري او د عبادت په کولو کي سستي کوي .

په تبليغي جماعت کي د علم د فضايلو په بيانولو د خلکو په زړونو کي د علم شوق او ولوله پيدا کيږي، که خپله د مصروفيت لکبله په مدرسه کي زده کړه و نه کولای سي، د خپلو اولادونو د تعليم فکر خو به ورته پيدا سي، هغوی به په

[1] وحدثني عن مالك عن نافع مولى عبد الله بن عمر :أن عمر بن الخطاب كتب إلى عماله إن أهم أمركم عندي الصلاة فمن حفظها وحافظ عليها حفظ دينه ومن ضيعها فهو لما سواها أضيع ( موطا مالك )

مدرسه کي شامل کړي، د ځان په حق کي به هم لږ تر لږه د تشکیل د ملګرو سره د لمانځه د غلطيو تصحيح او يو شمېر ضروري مسايل زده کړاى سي.

په تبليغي جماعت کي د علم تر څنګ د ذکر فضايل هم ذکر کيږي ، څو سهار او مابنام ژبه په ذکر لنده وساتي ، همدا راز په تبليغي جماعت کي د رانقل سوو قراني او نبوي ذکرونو سره د مسلمان عادت پيدا کيږي .

ځيني کسان بيعت د ذکر لپاره کوي، هغوى داسي فکر کوي چي د الله ذکر د پير اجازه غواړي او ذکر يوازي هغه ګڼي چي پير يې سبق ورکړى دى، د دوى په اند په قران کريم او نبوي احاديثو کي چي د ذکر ثوابونه او د ذاکرانو ستاينه او لوړ مقام بيان سوى دى د هغه څخه مراد هغه ذکر او ذاکر دي چي پير يې اجازه ورکړې وي.

دا لويه اشتباه او تېروتنه ده ځکه لکه څه ډول چي د لمانځه، روژې، زکات، حج او نورو فرضي او نفلي عباداتو حکم الله تعالى کړى دى او طريقه يې هم په قران او حديثو کي ښوول سوې ده، د پير اجازه نه غواړي دغه ډول د ذکر امر هم الله او د الله رسول کړى دى، په قران پاک او نبوي احاديثو کي بې شميره اذکار ذکر سوي دي هر مسلمان يې کولاى سي بلکي په کولو يې مسلمانان مکلف دي[1] .

[1] يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا (٤١) وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا (٤٢ الاحزاب)

د مرشد لخوا چي د الله په نومونو د ذکر سبق مريدانو ته ورکول کيږي دا هم ذکر دی؛ ځکه د الله تعالی نومونه دي؛ خو تر دغه ذکرونو هغه ذکرونه افضل دي کوم چي الفاظ او عبارات يې د رسول الله په مبارکه ژبه ټول امت ته ښوول سوي دي، د فضيلت او ثواب په بيانولو يې امت ورته تشويق کړی دی اجازه خو لا څه کوئ امر يې ورته کړی دی!

ځيني کسان لکه باړې والا مروجو حلقو ته ذکر وايي، حلقه دې ته وايي چي يو شمېر مريدان په هفته يا مياشت يا کال کي په خانقاه کي يو ځای کيږي، هلته د ترنم په بدرګه په ډېره مستي ټول کسان د اتڼ غوندي پورته او کښته کيږي ، رقص کوي، پداسي حال کي چي رقص کول ناروا عمل دی ، نو په ذکر کي رقص کول خو بيخي ناروا عمل دی ( [1] ).

---

[1] وأما الرقص والتصفيق والصريخ وضرب الأوتار والصنج والبوق الذي يفعله بعض من يدعي التصوف فإنه حرام بالإجماع لأنها زي الكفار كما في سكب الأنهر وفي مجمع الأنهر عن التسهيل الوجد مراتب وبعضه يسلب الاختيار فلا وجه لمطلق الإنكار وفي التتارخانية ما يدل على جوازه للمغلوب الذي حركاته كحركات المرتعش اه. (حاشية علي مراقي الفلاح شرح نور الايضاح ) مطلب في مستحل الرقص قوله ( ومن يستحل الرقص قالوا بكفره ) المراد به التمايل والخفض والرفع بحركات موزونة كما يفعله بعض من ينتسب إلى التصوف وقد نقل في البزازية عن القرطبي إجماع الأئمة على حرمة هذا الغناء وضرب القضيب والرقص قال ورأيت فتوى شيخ الإسلام جلال الملة والدين الكرماني أن مستحل هذا الرقص كافر وتمامه في شرح الوهبانية ونقل في نور العين عن التمهيد أنه فاسق لا كافر. ( رد المحتار )

ځيني كسان بيا مريدان د الله تعالى د ذكر سره هم مهاله د ځان په ياد او تصور امر كوي، په ژبه الله! الله! يادول ، په فكر او خيال كي د پير او شيخ تصور كول د الله تعالى څخه د مخلوق خوا ته توجه اړول دي ، پداسي حال كي چي بنده گان بايد په ځانگړي ډول د ذكر په حالت كي د مخلوق څخه علائق قطع كړي ، يو مخ الله تعالى ته متوجه واوسي ، لكه څه ډول چي په ژبه د الله تعالى ذكر كوي همداسي فكر او زړه هم د الله تعالى په ذكر مشغول وساتي، الله تعالى خپل رسول صلى الله عليه و سلم په تبتل امر كړى دى ( )، تبتل دي ته وايي چي بنده خپل علائق د مخلوق څخه قطع كړي، يو مخ خپل خالق ته متوجه واوسي ( ).[2]

لكه څه ډول چي سبحان الله ، الحمد لله ، لا اله الا الله ، الله اكبر او داسي نوري كلماتي پر ژبه بيانول ذكر بلل كيږي همداسي لمونځ كول ، د قرانكريم تلاوت كول هم ذكر بلل كيږي ( )، همدا راز خطبې ته هم[3] الله تعالى ذكر

---

[1] : وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلاً (المزمل– ٨).

[2] {واذكر اسم رَبّكَ } ودُمْ على ذِكرِه تعالى ليلاً ونهاراً على أيِّ وجهٍ كانَ من تسبيحٍ وتهليلٍ وتحميدٍ وصلاةً وقراءةِ قُرآنٍ ودراسةِ علمٍ. { وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ } أيْ وانقطعْ إليهِ بمجامعِ الهمةِ واستغراقِ العزيمةِ في مراقبتِه ، وحيثُ لم يكن ذلك إلا بتجريدِ نفسهِ عليه الصَّلاةُ والسَّلامُ عن العوائقِ الصَّادةِ عن مراقبةِ الله تعالى وقطعِ العلائقِ عمَّا سواهُ قيلَ : { تَبْتِيلاً } مكان تبتلاً مع ما فيهِ من رعايةِ الفواصلِ. (تفسير ابي السعود).

[3] ... وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ (٤٤ النحل)

ويلى دى ځکه چي د الله تعالى حمد او ثناء پکښې ويل کيږي ، د الله تعالي عظمت او نور صفات پکښې بيانيږي او عموما پر قراني ايتونو مشتمله وي.

همدا راز په کائناتو لکه اسمانونو ، ځمکو او پکښې ميشت مخلوقاتو او د اسمانونو او ځمکو تر منځ شيانو کي فکر کول د الله تعالى د وحدانيت او قدرت استدلال ځني کول هم په ذکر کي راځي( [1] ).

د ذکر يو فضيلت دا دى چي الله تعالى ذاکرانو ته وعده ورکړې ده وايي: ځوک چي ما د ځان سره ياد کړي هغه زه د ځان سره يادوم ځوک چي ما په جماعت کي ياد کړې زه يې ترهغه په ښه جماعت کي يادوم ( [2] ).

په قران کريم کي هم الله تعالى همداسي وعده ورکړې ده:

**فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ**..( ) تاسو ما يادوى نو زه به تاسو ياد کړم.

---

١ : الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَى جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذا بَاطِلاً سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ (ال عمران١٩١)

٢ : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي وَأَنَا مَعَهُ إِذَا ذَكَرَنِي فَإِنْ ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي وَإِنْ ذَكَرَنِي فِي مَلإٍ ذَكَرْتُهُ فِي مَلإٍ خَيْرٍ مِنْهُمْ وَإِنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ بِشِبْرٍ تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ ذِرَاعًا وَإِنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ بَاعًا وَإِنْ أَتَانِي يَمْشِي أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً.( البخاري)

٣ : (البقرة–١٥٢)

تنبيه: په فاذکروني کي د متکلم واحد ضمير الله تعالى ته راجع کيږي لکه فاعبدون کي چي الله تعالى ته راجع کيږي فاعبدون په اصل کي فاعبدوني دی په اخير کي يې د متکلم واحد ضمير ياء ده .

که يو بنده د فاعبدون د متکلم واحد ضمير کوم چي د نون کسره دلالت پر کوي ځان ته راجع کړي نو دا په ښکاره ډول د الوهيت دعوه او شرک دی ځکه د عبادت مستحق يوازي الله تعالى دی.

ځينو جعلي پيرانو د مريدانو د جلب او جذب لپاره  په کمپاين کي پر اشتهاراتو خپل عکسونه چاپ کړي وي د عکس پر سر يې **فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ!** ايت ليکلی وي، د دې خخه په ښکاره ډول فهمول کيږي، چي د عکس خښتن خلکو ته وايي تاسو چي زما شکل او صورت هر مهال په هر ځای کي در ياد کړی زه تاسو يادوم ، دا هم ځان ته د غيبوعلم ثابتول دي، هم په قران پاک کي تحريف کول دي او هم د فرعون په شان د **أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَى** ( ) د ربوبيت دعوه ده.

**متوارده اذکار:**

د شپې او ورځي په جريان کي د انسان حالات بدليږي، ورځ پر تيره سي شپه سي، شپه پر تيره سي ورځ سي، مياشت پر نوې سي، بيده سي، ويښ سي، مسجد، کور، بازار، بيت الخلا ته ننوځي، د مسجد، کور، بازار، بيت الخلا

---

۱ : النازعات– ٢٤

ښخه راوځي، د غم خبر واوري، يو کس په بد حالت کي ووينې، اوبه ، شيدې او ډوډۍ وخوري او داسي نور ...

دغو حالاتو ته حالات متوارده وايي ځکه يو په بل پسي راځي، د رسول الله ښخه زيات شمېر دعاګاني او اذکار رانقل سوي دی، چي هغه پدغو بدلېدونکو حالاتو کي ويل کيږي، که څوک همدا اذکار ياد کړي ، هر ذکر پخپل ځانګړي وخت کي په ټاکلي مقدار ووايي، ورځنی ورد يې وګرځوي ، د نبوي سنتو د إتباع علاوه به د دغو اذکارو ځانګړي دنيوي او اخروي ګټې هم حاصلي کړي او هم په ذاکرانو کي شمېرل کيږي؛ ځکه د ژوند هر بدلېدونکی حالت يې په ذکر پيل او ختميږي.

سل ځلي ورځنی ذکر: سبحان الله و بحمده .[1]

سل ځلي ورځنی ذکر : لا إله إلا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير .[2]

**عام ذکرونه :**

---

[1] عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال :من قال سبحان الله وبحمده في يوم مائة مرة حطت عنه خطاياه وإن كانت مثل زبد البحر.( البخاري)

[2] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ : مَنْ قَالَ : لاَإِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ فِي يَوْمٍ مِئَةَ مَرَّةٍ كَانَتْ لَهُ عَدْلَ عَشْرِ رِقَابٍ وَكُتِبَتْ لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ وَمُحِيَتْ عَنْهُ مِائَةُ سَيِّئَةٍ وَكَانَتْ لَهُ حِرْزًا مِنَ الشَّيْطَانِ يَوْمَهُ ذَلِكَ حَتَّى يُمْسِيَ وَلَمْ يَأْتِ أَحَدٌ بِأَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهِ إِلاَّ أَحَدٌ عَمِلَ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ. ( البخاري )

د عامو ذکرونو څخه مو مراد هغه ذکرونه دي کوم چي رسول الله صلى الله عليه و سلم يې ځانګړي فضيلتونه او ثوابونه ذکر کړي دي خو ځاى ، وخت او مقدار يې نه دی بيان کړی، هغه اذکار هر مهال په هر مقدار ويل کيدلاى سي.

د جنت خزانه: **لاَ حَوْلَ ، وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ** .[1]

پر يو ځلي ويلو يې شل نيکۍ : **سبحان الله.**

پر يو ځلي ويلو يې شل نيکۍ : **الله أكبر**

پر يو ځلي ويلو يې شل نيکۍ : **لا إله الا الله**

پر يو ځلي ويلو ديرش نيکۍ : **الحمد لله رب العالمين(٢)**

---

[1] عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، قَالَ : لَمَّا غَزَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم خَيْبَرَ ، أَوْ قَالَ : لَمَّا تَوَجَّهَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم ،أَشْرَفَ النَّاسُ عَلَى وَادٍ فَرَفَعُوا أَصْوَاتَهُمْ بِالتَّكْبِيرِ اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم ارْبَعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ إِنَّكُمْ لاَ تَدْعُونَ أَصَمَّ ، وَلاَ غَائِبًا إِنَّكُمْ تَدْعُونَ سَمِيعًا قَرِيبًا وَهْوَ مَعَكُمْ وَأَنَا خَلْفَ دَابَّةِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَسَمِعَنِي وَأَنَا أَقُولُ لاَ حَوْلَ ، وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ فَقَالَ لِي يَا عَبْدَ اللهِ بْنَ قَيْسٍ قُلْتُ لَبَّيْكَ رَسُولَ اللهِ قَالَ أَلاَ أَدُلُّكَ عَلَى كَلِمَةٍ مِنْ كَنْزٍ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ قُلْتُ بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي قَالَ : لاَحَوْلَ ، وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ.(البخاري)

[2] عن أبي سعيد الخدري وأبي هريرة ان رسول الله صلى الله عليه و سلم قال : ان الله أصطفى من الكلام أربعا سبحان الله والحمد لله ولا إله الا الله والله أكبر فمن قال سبحان الله كتب الله له عشرين حسنة أو حط عنه عشرين سيئة ومن قال الله أكبر فمثل ذلك ومن قال لا إله الا الله

پر ژبه اسانه ، په ترازو کي درنې، الرحمان ته محبوبي کلمې: **سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيم** .[1]

کله د مرشد لخوا مرید ته د یو خاص ذکر سبق د باطني امراضو د علاج لپاره ورکول کیږي؛ ځکه د الله نومونه هر نوم ځان ته بېل بېل تاثيرات لري يعني لکه څه ډول چي په دم د جسماني ناروغيو علاج کيږي د الله تعالی د اسماء او صفاتو په ذکر د باطني امراضو علاج هم کيږي مثلا د ځينو کسانو د تجربو له مخي د يا قهار يا قهار په ورد د کبر او لويي علاج کېدلای سي يعني په بنده کي عجز او تواضع را پيدا کيږي، خو دا د علاج تر خنګ ذکر هم دی ځکه د ذکر په نيت يې بايد ورد وسي ، نو دا کس هم د دغه مبارک ايت فاذکروني اذکرکم مصداق ګرځي.

خلورم اکرام مسلم: د تبليغي جماعت د تربيتي نصاب خلورم مضمون د مسلمان اکرام دی ، رسول الله صلی الله عليه و سلم هغه مسلمان کامل مسلمان بللی دی چي د هغه د ژبي او لاس څخه مسلمانانو ته ضرر نه رسيږي .[2]

---

**فمثل ذلك ومن قال الحمد لله رب العالمين من قبل نفسه كتبت له ثلاثون حسنة وحط عنه ثلاثون سيئة مسند احمد حنبل تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط مسلم**

[1] **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم : كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيم.(البخاري)**

[2] **عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ : الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللَّهُ عَنْهُ.(البخاري)**

د اسلامي ټولني لپاره ډېره اړينه ده چي مسلمانان خپل منځ کي يو د بل اکرام او احترام وساتي ، په متقابل احترام د کورنيو او ټولني ډيري ناخوالي له منځه ځي ، که د ښځي او ميړه تر منځ ، د اولادونو او والدينو تر منځ ، د وروڼو او خويندو تر منځ ، د کورنۍ د افرادو تر منځ ، د محل او کوڅې د خلکو تر منځ متقابل احترام وجود ولري ، يو د بل اکرام وکړي، نو هيڅکله به هم دغه کسان يو د بل توهين او سپکاوی و نه کړي ، نه به يو د بل حقوق پايماله کړي او نه به هم يو و بل ته د ضرر رسولو هڅه وکړي ، په تبليغي جماعت کي خلکو ته د نورو مسلمانانو د اکرام انګيزه او عملي مشق ورکول کيږي .

پنځم اخلاص: د تبليغي جماعت د اصلاح او تزکيې يو مهم اړخ اخلاص او صحيح نيت دی ، د اخلاص په مقابل کي ريا او سمعه ده ، مسلمان په صحيح نيت پر عادت ثواب لاس ته راوړلای سي ، د دې بر عکس په ريا او سمعه د عبادت د ثواب څخه محروميږي.

که څوک د کلمې په ويلو کي مخلص نه وي، د ځان او مال د خوندي کولو په غرض کلمه وايي او په زړه کي د الله تعالى وحدانيت او د محمد عليه السلام رسالت نه مني، که څه هم په دنيا کي پر دغه کس د مسلمان احکام جاري کيږي خو د نه اخلاص لکبله د دوږخ په کښته طبقه کي تر ښکاره کافرانو سخت عذاب د تل لپاره ورکول کيږي .[1]

---

[1] إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ وَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا (النساء–١٤٥)

که څوک لمونځ او نور عبادات په اخلاص نه کوي ، نورو ته د ځان ښکاره کولو او شهرت لپاره یې کوي پر دغه لمانځه او عباداتو په آخرت کي هيڅ ثواب نه ورکول کيږي، حتی د ذلت او جهنم سبب ئې ګرځي.

همداسي که یو عالم په صحیح نیت علم حاصل نه کړي بلکي تعلم او تعلیم یعني زده کړه او ښوونه د عزت ، شهرت او نورو دنيوي اغراضو لپاره کوي دا کس د هغو درو ډلو په جمع کي راځي چي د قیامت په ورځ تر ټولو مخکي د جهنم فیصله پر کيږي ، په ډېر ذلت تر پښو کشيږي د جنهم کندي ته غورځول کيږي [1].

صحیح نیت او اخلاص د اصلاح او تزکيې اساسي رکن دی، په تبلیغي جماعت کي د صحیح نیت او اخلاص انګيزه او عملي مشق خلکو ته ورکول کيږي، د تشکیل ملګري هم په خپلو منځونو کي یو او بل دې ته هڅوي چي د هر عمل مخکي نیت اصلاح کړي ، هر قدم په صحیح نیت پورته کړي.

شپږم دعوت او تبلیغ: د تبلیغي جماعت په تربيتي نصاب کي شپږم شی چي ډېر تركيز پر کول کيږي، هغه په خلکو کي د دعوت او تبلیغ انګیزه او احساس را پیدا کول او د دعوت او تبلیغ عملي مشق او تمرین دی.

---

[1] وَرَجُلٌ تَعَلَّمَ الْعِلْمَ وَعَلَّمَهُ وَقَرَأَ الْقُرْآنَ فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا قَالَ تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ وَعَلَّمْتُهُ وَقَرَأْتُ فِيكَ الْقُرْآنَ. قَالَ كَذَبْتَ وَلَكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِلْمَ لِيُقَالَ عَالِمٌ. وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ لِيُقَالَ هُوَ قَارِئٌ. فَقَدْ قِيلَ ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ.(مسلم)

د دعوت او تبليغ ساحه ډېره پراخه ده ، مؤمنان به په خپل منځ کي يو او بل په ښو امر کوي، د بدو څخه به يې راګرځوي او کافران به ايمان ته دعوتوي.
دعوت او تبليغ يوازي د علماؤ وظيفه نه ده بلکي عوام هم د دعوت او تبليغ وظيفه انجامولای سي؛ خو لکه څنګه چي يو عالم تر خپلي علمي سويې، په لوړو مسايلو کي شرعا نسي ږغېدلای، بلکي فقط پر هغو موضوع ګانو او مسايلو بحث کولای سي، چي د ده سره يې صحيح علم او معلومات وي ، عوام هم دغه ډول فقط د دين هغه خبري کولای سي چي د هغو سره يې صحيح علم او معلومات وي.
اذان دعوت دی ، څکه تر اذان وروسته په دعا کي اذان ته الدعوة التامة ويل سوی دی( )، په اذان کي (حی علیٰ الصلاة) [1] سته، يعني لمانځه ته راځئ ، نو يو کس چي بل کس ته ووايي : لمانځه ته راځه يا يې بل د خير کار ته په همداسي ساده الفاظو دعوت کړي، مثلا ورته وايي : اولادونه دي په مدرسه کي شامل کړه دا هم دعوت بلل کيږي.
په تبليغي جماعت کي چي عوامو ته د دعوت او تبليغ انګيزه او عملي مشق ورکول کيږي، د هغه دا معنی نده چي يو امي دي څلوېښت ورځي په تبليغ کي ووځي، هغه دي بيا پر منبر دريږي د علماؤ په شان دي قراني ايتونه او

---

[1] عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ : مَنْ قَالَ حِينَ يَسْمَعُ النِّدَاءَ اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلاَةِ الْقَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ حَلَّتْ لَهُ شَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ.(البخاري)

نبوي احاديث بيانوي، په ځلوينبتو ورځو کي پريږده، حتی په کال هم څوک نسي عالم کېدلای.

نو په تبليغي جماعت کي عوامو ته د هغوی د سويې او معلوماتو په کچه د دعوت او تبليغ انگيزه ورکول کيږي.

ډېر خلک خپل لمونځونه کوي؛ خو خپله ښځه او اولادونه لمانځه ته نه هڅوي ، په سفر ، کار ځای يا ميله کي ملگري ورسره وي ، دی د جماعت لمانځه ته ځي خو پر ملگرو ږغ نه کوي.

همدا کس که په تبليغ کي وخت ولگوي ، د دعوت او تبليغ احساس به پکښي پيدا سي ، بيا به په ډېره نرمه لهجه د جماعت د فضايلو په بيانولو خپل زامن او د کور دباندي ملگري او نور کسان د جماعت لمانځه ته دعوتوي، خپله ښځه، لوڼي او د کورنۍ نور افراد به په نرمه لهجه د لمانځه او نورو نيکو عملونو په فضايلو خبروي.

دغه کار ته هم دعوت ويل کيږي، د اذان د دعوت په کلماتو کي - حي علي الصلاة - هم سته، يو امي ته چي د جماعت د لمانځه فضيلت معلوم سي چي يو لمونځ يې د اوويشتو لمونځونو ثواب لري( [1])، نو ده ته جايز ده، بلکي پر لازمه ده چي دغه د نبوي حديث مفهوم نورو ته ابلاغ کړي.

---

[1] عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « صَلاَةُ الْجَمَاعَةِ أَفْضَلُ مِنْ صَلاَةِ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً (مسلم)

په اختتام کي په لنډ ډول ويلای سو چي اصلاح او تزکيه د کامل شيخ په بيعت، د سلفو صالحينو د مناقبو په لوستلو، د باتقوا جيدو علماء کرامو سره په تعلقاتو ساتلو ، د هغوی د مواعظو په مجالسو او په تعليمي حلقو کي په ګډون کولو ، د تعليم الاسلام راډيو لخوا د هغوی د بيانونو او خپرونو په اورېدلو او په تبليغي جماعت کي په وتلو ان شاء الله تعالی حاصل کېدلای سي ، البته دا هر څه به د ځان د اصلاح په نيت کول کيږي ، پر دې برسيره مسلمان د مسلمان لپاره هنداره ده ، نو د داسي کسانو سره هم ملتيا په کار ده چي د اصلاح په غرض د نورو په غياب کي د ده عيبونه ورته په ګوته کړي بلکي دی بايد هغه دې ته وهڅوي چي شرعي او اخلاقي نيګړتياوي يې ورته په ګوته کړي .

علماء کرام د ځان د اصلاح او تزکيې يوه نسخه دا هم ګڼي چي سړی بايد د نورو انسانانو کارونو او خويونو ته تل ځير واوسي د هغوی هر کړه وړه چي ده ته ناسم ونښکاري البته شرعا هم هغه بد وي د هغو کارونو او خويونو څخه ځان وژغوري ، او کوم کارونه او خويونو چي يې د تحسين وړ او ښه وي هغو ته په ځان کي انعکاس ورکړي ، اند تر دې چي د مخالفينو او معاندينو اعتراضات او افتراوي هم په غور مطالعه کړي ، کېدلای سي په هغو کي ځيني رښتيني حقايق وي يعني هغه عيبونه او نيمګړتياوي چي معاند يې د ده د بدنامه کولو په غرض بيانوي هغه واقعا په ده کي موجود وي ، نو د هغو د اصلاح هڅه بايد وکړي .

الله تعالی دي وکړي چي د طلايي لړۍ د پنځمي شمارې په لوستلو مو د مريد مقصودي منزل پيژندلی وي او د چا مريد سم پوښتني ته مو صحيح جواب مندلی وي .

**رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ و الحمد لله رب العالمين.**

د چا مريد سم ؟ د کتاب تبيض د سه شنبې په ماخستن د ۱۳۹۸ کال د قوس په ۵مه نيټه مطابق ۲۹ د ربيع الاول ۱۴۴۱ تکميل سو.

مؤلف : مولوي محمد عمر خطابي عفا الله عنه و عن والديه و ذريته و اهل بيته اجمعين آمين ثم آمين.

# د تعلیم الاسلام راډیو د ۱۳۹۸ کال دقوس میاشتي د روانو خپرونو نوملړ

| شماره | نـــــوم | محتـــــــوا | بڼه / شکل |
|---|---|---|---|
| ۱ | تفسیر الجلالین | تفسیر الجلالین په اونۍ کي پنځمه ورځي د شنبي څخه بیا تر چهارشنبې تدریسیږي طلباء او اورېدونکې یې د کتاب له مخي تعقیبوي. | سهار په ژوندۍ بڼه ماخستن تکرار |
| ۲ | نبوي احادیث | مشکاة المصابیح په اونۍ کي پنځمه ورځي د شنبې څخه بیا تر چهارشنبې تدریسیږي طلباء او اورېدونکې یې د کتاب له مخي تعقیبوي. | سهار او ماخستن |
| ۳ | د منبر اواز | پر مختلفو موضوع ګانو د جیدو علماء کرامو د جمعې د ورځي اصلاحي او معلوماتي بیانونه. | سهار او ماښام |
| ۴ | شرعي پوښتني او جوابونه | د اوریدونکو ږغیږي شرعي پوښتني او د تعلیم الاسلام د دارالافتاء لخوا یې ږغیږ جوابونه. | ثبتي |
| ۵ | د هر کور مدرسه ( دوهمه برخه ) | د منځنۍ مستوا لپاره تدریسي کتابونه لکه: التسهیل الضروري، العربیة بین یدیک، ریاض الصالحین. | ثبتي |
| ۶ | د هر کور مدرسه | د کښتې مستوا لپاره تدریسي کتابونه لکه: فقه المبتدي، نوراني قاعده ... | ثبتي |
| ۷ | د قران کریم ترجمه | په عام فهمه ډول د قرانکریم ترجمه په اونۍ کي پنځه ورځي د شنبي څخه ترچهارشنبي. | ثبتي |
| ۸ | مسافر مع القران | د نړۍ د ګوټ ګوټ د خیرکو حافظانو د مرکو پښتو ژباړي. | ثبتي |
| ۹ | اصلاحي پیغامونه | د اوریدونکو اصلاحي پیغامونه د ټلیفون پر لیکه | ژوندۍ |
| ۱۰ | د زړه نړۍ | د زړه د بدو صفاتو پېژندنه د هغو تاوانونه او د علاج طریقه یي. | ثبتي |
| ۱۱ | فضائل الاعمال | نیک عملونه او د هغو ثوابونه او ګټي. | ثبتي |
| ۱۲ | نبوي معجزې | د نبي کریم علیه السلام د نبوت د اثبات دلایل. | ثبتي |
| ۱۳ | یو دقیقه سیالي | پر یوه موضوع اوریدونکی په یوه دقیقه کي نظر وړاندي کوي ښه نظر ورکونکي ته د هغه د خوښي ترنم خپریږي. | ژوندۍ |
| ۱۴ | د بریا لار | د ژوند په بیلابیلو اړخونو کي د کامیابۍ لارښووني. | ژوندۍ |
| ۱۵ | شخصیت جوړونه | د وخت سمبالول، فکر جوړول او غوره اعمال تر سره کول. | ثبتي |
| ۱۶ | نن مو څه زده کړل؟ | اوریدونکو چي څه زده کړي د هغو معلومات د تلیفون پر کرښه د نورو سره شریکول. | ژوندۍ |

| شماره | نوم | محتوا | بڼه / شکل |
|---|---|---|---|
| ۱۷ | پیام منبر | په درې ژبه  د بیلابیلو جیدو علماء کرامو وعظونه. | ثبتي |
| ۱۸ | د اسلام تاریخ | د اسلام له پیل څخه تر اوسنی زماني اسلامي تاریخ. | ثبتي |
| ۱۹ | سبل السلام | د علماء کرامو د وعظونو لنډي ټوټي او ګټور مضامین. | ثبتي |
| ۲۰ | نجوم السماء | د صحابه کرامو د لنډ سیرت تر بیان وروسته د اوریدونکو څخه په ژوندی بڼه پوښتني. | ژوندی |
| ۲۱ | د ایمان ښایست | د حیاء اهمیت او په اړه یې ګټور معلومات. | ثبتي |
| ۲۲ | د ژوند لارښود | د ښه ژوند او د ژوند څخه د خوند اخیستلو لارښووني. | ثبتي |
| ۲۳ | حقوق پېژندنه | د مسلمانانو د خپل مینځي حقوقونو پیژندنه او درناوی. | ثبتي |
| ۲۴ | اسلامي سیاست | د اسلامي سیاست ګټې، ارزښتونه او ځانګړتیاوې. | ثبتي |
| ۲۵ | د کامیابۍ راز | د بیلابیلو معاملاتو او کارونو ارزونه ، منفي او مثبت اړخونه او په اړه یې د علماء نظرونه او حل لارې. | ژوندی |
| ۲۶ | پاشلي ملغلري | په زړه پوري جالبي او زده کړیزي ویناوي. | ثبتي |
| ۲۷ | حیات الابرار | د صحابه کرامو رضي الله عنهم لوړ صفات ، د ژوند حالات او دیني خدمات. | ثبتي |
| ۲۸ | سیرت نبوي | په دري ژبه د نبي کریم علیه السلام  د ژوند حالات. | ثبتي |
| ۲۹ | تنکي فکرونه | د تنکیو ماشومانو څخه دیني سوالونه او د هغوی جوابونه. | ژوندی |
| ۳۰ | د تاریخ پاڼه | د غزاګانو څخه تر صلیبي جنګونو تاریخي قیصې. | ثبتي |
| ۳۱ | الجنة في بیوتنا | د کورني نظام اصلاح، د کور د غړو اسلامي تربیه، او د خپل مینځي اړیکو سمون. | ثبتي |
| ۳۲ | حدیث پېژندنه | د حدیثو ډولونه، احکام او نور اړوند ضروري معلومات. | ثبتي |
| ۳۳ | علمي مباحثې | پر بیلابیلو موضوع ګانو د جیدو علماء کرامو سره مرکې. | ثبتي |
| ۳۴ | حقوق العباد | د مسلمانانو فردي او اجتماعي حقوق او په اړه یې د علماؤ لارښوني. | ژوندی |
| ۳۵ | د هدایت پلوشې | په زړه پوري ویناوي او لنډي عبرت ناکه قیصې. | ثبتي |
| ۳۶ | د ایمان سیوري | د ایمان پېژندنه، د ایمان ساتنه او د ایمان اړوند معلومات. | ثبتي |
| ۳۷ | حیات الصحابه | د صحابه کرامو د ژوند، قربانیو او خدمتونو معلومات. | ثبتي |
| ۳۸ | ادبي لحظې | د اوریدونکو شعرونه ، ادبي ټوټې او نظمونه. | ژوندی |

| بڼه / شکل | محتـــــوا | نـــوم | شماره |
|---|---|---|---|
| ثبتي | د ماشوم د سالمې روزنې او تربيت اصول او اداب. | ماشوم روزنه | ۳۹ |
| ثبتي | د کبيره گناهونو پېژندنه او د هغو څخه د خلاصون لارې. | کبيره گناهونه | ۴۰ |
| ثبتي | د رسول الله صلی الله عليه و سلم ښکلې صفات او عادات. | امام المرسلين | ۴۱ |
| ثبتي | د فکري انحراف پېژندنه، د انحراف عوامل او د اصلاح حل لارې يې. | مستقيم مسير | ۴۲ |
| ثبتي | د رسول الله عليه السلام د ژوند تفصيلي معلومات. | نبوي سيرت | ۴۳ |
| ژوندی | په ديني موضوع گانو کې د ماشومانو خپل مينځي سيالي او يو د بل څخه پوښتنې. | ماشوم مو څه وايي؟ | ۴۴ |
| ژوندی | د اورېدونکو سره په عربي ژبه پر يوه موضوع مباحثه. | لسان القران | ۴۵ |
| ژوندی | د طلباء کرامو څخه په ديني مضامينو کې بيلابيلې پوښتنې او د هغوی جوابونه. | علمي سيالي | ۴۶ |
| ژوندی | د ټولنيزو شبکو څخه په زړه پورې جالبې ليکنې. | گلبڼ | ۴۷ |
| ثبتي | د نوو مسلمانانو مستندي قيصې او د اسلام منلو څخه مخکې او وروسته يې هغه حالات او نظريات چې دوی خپله بيان کړې دي. | زه ولې مسلمان سوم؟ | ۴۸ |
| ثبتي | د جنت ښکلا ، نعمتونه او د ورتلو لاره؟ | د جنت منظر | ۴۹ |
| ثبتي | د الله تعالی د ۹۹ نومونو معناگانې او د ذکر گټې يې. | اسماء الحسنی | ۵۰ |
| ثبتي | د اورېدونکو د قرائت تصحيح د تجويد اجراء او قواعد. | دارالقراء | ۵۱ |
| ژوندی | د خانگړو ناروغيو په اړه د ډاکټرانو مشورې او لارښوونې. | روغتيا پالنه | ۵۲ |
| ژوندی | د حافظانو څخه د قرانکريم په بيلابيلو سورتونو کې د حفظ پوښتنې او د هغوی لخوا يې جوابونه. | د حفظ سيالي | ۵۳ |
| ثبتي | د نيکبختو ميرمنو صفات او د صحابياتو رضي الله عنهن قصې. | جنتي مېرمن | ۵۴ |
| ثبتي | په قراني ايتونو او نبوي دعاگانو د مختلفو جسماني او روحاني ناروغيو علاج او درملنه. | روحاني علاج | ۵۵ |
| ثبتي | بيلابيلې لنډې وېناوې او جالبې عبرتي قيصې. | د گلونو گېډۍ | ۵۶ |
| ثبتي | په دري ژبه د صحابه کرامو ژوند ، تقوا او اسلامي خدمات. | زندگاني صحابه | ۵۷ |
| ژوندی | د کانکور د اماده گۍ لپاره په کانکور کې احتمالي سوالونه او د هغو جوابونه. | عصري پوهه | ۵۸ |
| ژوندی | د اوريدونکو د خوښې وړ ترنم د هغوی په غوښتنه ورته نشرول. | د ترنم نړۍ | ۵۹ |
| ژوندی | د صحيح کاروبار طريقې او گټې او د غلط کاروبار گناه او ټولنيز زيانونه. | کاروبار | ۶۰ |

# د پښتو ګټهور تدریسي کتابونه

لاندي کتابونه هم د مولوي محمد عمر (خطابي) له خوا تصنیف سوي دي

## طلایي لړۍ

(۱) د تکفیر لاملونه

(۲) حنفي او غیر حنفي

(۳) د فضیلت پګړی

(۴) د دعوت بهیر

(۵) همدا اثر ( د چا مرید سم؟)

---

(۱) فقه المبتدي ۳ جلدونه پښتو (۱ عبادات ۲ نکاح ۳ معاملات)

(۲) معرفة الحدیث في مصطلح الحدیث ( پښتو)

(۳) تمهید الصرف (پښتو)

(۴) د حج ښه ملګری

(۵) هم سفر حج (دري)

(۴) د اول صنف مکمل نصاب لکه: تعلیم القرآن، اسلامیات، ادبناکه هلک، د لیک مشق او حساب.

(۵) د دوهم صنف مکمل نصاب لکه: هدایة الاطفال، تادیب الاطفال، د لیکني مواعظ او حساب

د پورتنیو کتابونو تدریس په دیني مدارسو او مساجدو کي

ډېر ګټهور ثابت سوی دی

www.taleemulislam.net